لس کلنه امریکایي ډیموکراسي

او

افغاني سیاسي بې وسي

Ketabton.com

د مقالو ټولګه

افغاني کلتوري ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیمینار د مقالو ټولګه

لس کلنه امریکایي ډیموکراسي او افغاني سیاسي بې وسي

۱۳۹۰ لمریز لېږدیز

(c) ketabton.com: The Digital Library

لس کلنه امریکایي ډیموکراسي او افغاني سیاسي بې وسي

لیکوالان:	ببلاببل
اهتمام:	ډاکټر سید نصیر احمد
ډیزاین:	سید عبدالله ولي زی
خپرندوی:	په نیدرلند کې افغاني کلتوري ټولنه
د چاپ نوبت:	لومړی
چاپ شمېر:	۱۰۰۰ ټوکه
چاپ ځای:	ننګرهار
چاپچاري:	مومند خپرندویه ټولنه
چاپ کال:	۱۳۹۰ لمریز لېږدیز
برېښنا پاڼه:	http://www.acvn.nl
برېښنالیک:	acvn.nl@hotmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپرندویې ټولنې یـــادښت

د لوی څښتن په نامه

درنو هېوادوالو !

تاسو ته څرګنده ده چې په افغانستان کې دا دي لس کال کېږي چې یوه غیر حقوقي، غیر اخلاقي او ورور وژونکې یوه وحشیانه جګړه روانه ده، چې زمونږ ټول افغانستان یې په اور کې لمبه کړی دی.

د هېواد په هر ګوټ کې جګړې داسې بدمرغۍ رامنځ ته کړې دي چې په لکهاوو خلک یې له منځه یوړل، معیوب ، معلول او یتیم یې کړل، مېرمنې یې را ته کونډې کړې او میندې بوري، زمونږ په هېواد کې دننه په میلیوناوو خلک مهاجر شول او د پردېسي شپې په کنډوالو، نمجنو خاورو او سورویو سورویو کېږدیو کې تېروي.

نن سبا د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې د مهاجرینو کمپونه موجود دي، چې کابل د افغانستان پلازمینه هم له دغو کمپونو استثنا نه ده او د کابل په زړه او نورو سیمو کې خلک له غربت او له بدمرغیو سره لاس او ګرېوان دي او په کمپونو کې د ناچاري ژوند تېروي، چې د ژوندون عادي سهولتونه خو څه کوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې حتی د ورځې د یو څابنت د خوړلو ډوډۍ هم نه لري، نو ځکه د ملګرو ملتو په وینا اوسمهال په افغانستان کې تر ۲۰ میلیونو زیات وګړي د لوږې له ګوابښ سره مخامخ دي.

په افغانستان د امریکایي تیري د لسمې کلیزې په درشل کې افغاني کولتوري ټولنې دا وپتېیله، چې د افغاني غمیزې په اړه یو یو ورځنی پوهنیز سیمینار جوړ کړي او د افغانستان د سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او تر ټولو غوره د دویم بن د کانفرانس په درشل کې د افغانستان د خپلواکي او راتلونکي په اړه د پوهانو نظریات راټول کړي او په سیمینار کې یې له نورو هېوادوالو سره شریک کړي.

په نیدرلند کې افغاني کولتوري ټولنه دې موخې ته د رسېدلو لپاره د ۲۰۱۱ میلادي کال د اوکتوبر په ۸ نېټه، چې د امریکا ځواکونو د یرغلي ډیموکراسۍ لسیزه پوره شوه، د نیدرلند د ملک د نیوخین په ښار کې یو یو ورځنی سیمینار جوړ کړ، چې په سیمینار کې یو شمېر بهر مېشتو افغاني پوهانو خپل نظریات نورو افغانانو ته واورول او په سیمینار کې د موضوع په اړه یو شمېر لیکنې له افغانستانه هم تر لاسه شوې وې، چې لنډیز یې واورول شو او د سیمینار پربکړه هم د دغو پوهانو او لیکوالو د نظریات پر بنسټ تر سره شوه.

په نیدرلند کې افغاني کولتوري ټولنه په دې آند ده، چې د افغانستان د اوسني حالت په اړه د علمي سیمینارونو جوړول یو ګټور ټولنیز اغېز درلودلی شي. په سیمینار کې کېدی شي د بېلابېلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهانو او په معظله کې د ښکېلو خواو نظریات تبادله شي او د ټولنې په ګټه د ملي ارزښتونو په پام کې نیولو سره مناسبې پرېکړې تر سره شي او په ټولنه کې د خلکو د نېکمرغي لپاره پلې شي.

علمي سیمینارونه پرته له دې چې د مدني ټولنو د فعالیتونو یو ټولنیز انځور رامنځ ته کوي، مګر د دې تر څنګ په یو سیمینار کې د ټولنیز ژوند بېلابېل نظریات تبادله کېږي او د نسلونو تر منځ د اړیکو یوه ټولنیزه رښتیا رامنځ ته کېږي او د سیمینار سکالو او د پوهانو نظریات د ځوانانو لپاره د روزنې او پوهاوي یو مخکښ مشال ګرځېدلی شي.

په نیدرلند کې افغاني کولتوري ټولنه په افغانستان کې او بهر مېشتو هېوادونو کې مدني ټولنو ته وړاندیز کوي، چې خپلې هلې ځلې د افغانستان د خلکو د نیکمرغي لپاره همغږي کړي او د ځوان نسل په روزنه کې پیاوړي ګامونه اوچت کړي، ځکه چې د هېواد په پرمختګ کې ځوان نسل یو غوره ټولنیز پوتانسیال ګڼل کېږي.

په نیدرلند کې افغاني کولتوري ټولنه له ټولو افغاني پوهانو، لیکوالو، شاعرانو او ټولنیزو مخکښو نه، چې د دغه سیمینار په جوړولو کې یې برخه اخیستې وه او په دغه سیمینار کې یې ګډون کړی ؤ، مننه کوي.

په درنښت

په نیدرلند کې افغاني کلتوري ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولیک

سرلیک ---------- مخونه

یادونه ..... ط
د سیمینار د برخه والو پریکړه لیک ۱
Resolution 4
لس کلنه امریکایي ډیموکراسي او افغاني سیاسي بڼه وسي ۷
د افغانستان په اړه د بن نړیوال کنفرانس ته د افغان مدني ټولنو د همغږۍ د جرګې وړاندیز ۱۸
د افغانستان د سولې، بیارغونې او کلتور د کمیټې پیغام ۲۴
د غرغښت خیرښېګڼې ټولنې پیغام ۲۷
د افغانانو د لسیزو بدمرغي که د سیاسي کړیو بڼه وسي ۲۹
د افغانستان د جګړې ستراتیژیک اړخ ۴۳
یا به ټولښرو یا به ورکښرو ۵۵
ډیموکراسي که واک سالاري ۶۰
ستراتیژیکي ټرون/ ستراتیژیکي اعلامیه ۶۴
ستراتیژیکي اړیکې او ګاونډیان ۶۸
له لومړي بن تر ننه؛ د نړیوالې ټولنې د توطیو بهیر ۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرلیک ---------- مخونه

افغانستان و بن دوم ! ۱۲۹
از طولانی ترین جنگ و افسانه انتقام ۱۵۱
پوزیسیون و اپوزیسیون در استانه بن دوم ۱۲۳
سیاسي ګوند څنګه جوړېدلای شي؟ ۱۷۲
د ټول افغانستان ولسي ټرون ۱۸۹
د اکتوبر اوومه، د ولس په غمیزه کې یوه بله توره ورځ ۱۹۲
یوه لسیزه، لویه غمیزه ۲۰۱
لس کاله وینې او اورونه ۲۰۲
د افغانستان جیوپولیتیک یا ستراتیژیک موقعیت ۲۱۵
واکمنان دې د ملت پریکړې ملت ته پریږدي ۲۴۲
د افغانستان په ستونزو کې اقتصادي څرک ۲۴۹
افغانستان د اپارتاید په لومه کې ۲۶۳
Geweldspiraal in Afghanistan (په هالندي ژبه) ۲۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه

د لوی او ښونکي څښتن په نامه

په نیدرلند کې افغاني کولتوري ټولنې په افغانستان کې د امریکایي تیري د لسمې کلیزې په اړه یو یو ورځنی علمي سمینار جوړ کړی و، چې ګڼشمېر پوهانو، په اروپا کې د مدني ټولنو استازیو او ګڼشمېر مینوالو ګډون پکې کړی و او په سیمینار کې یې فعاله ونډه درلوده.

په سیمینار کې د تېرو لسو کلونو په اړه هر اړخیزه ویناوې وشوې، د یو شمېر لیکنو لنډیز وړاندې شو او د یو شمېر ټولنو پیغامونه واورول شول، چې د سیمینار په پای کې له مباحثې وروسته د سیمینار پربکړه هم تصویب شوه.

په نیدرلند کې افغاني کولتوري ټولنې د سیمینار د موادو په اړه پربکړه وکړه، چې د ټولګې په ښه یې خپاره کړي، چې د سیمینار مواد د یو غوره اخځلیک به ښه وکارول شي او دغه ټولګه د افغانستان او بهر مېشتو افغاني پوهانو د تفاهم رښکی وګرځي.

د سیمینار په ټولګه کې لومړی د سیمینار پربکړه په پښتو او انګرېزي راغلې او له هغې وروسته د سیمینار بشپړ راپور راغلی دی. د کتاب اساسي برخه د نورو ټولنو پیغامونو، د ویناوالو لیکنو او هغو لیکنو ته چې د سیمینار اداري ته د لیکوالو لخوا رالېږل شوې وې، ځانګړې شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د وروستۍ لسیزې سیاسي، امنیتي او ټولنیزې پېښې ډېرې مهمې او د افغانستان په اړه حیاتي موضوع ګڼل کېږي ، ځکه نو په دغه ټولګه کې همدا ډول هغه لیکنې چې د موضوع اړوند وې اود سیمینار په اونۍ کې په برېښنا پانو کې خپرې شوې وې، د دغه ټولګې په وروستۍ برخه کې ځای په ځای شوې دي.

په دغه ټولګه کې یوه لیکنه په هالنډي ژبه هم خپره شوې ده، چې د افغانستان د ورستیو څو لسیزو یو ټولیز انځور رابرسېره کوي، مګر ډېره برخه یې د وروستۍ لسیزې ناخوالو، چې پر افغانستان د امریکایي ځواکونو له یرغل سره نېغ تړاو لري، په اړه ده او د لس کلنې جګړې د ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي ناخوالو پایلې پکې څرګندې شوې دي.

په نیدرلند کې افغاني کولتوري ټولنه په دې آند ده، چې د سیمینارونو په اړه د لیکنو د پوهنیزې ټولګې خپرول کېدی شي د افغانانو په مالوماتي ډګر کې یو جوت ګام وګڼل شي، په دې توګه افغاني څېړونکي کولی شي د افغاني پوهانو، هڅاندو او ټولنیزو مخکښو نظریات په آسانه توګه تر لاسه کړي او د افغانستان په سیاسي، ټولنیز او کولتوري برخه کې سمې او ګټورې پرېکړې وکړي او په ټولنیز ژوند کې یې پلي کړي.

أمین

و من الله التوفیق

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیمینار د برخه والو پریکړه لیک

پریکړه لیک

د ۲۰۱۱ د اکتوبر په اتمه نېټه د هالنډ د نیوخاین (Nieuwegein) په ښار کې په نیدرلند کې د افغاني کلتوري ټولنې په نوښت او په اروپا کې د یو شمېر کلتوري ټولنو په ګډون په افغانستان کې د سولې د راتلو او ټینګښت په هکله یو علمي سمپوزیم د «لس کلنې امریکایي ډیموکراسي او د افغانستان د سیاسي بې وسي» تر عنوان لاندې جوړ شو. د سمپوزیم برخه والو لاندې پریکړې تصویب کړې:

۱- په افغانستان کې د سولې راتلو او ټینګښت لپاره اړینه ګڼو چې په جنګ کې ښکیلې خواوې د خبرو اترو میز ته کېنول شي. د افغانستان د ستونزو د سوله ییز بهیر لپاره وړاندیز کېږي چې افغاني وسلوالو مخالفینو ته دې د بن په دویم کنفرانس کې د ګډون واک ورکړل شي.

۲- د غونډې د ګډونکوونکو په اند سوله د یو لنډ مهاله حکومت چې ټولو غاړو ته د منلو وړ وي، په جوړېدو رامنځ ته کېدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی حکومت دنده لري چې د وسله والو مخالفینو او نورو ښکېلو ډلو سره خبرې اترې وکړي.

۳- د غونډې ګډونکوونکي اړینه ګڼي چې د یوې سالمې ټولنې او نظام د جوړېدو په موخه دې په جنګي جنایاتو تورن کسان او د بشر له حقوقو سرغړوونکي دې د ملي او نړیوالو مراجعو له خوا تر تحقیق، تعقیب او محاکمې لاندې ونیول شي.

۴- د غونډې ګډونکوونکي د ډیورنډ کرښه په رسمیت نه پیژني او د نړیوالې ټولنې او په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو د سازمان څخه غوښتنه کوي چې په دغه برخه کې د افغانانو سره مرسته وکړي او د حل یوه عادلانه لاره پیدا کړي.

۵- مورږ غواړو چې بهرنۍ قواوې دې په تدریجي او سالم ډول د افغانستان څخه په داسې حال ووځي چې د افغانستان ملي اردو او پولیس په خپلو پښو ودرول شي او په افغانستان کې د بهرنیو مرستو پر بنسټ د امنیت د ټینګولو وړتیا ولري.

۶- بهرنیو اډو ته ځای ورکول یانه ورکول د افغانانو حق دی. د بهرنیو اډو په اړه پریکړه د لویې جرګې د راغوښتلو او یا د ټول پوښتنې (ریفیرنډم) د لارې په بشپړ ډیموکراتیک ډول او د سیاسي ثبات په شتون کې ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- په تېرو دېرشو کلونو کې د افغانستان اقتصادي نظام د بهرنیو هېوادونو د تیریو او په افغانانو د راتپل شوې جګړې له امله سخت زیانمن شوی دی. په اوسنیو شرایطو کې افغانستان د بهرنیو اقتصادي مرستو ته اړتیا لري. د افغانستان د اقتصادي ستونزو په اړه نړیواله ټولنه باید خپل مسؤلیت ترسره کړي ترڅو په هېواد کې د سولې او پرمختګ لپاره لاره هواره شي.

۸- د غونډې برخه وال دې پریکړې ته ورسېدل چې د غونډې په استازیتوب دې د ترکیې او بن په غونډو کې د ګډون لپاره یو هیئت دغو غونډو ته ولیږل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Resolution

The Afghan Cultural Association of The Netherlands and other Afghan Associations around Europe together organized a symposium in regards to the political situation, peace process and stability in Afghanistan on 8th October, 2011 in Nieuwegein, The Netherlands. The one day symposium focused on "10 years American installed democracy in Afghanistan." Participants of the symposium decided on the following points:

1. For peace process and political stability of Afghanistan, it is necessary to create a peace delegation from all sides involved in the Afghan conflict. Our proposal is that for Afghan peace process and stability of Afghanistan, all sides involved in the military confrontation should be allowed and encouraged to take part in peace negotiation in Bonn Conference.
2. The participants of the symposium believe that for peace negotiation to succeed, it is necessary to create an interim government, which is acceptable for all sides of Afghan conflict. The interim government must take the responsibility to handle all peace negotiations among all sides involved in the conflict.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3. The participants of the symposium think that for peaceful Afghan Society and stable Afghan Government, it is essential that all war criminals, warlords and human rights abusers should be brought to justice through national and international organizations.

4. The participants of the symposium decided that the participants of the symposium don't accept the Durand Line, and asks the International Community, especially The United Nations to find an impartial solution for this conflicting issue between Afghanistan and Pakistan.

5. The participants of the symposium ask that foreign troops should leave Afghanistan step by step with an exact timetable. At the same time, the participants ask the International Troops should assist in the capability building of the Afghan Security Forces while withdrawing gradually.

6. Afghan people have the right to accept or reject foreign military bases in Afghanistan. Decision of accepting foreign military bases should be determined by The Afghan Grand Assembly (Loya Jirga) or through a referendum carried on in a democratic, stable and peaceful way.

7. In the past three decades, the economy of Afghanistan has been destroyed due to foreign intervention and forced war on Afghans. Currently, Afghanistan needs foreign economic assistance. For Afghan peace and development to succeed, International Community should fulfill its responsibility to assist Afghans to eliminate economic problems of Afghanistan.

(c) ketabton.com: The Digital Library

8. The participants of the symposium decided to send a representative committee of Afghan European Peace Symposium to Turkey Gathering and Bonn Conference related to the Afghanistan.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لس کلنه امریکایي ډیموکراسي او افغاني سیاسي بې وسي

د پوهنیز سیمینار بشپړ راپور

ACVN, Nieuwegein, 8 October 2011

نذیراحمد نذیر

په نیدرلند کې افغاني کلتوري ټولنې د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر د میاشتې په اتمه نیټه د (لس کلنه امریکایي ډیموکراسي او افغاني سیاسي بې وسي) تر عنوان لاندې یوه غونډه جوړه کړه. د اکتوبر اومه نیټه له هغې ورځې سره سمون خوري چې لس کاله وړاندې په دوه زره یو زیږدیز کال په افغانستان باندې د ناټو تر مشرۍ لاندې د طالبانو په حکومت برید وشو چې وروستۍ لسیزه یې د افغاني غمیزې لړۍ وګرځوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غونډې پیل د قرانکریم د مبارکو آیتونو په تلاوت سره وشو چې انجنیز حمیدالله خانزي تلاوت کړل. په نیدرلند کې د افغاني کلتوري ټولنې مشر ډاکټر سید نصیراحمد پرانستونکي وینا واوروله او راغلو کسانو ته یې ښه راغلاست ووایه. د غونډې په خوښه یې له پوهاند محمد عثمان روستار ترکي څخه وغوښتل چې د غونډې د مشرتابه لپاره په هیئت رئیسه کې خپل ځای ته راشي او د غونډې مشري وکړي او همدا ډول د غونډې ویاند او منشي هم ونومول شول.

ډاکټر نصیر په خپله وینا کې یاده کړه چې د وروستیو دریو لسیزو د هرې دورې څیرې معلومې دي. د اتیایمو کلونو د روسي یرغل د دورې سیاسي لوبغاړي هم معلومې دي او د نویمو کلونو د جهادي واکمنیو د دورې څېرې هم هېوادوالو ته څرګندې دي او د وروستۍ لسیزې چې د دوه زره یوم کال څخه پیلیږي، نو د هغوی سیاسي لوبغاړي هم معلوم دي. د دغو لسیزو پېښې د تاریخ په ګوګل کې ساتل شوې دي چې چا کوم رول لوبولی او چا څه کړي دي هغه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلوم دي. که تاریخ خپل ټټر پرانیزي نو هر څه به راتلونکي نسل ته روښانه شي.

نوموړي په افغانستان کې د تیرو لسو کلونو په اړه خبرې وکړې او یاده یې کړه چې د سپټمبر له پیښې وروسته په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو د برید له پیله تر اوسه په افغانانو بمونه واورېدل نه دا چې ګلونه پرې شنل شوي وي. د خبرو په ترڅ کې یې د ګاونډیو هیوادونو لاس وهنې او د دولت کمزورېو ته یې اشاره وکړه.

ډاکټر نصیر زیاته کړه چې د ایران او پاکستان اتومي پروګرام داسې اندېښنې رامنځ ته کوي چې د افغانستان د بې امنۍ او د سرحدونو د نه کنټرولېدو له کبله کیدای شي چې په افغانستان کې د ایراني او پاکستاني یورانیمو ویستې یا فاضله مواد د ځای په ځای کېدو ګواښ رامنځ ته شي چې دا به زموږ په راتلونکي نسل باندې ډېر بد اغیز وکړي. اوس هم د هیواد په ځینو برخو کې په یورانیم سمبال بمونو د بمباریو نه وروسته ډېر شمېر ماشومان کینې او کارې زیږدلي او د وجود ځیني غړي یې یا له کاره لویدلي او یا هم مناسب کار نه کوي. همدا ډول د ړندو بمباریو په ترڅ کې په سلګونو کسان معیوب شوي چې ان له معیوبینو نه پوره، پوره کلي جوړ شوي دي. ډاکټر نصیر د افغانستان ژبنیو، بودیجوي، نظامي ستونزو ته هم اشاره وکړه، له دوه زره لومړي کال راهیسې یې د ملکي، افغاني نظامي او بهرنیو پوځونو د وژنې ارقام وړاندې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې د افغانستان د سیاسي علومو کارپوه ډاکټر روستار تره کي خبرې وکړې او ویې ویل چې د سړې جګړې په پای کې د ناټو د هڅو دلیل ختم شو، ورپسې یې د اسلام پالنې په ضد جګړه شروع کړه، جګړه له دفاعي حالته حمله ییزه بڼه خپله کړه.

هغه وویل چې ناټو د ځان په وړاندې هم بیروني او هم کورني خنډونه پلمه کوي او غواړي چې دوی افغانان داسې حالت ته ورسوي چې پرته له دوی افغان دولت هیڅ هم ونه شي کولی. ناټو د خپلې جګړې ډګر د افغانستان جنوب وټاکه، تر اوسه پورې اتیا زره کسان ووژل شول، خو لا هم جګړه ختم نه لري او ورځ تر بلې درنیږي او اوږدیږي.

افغان دولت یو لاسپوڅی دولت دی، چې هیڅ یې هم په وس کې نشته دي. له افغانستان سره اقتصادي مرستې هم له اویا تر اتیا سلنې پورې د انجوګانو لخوا ولګول شوې. شخصي کمپنۍ هم ددې لپاره جوړې شوې چې د افغانستان نظامي ځواک کمزوری وښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویدیځ ځواکونه غواړي چې د افغانستان هغه ځواک چې وسله لري او د هیواد لپاره جګړه کوي له منځه یوسي. پاکستان هم په دې کار کې ورسره پوره مرسته کوي، دا موخه د پاکستان له مهمو موخو څخه ده چې د افغاستان پښتانه چې وسله پورته کولای شي له منځه یوسي، ځکه چې په دې وروستیو لسیزو کې د ډیورنډ د دواړو خواوو د پښتنو راشه درشه ډیره شوې، دوی غواړي په دې کار سره ځان بې غمه کړي. پوره شواهد شته چې پاکستان له یوې خوا د طالبانو ځینې ډلې اداره کوي او له بلې خوا بیرته ناټو ته خبر ورکوي چې دوی یې په نښه کړي. پاکستان په دې کار سره غواړي چې هم د امریکا لپاره ستونزې جوړې کړي ځکه پاکستان نه غواړي چې امریکا په سیمه کې اوږد مهاله پاتې شي او هم د پښتون وژنې پروسه پر مخ بوځي.

د سولې پروسه هم ناکامه پروسه ده. افغان دولت د تصمیم نیونې صلاحیت نه لري، جنګ د نړیوالو لخوا تپل شوی او سوله هم یوازې ناټو له مقاومت سره د مستقیمو اړیکو په نیولو کې کولای شي راولي. نښه به وي چې د بن دویم کنفرانس کې افغان حکومت په ډله ییزه توګه خپله استعفا وړاندې کړي. یوازینۍ لاره داده چې مقاومت ته په حکومت کې واک ورکړل شي، خو دا واک هم مشروط وي، چې د پخوا غوندې به په ځینو کارونو کې سخت دریځي نه کوي.

له استاد روستار تره کي وروسته محمد آصف وردګ ته بلنه ورکړل شوه. هغه د غونډې په جوړیدو خوښي وښودله او ویې ویل: ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحاله یم چې دلته مورِ ټول په افغاني روحیه راټول شوي یو او د ستونزو د حل په لارو چارو فکر کوو.

نوموړي وویل چې افغانستان کې که کمونیزم و، که اخوانیزم و، که مجاهدین وو او که اوسنۍ دیموکراسي ده، هر څه په شرمونو وشرمول شول.

هغه د تیرو دریو لسیزو غمیزې ته اشاره وکړه او د خپلو سترګو لیدلی حال یې ووایه، په جګړه مارو ډلو یې نیوکې وکړې او د ډیرو ناخوالو پړه یې ددوی په غاړه واچوله. ده وویل چې باید هر څوک د زړه له اخلاصه کار وکړي او یوازې ملي یوالی کولای شي د ستونزو د حل لاره وي.

له آصف وردګ وروسته دوکتور عبدالمحمد درمانګر ته بلنه ورکړل شوه. ډاکټر درمانګر وویل چې د تیرو لسو کلنو ستونزې دومره ډیرې وې چې شوي بریالیتوبونه یې هم په خپل ځان کې ورک کړي دي. هغه زیاته کړه چې د افغانستان کړکیچ ډیر پیچلی دی، ډیر وخت د افغان ولس په استازیتوب جنګیدلي مذهبي ډلې د جګړې له ختم وروسته په خپلو ځایونو نه دي ناستې، بلکې حکومت یې کړی او واک یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترلاسه کړی دی. نوموړي یاده کړه چې موږ باید د سولې لپاره خپل پلانونه او روغه جوړه له خپل کوره پیل کړو او په خپل کور کې باید سره جوړ شو.

په نیدرلند کې د احمدشاه بابا د پوهنیزې ټولنې مشر ښاغلي ننګیالي بخرکي هم خپله وینا واورولە. ښاغلي بخرکي د شته ستونزو او د دې د لاملونو په اړه خبرې وکړې او د حل لارې چارې یې هم وښودې، چې امنیت باید ټینګ شي، افغان حکومت تر ډیره پورې دې خپله ناپېلتیا

وساتي، خپلې ستونزې دې د امنیت په نړیواله شورا کې وړاندې کړي او ملي ګټو ته په شخصي ګټو غوره والی ورکړل شي. همدا ډول یې وویل چې نړیوال باید هغه وخت له افغانستان نه ووځي چې په افغانستان کې ډاډمنه سوله راغلې وي.

ورپسې په جرمني کې افغان آسپیرانت محصل سید عبدالله ولي زي په افغانستان کې دننه ولسي مدني فعالیتونو ته اشاره وکړه. ولي زي وویل چې دا ډول فعالیتونه په دې توانیدلي دي چې افغانستان په اوو کلتوري حوزو وویشي، تر شلو ډیرو ولایتونو کې تر دوه سوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې کلتورې ټولنې جوړې شوې دي. د دغو مدني ټولنو استازي پر له پسې په خپلو منځونو کې غونډې کوي او د پرتو ستونزو په اړه د حل لارې چارې لټوي. همدا ډول ددې ټولنو لخوا په زرګونو کتابونه چاپ شوي، د مورنۍ ژبو په برخه کې د پام وړ کار شوی، ګڼشمېر سیمیناروونه جوړ شوي، په ملي مسایلو کې غبرګونونه ښودل شوي او د ملي ارزښتونو د ګوانښونو په اړه مظاهرې شوي دي.

د غونډې بل ویناوال ښاغلی ملک بابا و. هغه د ستونزو لوی لامل د افغانستان جغرافیایی موقیت وښود چې ستراتیژیک ارزښت لري او تل افغانان د همدې له امله یا په خپل منځ کې او یا هم له نورو سره په جګړو بوخت دي. هغه په ګوته کړه چې اوسنی حکومت په غلو ډک دی، په ولس یې اتکا نه ده کړې او ددې ټولو ستونزو حل دا کیدای شي چې علم ته پام وشي او د معرفت له لارې دا ستونزې هوارې شي.

د افغانستان د ستراتیژیک موقیعت په اړه پوهنمل رحمت ګل ځواکمن یوه هر اړخیزه-پوهنیزه وینا درلوده، چې پکې د افغانستان د طبیعي زیرمو او له افغانستان څخه د نورو هیوادونو د وصلیدونکو لارو، د ګازو او نفتو د نل لیکو په اړه معلومات راټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي وو. هغه وویل چې افغانستان د طبیعي زیرمو له پلوه یو غني هېواد دی او تر ډیره ستونزې یې هم د ستراتیژیک موقعیت په اساس دي. ښاغلي ځواکمن زیاته کړه: هر هېواد چې طبیعي زیرمې ولري، هغه خپل ستراتیژیک اهمیت غوره کوي. هغه په افغانستان کې ثبات د هېوادونو په ګټه وبالله د سولې او ټیکاو په حالت کې افغانان کولای شي د خپل موقعیت په مرسته خپل ژوند په ښه ډول سره تنظیم کړي او سوکاله ژوند جوړ کړي.

د لنډې دمې په ترڅ کې د غونډې برخه وال په ببلابېلو ډلو ووېشل شول او د لوستل شویو مقالو په اړه یې په خپلو منځو کې بحثونه سره وکړل. له دمې وروسته انجینیر زکریا پوپل خپله وینا واوروله او په خپلو خبرو کې وویل چې د افغانستان او امریکې تر منځ ستراتیژیک ټرون د افغانانو په ګټه دی، ځکه چې ګاونډي هیوادونه په افغانستان کې په نا امنۍ خوشحاله دي، افغانستان د دوی د تولید مارکیټ ګرځیدلی، د افغانستان خام مواد ورته په نشت قیمت لاس ته ورځي، او د کلتوري ښکیلاک منګولې یې لا پیاوړې کیږي.

ورپسې حقوقپوه جمال کټوازي د ستراتیژیک ټرون او ستراتیژک اعلامیې د توپیرونو په اړه خبرې وکړې او ویې ویل چې ستراتیژیک ټرون د دواړو هیوادونو د پارلمان تصویب ته اړتیا لري، خو اعلامیه بیا دغه تصویب ته اړتیا نه لري. همدا ډول یې د ستراتیژیک ټرون او اعلامیې په حقوقي اړخونو هم رڼا واچوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي حاجي اسد الکوزي هم د موضوع اړوند خپلې خبرې وکړې. هغه په خپلو خبرو کې د قومي مشرانو وژنې او سیمه ییزو کړکېچونو ته ګوتنوینه وکړه. د هغه په اند د ستونزو ښه حل لاره به دا وي چې د غمیزو د پای ته رسېدو په موخه لویه جرګه جوړه شي او په هغې کې بهر مېشتو افغانانو ته هم د پام وړ ځای ورکړل شي.

د غونډې په ترڅ کې د پریکړه لیک د تدوین په موخه د غونډې له برخه وال څخه یوه اوه کسیزه ځانګړې ډله وټاکل شوه، چې د دغه غونډې پریکړه لیک جوړ او ولیکي او د تصویب لپاره یې ننني عمومي غونډې ته وړاندې کړي. د غونډې د هیئت رئیس د غړي له خوا د یو شمېر لیکوالانو د لیکنو لنډیز هم وړاندې شو.

د غونډې دویمه برخه د راغلیو پیغامونو لوستلو ته ځانګړې شوې وه. د پیغامونو د برخې په ترڅ کې ښاغلي ډاکټر رحیم ګل پښتون ساپي په برلین کې د افغانستان د سولې، پرمختګ او بیارغونې د کمیټې پیغام ولوست. همدا ډول ښاغلي انجینیر نور قاسم په نیدرلنډ کې د غرغښت ټولنې پیغام ولوست. له افغانستان او ځینو نورو هېوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه هم د سیمینار په اړه پیغامونه راغلي وو چې د وخت د کمښت له امله یوازې د پیغامونو په یادون بسنه وشوه.

د غونډې درېیمه برخه مشاعره وه چې په هالنډ کې د میشتو شاعرانو سربیره د یو شمیر نورو هیوادونو نه راغلو شاعرانو هم پکې برخه واخیسته. د مشاعرې په ترڅ کې ګڼشمېر حماسي او وطني شعرونه ولوستل شول.

د غونډې د پای برخه د پریکړه لیک لوستلو او ازاد بحث ته ځانګړې شوې وه. د افغانستان د وروستۍ لسیزې په اړه او د غونډې د پریکړې د موادو په اړه پوښتنې وشوې چې د استاد روستار ترکي او هیئت رئیسه لخوا پوښتنو ته ځوابونه ورکړل شول او یو شمېر برخه والو د غونډې د رئیسه هیئت په وساطت خپل نظریات سره شریک کړل.

غونډه د پریکړه لیک د تصویبولو وروسته د شپې ناوخته په یوه بجه پای ته ورسیده. د یادونې وړ ده چې د پوهنیزې برخې چارې د سید عبدالله ولي زي او مشاعره د نذیر احمد نذیر لخوا پر مخ بوول کیدله او د سیمینار پربکړه ډاکټر عرفان نور ووارولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په اړه د بن نړیوال کنفرانس ته د افغان مدني ټولنو د همغږۍ د جرګې وړاندیز

بسم الله الرحمن الرحیم

افغانستان له تیرو څو لسیزوڅخه د جګړو او نورو هیوادونو د ناوړه سیالیو ډګردی ، چې سالم او باوري نظام ساتلو او پاللو ته یې اړتیا ده . د نړیوالو موسسو اوهیوادونو نیغ په نیغه اړیکې او مرستې د محلی ادارو او ځینو کړیو سره، په افغانستان کې د قانون د حاکمیت او ثبات پروسه ټکنۍ کړی ده.

څرنګه چې د افغانستان په اړه د بن د نړیوال کانفرانس د اجنډا مهم توکي په تیرو لسو کالو کې د افغانستان د لاسته راوړنو او ستونزو د ارزونې په خواکې د سولې بهیر، د انتقال بهیر او تر ۲۰۱۴م کال وروسته له افغانستان سره د نړیوالو د ژمنو او همکاریو د دوام موضوعات دي، نو د افغانستان مدني ټولنه دغه کانفرانس ته د خپلو وړاندیځونو لنډیز په لاندې توګه وړاندي کوي او له افغانانو او نړیوالو غواړو چې په هر اړخیز ډول یې پلې کړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوله او ملي روغه جوړه

سوله د افغانانو د ګټو او غوښتنو له زاویې څخه، خو د ټولو په ګټه غواړو؛ پدې ډول چې:

الف:ټول اړخونه دې سوله، روغه جوړه او مذاکره د یو اصل په توګه ومني.

ب: د ټولو مطرحو افغانانو ترمنځ پراخ ډایلاګ ته دې لاره هواره شي چې پرته له هر ډول بهرني فشار پخپلو کې په پوره تفصیل د خپل سرنوشت په باب بحث، مذاکره، تفاهم او توافق وکړي .

ج:د روغې جوړې اوسولې لپاره دې د افغانانو متفقه طرحه د داسې ابرومندې تفاهم عملي کول وي چې:

یو - په دننه کې د هر افغان مساوي حیثیت او عزت پکې خوندي وي او په بشري کورنۍ کې افغان د یو ابرومند نوم او درېځ لرونکی کړي.

دوه - د ملي، اسلامي او نړیوالو منل شویو معیارونو په چوکاټ کې دې د بشر او بنځو حقونه، عدالت، پوهنه او انکشاف د اساسي اصولو په توګه ومنل شي.

درې - د بیا ادغام (Re-integration) په خوا کې دې ابرومنده روغه جوړه (Respectful Reconciliation) د یوې فعالې او اغیزمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي پروسې په توګه ومنل شي او د لاسته راوړلو لپاره ښایي په مسولانه توګه کار پیل او بري ته ورسول شي.

د: افغانان دې بیا په بشپړه یووالي له نړۍ سره کینې ،چې پر لاندې بنسټونو سره هوکړې ته ورسیږي:

یو- بهرنیان تر نا څرګند مهاله زمونږ په هیواد کې نه شي پاتې کیدای. افغانان باید د خپل هیواد ساتنه پخپله وکړي. د دواړو خواو په ګټه داده چې که بهرنیان له افغانستانه څخه ووځي، په ابرو کې دې لاړ شي او مونږ دې په عزت او سرلوړۍ کې پاتې شو.

دوه - له نړۍ، سیمې او ګاونډیانو سره دې زمونږ اړیکې په درې اصلونو ولاړې وي : متقابل درناوی، متقابل باور، نه لاس وهنه او متقابلې ګټې.

د امنیتی مسئولیتونو انتقال

الف:د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ملي اردو، ملي پولیس، ملي امنیت) رهبرې او تشکیل دې د وړتیاپه اساس جوړ شي،نه د قومي، ژبنیو او سیاسي مصلحتونو پر اساس.

ب: ملي امنیتي ځواکونه دې مسلکي شي او د بې مسولیته کسانو او ډلو له جوړولو او وسله وال کولو دې ډډه وشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج: افغانستان له یوې خواد استخباراتې او سیاسي لاسوهنو سره مخ دی؛ له بلې خو د داسې ګاونډیو ترمنځ را ایسار دی،چې هر یو خپله اجنډا او پیاوړي پوځونونه او استخباراتي موسسې لري. نو باید زمونږ حد اقل دفاعي او امنیتي اړتیاوې وسنجول شي، د هغې پراساس افغان اردو، پولیس او ملي امنیت وروزل شي او په مناسبو او کافي وسلو سمبال شي

د:د افغانستان اردو باید هوایي، هوایي مدافع، او نور ټول ضروري عسکري صنفي ځواکونه ولري.

و:د افغانستان د امنیتي ځواکونو لګښتونه باید د افغانستان له خپلو اقتصادي ظرفیتونو سره سم وسنجول شي، په لنډه موده کې باید نړیوالې مرستې دوام وکړي خو په اوږد مهال کې باید زمونږ امنیتي ځواکونه پرخپلو پښو ودریږي.

ه:بهرنیان باید بې پلانه او په بیړني ډول له افغانستان څخه ونه وځي، بلکې پر دې زمونږ سره توافق وکړي،چې درې پروسې موازي او پر یو وخت پرمخ ولاړې شي: ۱. ټولو لوریو ته د سولې او روغې جوړې ابرومنده پروسه. ۲ د بهرنیو ځواکونو تدریجي وتل. ۳ ناګوندي،ملي امنیتي ځواکونو پر پښو دریدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې د همکاریو دوام

الف: بهرنۍ مرستې دې د اوږدمهاله همکاریو او واحدې ستراتیژۍ په چوکاټ کې پر هغو اغیزمنو، اوږدمهاله، ستراتیژیکو پروسو متمرکزې شي چې دوامداره سیاسي، اقتصادي، نظامي او ټولنیزې بریاوې ولري.

ب: د افغانستان د عدلي، قضایي او ډیموکراتیکو ملي موسسو دپیاوړتیا سره دې دوامداره مرسته وشي.

ج: په سیمه کې د دوامدارې او تلپاتې سولې د ټینګښت له پاره دې د سیمې پر هیوادونو لازم سیاسي فشارونه راوستل شي اوپر دې دې وپوهول شي، چې دا په نړۍ کې هغه پخوانی منزوي افغانستان نه دی او د نړۍ یو فعال او ابرومند غړی دی. ددې په بدل کې دې د ټولنیزو - اقتصادي سیمه ایزو همکاریو او مرستو عملي لارې چارې وسنجول شي.

د: نړیواله ټولنه دې پدې کې مرسته وکړي چې د سیمې هیوادونه په افغانستان کې د منفي رقابتونو پر ځای مشروع اقتصادي فعالیتونو او فرصتونو ته وهڅیږي چې افغانستان یې د خپل ځانګړي جغرافیایي موقعیت او طبیعي منابعو له پلوه ظرفیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

و: نړیواله ټولنه دې په افغانستان کې د کاری ظرفیتونو په رامنځته کولو او لوړولو کې له افغان دولت اوبنسټونو سره خپلې مرستې روانې وساتی

ه: د افغانستان دولت او نړیواله ټولنه دې د اداري فساد پر وړاندې مبارزه کې د پاتې راتلو له امله پر یو بل د تورونو لګولو پر ځای په دې برخه کې همغږی او همکاري رامنځته شي.

ښه حکومت داري او اداري اصلاحات

الف:په هېواد کې دې د وړتیا، ژمنتیا او اړتیا وو پر بنسټ پراخ اداري اصلاحات تر سره شي.

ب: دافغانستان په اداروکې دې ځانګړیوکړیوته دځوکیودویش پر ځای په دغو اداروکې دمسلکي تخصص،تجربې، پاکې او ژمنتیا پربنسټ عادلانه ټاکنې وشي.

ج: اداري اصلاحات دې په مرکزي او سیمه ییزو ادارو کې په متناسب او عادلانه ډول پلي شي.

د: د هیواد ټولو سیمو او خلکو ته دې د دولت په اداره او د منابعو په ویش کې مساوي فرصتونه برابر شي او په ټولو برخو کې دې ټولنیز عدالت او متوازن انکشاف په جدي ډول په پام کې ونیول شي.

کابل-افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د سولې، بیارغونې او کلتور د کمیټې پیغام

درنو حاضرینو او د ننني ورځې د سیمینار مینه والو،

لومړی د هر څه د مخه په هالند کې د «افغاني کلتوري ټولنې» د دې نوښت هر کلی او ننني سیمینار ته یې د بلنې نه ډېره مننه کوم.

همدارنګه غواړم چې په خاصه توګه د دې ټولنې د مشر ښاغلي ډاکټرسید نصیراحمد او د نورو غړو د هلو ځلو نه چې زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې د سولې د راوستلو او د افغاني کلتور او فرهنګ د پرمختیا په اړه یې کوي، خپله قدرداني وړاندې کړم.

څرنګه چې د نن ورځ د سیمینار سرلیک نه «لس کلنه امریکایي دیموکراسي او د افغانستان سیاسي بې وسي» ښکاري، په ریښتیا سره هم مونږ افغانان بې وسه یو او که بې وسه شوو؟

زمونږ په ګران هېواد کې په تېرو دریو لسیزو کې ډېر زیات سیاسي او ټولنیز بدلونونه راغلل چې د هرې لسیزې حالات یوې علمي څېړنې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړتیا لري، چې د بده مرغه زمونږ د ننني سیمینار د حوصلې نه بهر دي. که مونږ یوازې په لنډ ډول د تیرو لسو کلونو حالاتو ته ځیر شو او د ځان سره یې وخېړو، چې آیا افغان ولس په دې تېرو لسو کلونو کې په مختلفو ساحو کې لاس ته راوړنې لري؟

نو ځواب سره به یې فکر کوم چې ټول موافق اوسی، چې یا ډېر لږ او یا هم هیڅ نه!!

اوس باید د دې علتونه وخېړل شي چې ولې په تېرو لسو کلونو کې هیڅ پرمختګ نه دی شوی او یا ډېر کم بدلون نه لیدل کېږي.

د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر د میاشتې د اوومی نېټې نه را په دې خوا چې دا دی لس کاله یې پوره شول، د ناټو پوځونو دامریکا په مشرۍ په افغانستان پوځي یرغل وکړ او یوه نامشخصه او بې کفایته اداره یې د مختلفو نومونو په خلکو باندې حاکمه کړه، چې تر نن ورځې پورې لا هم دوام لري.

د دې لپاره چې دغه ناورین ته د پای ټکی کېښودل شي او زمونږ هېواد او هېوادوال یوې دایمي سولې ته لار ومومي نو لازم او ضروري ده چې د دې هېواد صادق، با درده او پاک بچیان سره راټول شي او په ګډه دې پرابلومونو ته د حل یوه لاره پیدا کړي، چې د بیلګې په توګه د ننني سیمینار برخه وال دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې یو وار بیا د افغانستان د سولې، بیارغونې او کلتور کمیټې له خوا تاسو ټولو ته د نن ماښام په سیمینار، ورځنیو چارو او د افغانستان د راتلونکي په جوړولو کې بریالیتوبونه غواړم.

د یو آزاد، آباد او سرلوړي افغانستان په هیله!

په درناوی

ډاکټر ګل رحیم «صافی»

د افغانستان د سولې، بیارغونې او کلتور کمیټه

برلین- جرمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرغښت خیرښېګڼې ټولنې پیغام

د سیمینار درنو ګډونکوونکو میلمنو:

په هالند کې د غرغښت ټولنه کاملاً یوه غیرې سیاسي ټولنه ده او همیشه د افغانانو په منځ کې افغاني کلتور او دود ته وده ورکوي.

د غرغښت ټولنه په دې ویاړي چې د افغانستان څخه بهر افغاني کلتوري ټولنه په دې توانېدلې ده چې د خپل ګران افغانستان د ننني ستونزو په اړه علمي سیمینارونه جوړکړي او د افغانستان د سیاسي ټولنیز او امنیتي کړکیچونو په اړه د افغاني پوهانو ترمنځ مباحثې او د نظرونو د شریکولو امکانات رامنځ ته کړي او د افغانستان کړیدلي ولس د خپلو نظریاتو څخه خبر کړي.

په افغانستان کې د امریکایي او نورو لوېدیزو هېوادونو لس کاله پوره شول ولې د افغانستان ولس د لوېدیزې ډیموکراسۍ په لمبو کې سوزي او په هېواد کې مافیایي کړۍ د واک په مورچل کې ناسته ده او په اولس یې غاښونه او داړې خښې کړي دي.

ټولو ته څرګنده ده چې افغان ولس په وروستیو دیرشو کلونو کې د بېلابېلو ناخوالو شاهد دی او افغان نسلونه په پر له پسې ډول د

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعماري جګړو قرباني کېږي او په افغانستان کې د امریکایي ناورین د پای شپه هم معلومه نه ده.

همدا نن شل میلیونه خلک په افغانستان کې په غربي ډیموکراسۍ کې له لوړې او ګواښ سره مخامخ دي په هر صورت مور هميشه غونډې، سیمیناورنه جوړ کړي دي او هر څه د کاغذ پرمخ پاتې دي نور اځی چې نور د دغه معنوي چوکاټ څخه عملي چوکاټ ته قدم کېږدو. او په قاطع عمل لاس پورې کړو او نړیوالو ته ووایو که چېرې ریښتیا هم د افغاني مسالې په حل کې صداقت او ریښتونوالي موجود وي نو د دې مسالې حل کېدونکی دی.

په هالنډ کې د غرغښت ټولنه په دې ویاړي چې افغاني کلتوري ټولنې د افغانستان په یوه ډېر له ستونزو ډک مهال کې د دې سیمینار چارې سمبال کړې دي، چې د دې ډول غونډو او سیمینارونو جوړول به د افغانانو په یووالي-کلتوري او پوهنیز پرمختګ کې ډېره ګټه ولري او زمور د راتلونکې نسل لپاره به د ښوونې او روزنې یو الهام وي. د غرغښت ټولنه ستاسو دغه نوښت ته د قدر په سترګه ګوري او تاسو ته لا زیات بریالیتوبونه غواړي.

په درنښت

د غرغښت ټولنه- هالنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانانو د لسیزو بدمرغي که د سیاسي کړیو بې وسي

ډاکټر سید نصیر احمد

په نیدرلند کې افغاني کلتوري ټولنې د امریکایي تیري د لسمې کلیزې په درشل کې د یو علمي سیمینار چارې سمبال کړې دي. باید یاده شي، چې د افغاني ټولنې د غمیزې بهیر یوازې په وروستۍ لسیزه کې نه راغبرګېږي، مګر د افغاني غمیزې لمنه لیا ډېره پراخه ده او د څو لسیزو په بهیر کې یې د افغان ولس سوکاله ژوند له بې امنې سره مخامخ کړی او د سرې له غمیزې او روسي پوځونو له تیري پیلېږي، چې نن سبا هم زمور خلک د بې انصافي، زورواکانو، اداري فساد، اخلاقي فساد او بهرني ښکېلاک قرباني دي.

درنو هېوادوالو! تاسو ته څرګنده ده، چې افغانان د څو لسیزو په بهیر کې د ښلابښلو سیاسي کړیو، ایدیالوژیکي بنسټپالیو او سیاسي بې وسیو قرباني دي. په وروستیو دریو لسیزو کې مور افغانانو داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمنۍ ولېدې، چې شمزې یې د ببلابېلو بهرنیو ملکونو لاسوهنه وه، چې لوبغاړي یې بیا زمورږ خپل افغان ورونه ول.

که په ټولیزه توګه د افغانانو غمیزه په دریو لسیزو ووېشو، نو دا په ګوته کېږي، چې د اتیاومې لسیزې لوبغاړي افغاني چپیان د روسانو په مټه واکمن ول، د نویمو کلونو په بهیر کې اسلامي ډلې د پاکستان او ایران په مداخلو کې لاهو وې او وروسته له دوه زرمه افغانستان د امریکایي ډیموکراسي په بټۍ کې پخېږي او افغاني تکنوکراتان او تش په نامه اسلامي ټبکه داران یې چرچې کوي، مګر افغان ولس په وینو کې لمبول کېږي او په وحشیانه توګه ورسره چلند کېږي او پرته له انصافه وژل کېږي.

داسې ویل کېږي، چې د فرانسې امپراتور بنوپارت ناپیلیون به ویل چې: هوښیار خلک د نورو له تېروتنو زده کوي او نادان خلک یې له خپلو تېروتنو زده کوي او پر ځان تجربې کوي. له دریو لسیزو ډېره موده کېږي، چې پر افغانانو تجربې تر سره کېږي، خو افغان ولس تل له بارانه پورته شي او ناوې ته کېني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اکاډمیسن اندرې دیمیتروویچ سخروف له وینا سره سم پر افغانستان د کمونیستي روسیې د تېرې په ترڅ کې په افغانستان کې لږ تر لږه ۲ میلیونه خلک ووژل شول، له ۲ میلیونو ډېر خلک یې مهاجر شول، د افغانستان هېواد د معیوبینو، معلولینو، کونډو او یتیمانو کور شو او د ګڼشمېر شهیدانو ګور شو. له بل پلوه به سیاسي کړیو شعار ورکاوه چې مورږ خلکو ته کور، کالي او ډوډۍ غواړو، نه پوهېږم چې دغه شعار یې د هندي فلم «روټي، کپړه اور مکان» نه زده کړی ؤ، کې یې لکه طوطي دغه خبرې یادې کړې وې او د خپل هېواد عیني او زهني پوځوالي ته یې پام نه ؤ، ځکه یې نو خلکو ته د ډوډۍ پر ځای مرمۍ، د کالیو پر ځای کفن او د کور پر ځای ګور ورپه نصیب کړل.

د افغانانو د پرهارونو وینې نه وې وچې شوې، چې د نویمو کلونو نخرې پر افغانانو پیل شوې او د طالبانو تر مودې ورسېدې، بیا هم هېواد کرار نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو او خلک د نوې بنسټپالي قرباني شول، پر افغانستان د امریکایي یرغل شرایط او پلمې رامنځ ته شوې، چې دا دي د امریکایي ډیموکراسي او د افغانانو د سیاسي بې وسي لسمه کلیزه هم پوره شوه، خو افغان ولس لیا هم په وینو کې لمبول کېږي، د هېواد په هر ګوټ کې ړانده انتحاري استشهادونه تر سره کېږي او له شلو میلیونو ډېر خلک د لوږې له ګوابښ سره مخامخ دي او په ټولنه کې اخلاقي او اداري فساد تر خپل اوجه رسېدلی، چې د افغانستان وګړي هم دغه حالت ته ګنګس او ګول دي.

درنو ورېنو او خویندو! راځئ چې د افغانستان بدمرغي او د وروستۍ لسیزې غمیزه د ټولنیزو معیارونو او یا هم کتیګوریو په رڼا کې وسپړو، کېدای شي، چې له دغه ټولنیز بوم بسه راووځو او د افغانستان د ستونزو د حل لپاره یوه سمه لاره غوره کړو. د یوې سمې پایلې لپاره ټولنیزې پوهې او انساني سپځلتیا ته اړتیا ده، چې خلک د افغانستان په کړکېچن او له ستونزو ډک حالت کې د خپل سیاسي هویت د روښانولو او د نورو د سپکولو لپاره له دغه حالته ناوړه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته نه کړي او ټولنه په «من او تو» و نه وېشي، لکه څنګه چې خلک وایي: خپله درنه او د بل سپکه به نه وایو !

د افغانستان وروستۍ درې لسیزې د ټولو لپاره زړه بوږنونکې او له تراژیدیو ډکې وې، څوک د ټور له غمیزې سره سم په پلچرخي کې مېلمانه شول او څوک هم پاکستان او ایران ته مهاجر شول، خو دغه لړۍ لیا تر ننه پورې روانه ده، چې په یو شمېر باندې د مړیو رقصونه وشول او بل شمېر په کانټېنرونو کې ډاډه شول، د نورو په سرونو کې مېخونه وټکول شول او امریکایي چاپې خو پوله نه پېژني او هر افغان او افغانه یې کېدای شي قرباني شي او په امریکایي بمباریو کې نه په انسانانو او نه هم په حیواناتو رحم وشو، چې په ورستیو کې یې د افغانستان د خلکو په زراعتي ځمکو زهرناکې دواوې هم وپاشلې او یو او نیم باغ چې لیا شین ؤ هغو ته یې هم په ببلابېلو سیمو کې ور ورواچووو، چې ښه ببلګه یې د هلمندو-کندهار د انارو باغونه، د زابل د بادامونو باغونه او د وردګو او د لوګر د منو باغونه دي، چې په دغه وروستیو څو میاشتو کې د امریکایي بمباریو په بهیر کې وسوځېدل.

په افغانستان کې د یورانیمو د بمونو د قربانیو شمېر هم ورځ تر ورځې ډېرېږي، چې د نړیوالو روغتیایي مؤسسو احساسات یې راپارولي دي، خو معیوب ماشومان یې بیا د بې وزلي افغان ولس تر غاړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په ټولنیز ژوند کې امنیت، ښوونه او روزنه، روغتیاپالنه، ټولنیزه لوړه، د زورواکو له لاسه مهاجرتونه، د جنګ شهیدان او قرباني، یتیمان، کونډې، اداري-اخلاقي فساد او تر ټولو غوره د افغاني هویت له منځه تلل، هغه ټولنیز معیارونه دي، چې کېدای شي د افغانستان د غمیزې د ستونزو احصایوي انځور مور ته راکړي، چې ځوان نسل به د دغه احصایې په رڼا کې د افغانستان د ټولنیزو ستونزو په اړه قضاوت کوي.

په وروستیو دریو لسیزو کې ۷ میلیونه افغانان مهاجر شوي، چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خاوره واره دي او نوی نسل مو په پردي کولتور کې لاهو شوی. د افغانستان لږ تر لږه ۲،۵ میلیونه خلک وژل شوي، ۳ میلیونه معیوب دي، څو میلیونه ځوانې مېرمنې مو کونډې شوې او د هېواد هر ګوټ په یتیمانو ډک دی. د افغانستان بله ستونزه لوړه ده چې د ټولنیزو ستونزو مور ده، نو په افغانستان کې د نړیوالو مؤسسو او ملګرو ملتونو له مالوماتو سره سم د افغانستان لږ تر لږه ۹ میلیونه خلک د لوږې له ګواښ سره مخامخ دي. د افغانستان د کرنې د اوسني وزیر محمد آصف رحیمي په وینا د خوراکه موادو بیه څو ځله لوړه شوې، چې د جوارو بیه تر ۷۴٪ پورې زیاته شوې. د افغانستان زراعت تر ۴۳ ٪ پورې ښکته شوی او د زراعتي موادو بیه تر ۱۲۲ ٪ پورې پورته شوې. دغه خبرې ټولې یوه ټولنیزه سفسټه ده چې خلک کله ګنګسک وساتي او پر ستونزو پرده واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په ستونزو کې پرته له ټولنیزو کړکېچونو د اپینو کرل او د رویدیو وګړو ستونزه هم ډېره غوره ګڼل کېږي، چې په وروستیو کلونو کې له ایرانه رااوښتي افغان وګړي په هیروییینو روږدي دي، بوتې فقیر (چرس) خو د هر چا په لاس کې لیدل کېږی، په موپره یې جوبونه ډک کړي دي او د کوټر جامونه خو یو شمېر په کوڅو کې په سره اړوی او د ولنتاین په ورځ د کوټر خومونه ماتوي او د میخانو په کوڅو کې د خیام کلیات زمزمه کوي.

ما له ډېرو افغانانو سره خبرې کړې دي او د یو شمېر افغانانو لیکنې هم لولم، چې یو شمېر یې د افغانستان ستونزه د افغانستان په جیوپولیټیک کې ګوري او څوک هم افغانستان په «سه کشور فارسي زبان» کې مدغموي او بل هم ځبرځواکونه د افغانستان په ستونزو کې ورګډوي.

د جیوپولټیک په اړه د افغانانو استدلال هم په زړه پورې دی، چې یو وایي افغانستان د بحر اوبو ته لاره نه لري او بل بیا وایي، چې د ځبرځواکونو د امپراتوریو په څلورلاره کې پروت دی او یا وایي چې افغانستان د ببلابېلو کولتورونو ځانګړه ده، نور بیا د وربښمو د لارې ببولالې ډنګوي، خو که د جیوپولیټیک پروسیجر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

سم پام وشي، نو یو افغانستان د نورو ملکونو په وچه کې منحصر نه دی، خو د افغانستان تر څنګ اوزبکستان هم د ګنښمېر ملکونو سره سرحد لري او د بحر اوبو ته لاره نه لري، مګر بیا هم د خپلو ټولنیزو او اقتصادي شرایطو سره سم خپل هېواد ته وده ورکوي، په ټولنه کې سمه اداره لري او وګړي یې هم سوکاله ژوند کوي.

افغانان هرې ټولنیزې پېښې ته یو ځانګړی تعبیر او تفسیر لري. په افغانستان کې هېڅ افغان ملامت نه دي او هېڅ سیاسي ګوند یا سیاسي بهیر د افغانستان په کړکېچونو کې ګرم نه دی. د افغانستان د کړکېچونو عاملین نړیوال ځبرځواکونه، ګاونډي هېوادونه او یا هم نور ملکونه یادوي، مګر د تاریخ پاڼې د افغانستان پېښې په خپل ګوګل کې ساتلې دي او د وخت په تېرېدو سره به خپل تاریخي ټټر پرانیزي او قضاوت به نورو ته پرېږدي.

رابشو دې ته چې په وروستیو لسو کلونو کې په افغانستان کې څه تېر شوي دي او د افغاني ټولنې د ستونزو شالید څه شی دی. د افغاني بحثونو په اوږدلو او د لیکنو په لوستلو د انسان پام دې ته کېږي، چې په افغانستان کې ستونزې د سیاسي بې اتفاقي او ټولنیز ذهني انارشیزم پایله ده، ځکه چې د افغانستان په اړه په سفسټو کې ټولې ډلې تپلې لاهو دي، چې کله ژبنیز دوآلیزم کې ونښلي او کله هم په سیاسي ګرداب کې په ډوبېدو شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځي. چې د افغانستان ستونزو ته په سلیم عقل فکر وکړو، د سر په سترګو ورته وګورو، له ټولنیزو معیارونو سره سم د ستونزو پلټنه وکړواو د حل لارې یې وموموِ، چې په دې برخه کې د ټولنې ایتنیکي جوړښت، ژبنیز اغیز په سیمو او د هېواد په کچه هغه فکتورونه دي، چې زمونږ ټولنه یې وېشلې ده او زمونږ روڼاندې هم د احساساتو په څپو تاوده دي او د خپلو سیاسي سلیقو له غوښتنو سره سم اوبه تر بوسو لاندې تېروي.

د افغانستان قومي جوړښت کې د لږکیو او ډیرګړي ټبر په اړه هم سیاسي چلند کېږي. په نړۍ کې ببلابېلو څېړنو ښودلې ده، چې د افغانستان لوی ټبر پښتانه دي، چې اټکل یې **۵۵** سلنه تر ۷۰ سلنې پورې رسېږي، مګر استخباراتي سازمانونه هم دغه فکتور د افغانانو د جنګولو او د ټولنې د بې ثباته کولو لپاره کاروي، چې د امریکا (CIA) هم د ۲۰۰۱ میلادي کال په درشل کې یوه احصاییه خپره کړه، چې د پښتنو شمېره یې ۳۸ ٪ ښودلې وه، چې په افغانستان کې یې د لږکیو یو شمېر سیاسي څېړې دې ته وهڅولې چې د پښتنو پر ضد خپلې تبلیغي لیکنې خپرې کړي او د ژبه یانې «د افهام او تفهیم وسیله» تر وراشې لاندې د پښتو د ودې، خپرېدو او خورېدو د مخنیوي هڅه وکړي، چې پایله یې د ټولنیز بېلتون رمبارې شي. د دغه غیر ملي دریځ په ترڅ کې یو شمېر افغاني سیاستوالو د افغانستان له نامه سره خپله کرکه وښودله چې «افغانستان یک نام جعلیست»،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو بیا د خراسان ببولالې پیل کړې، څوک هم د آریانا خوبونه وینې او یو شمېر د فدارلیزم په وړانګو تاوده دي، یانې اوبه خړوي او کبان پکې نیسي.

افغانانو د خپل سیاسي پایښت لپاره تل هڅه کړې چې لنډمهاله ستراتیژي یوازې د واکمن پاتې کېدو لپاره وکاروي، چې پایله یې د خپلمنځیو شخړې او جګړې شوې، مګر هېڅ سیاسي سازمان د دې هڅه و نه کړه، چې د یو باثباته افغانستان لپاره اوږد مهاله ستراتیژي جوړه کړي او د هېواد د پرمختګ لپاره د اقتصادي بنسټ په رڼا کې د ودې پلانونه پلي کړي، برعکس افغانستان یې د خپل ایدیالوژیکي افراط او تفریط قرباني کړ. د افغانستان وګړو ته یې هم سمه لاره و نه ښودله او هغوی یې هم ټولنیزې انارشي ته وهڅول او بېلتون ته یې ولمسول. له بده مرغه اوسمهال هم ډېر افغاني روشنفکران په ذهني انارشیزم کې لاهو دي او د هېواد وګړي د خپلې سیاسي بې وسې قرباني کوي.

د افغانستان په غمیزه کې ټولیزې رسنۍ یا میدیاکراسي هم خلک د ډیموکراسی او سوټه کراسي تر څنګ د بدمرغي کندې ته ورټیل وهلي او په یو ځانګړي ډول د خلکو په اذهانو خپل اغېز پرېږدي. نن سبا په هېواد کې ۳۲ تلویزیوني خپرونو، ګڼشمېر ویدیو کلپونو، سینماوو، په سلهاوو راډیو ګانو او په زرهاوو چاپي خپرونو په افغاني ټولنه کې د پردیو کولتوري یرغلونو ته زمینه په هېواد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامنځ ته کړي، چې خلک د یو او بل پر ضد لمسوي او یا هم لکه چې ویل کېږي «ښځو ته غیبت او سیالي په میراث پاتې وي»، خو په افغانستان کې ټولې سیاسي او کلتوري ډلې ټپلې هم د یو او بل په سپکولو کې لاهو دي، مګر د افغانستان د اداري سیستم، امنیت او ټولنیزې ودې لپاره هلې ځلې نه کوي، چې خپل وخت هسې په حاشیو او کنایو تېروي.

د افغانستان د ناسمې ټولنیزې ادارې له کبله د افغانستان له جغرافیایي موقعیت نه هم سمه ګټه نه پورته کېږي. افغانستان د منځنۍ آسیا او د هند د بحر په منځ کې پروت دی، چې د ترانزیت یوه اغیزناکه لاره پرې تېره ده او د تورکمنستان، اوزبکستان، تاجکستان او داسې نورو ملکونو د طبیعي زېرمو د ترانسپورت شمزی جوړوي. د دغه سیمې د تیلو د پایپلینونو یوه لنډه لاره ده، چې پاکستان، هند او چین ته د دغه انرژي د ترانسپورت یوه غوره سیمه ګڼل کېږي، مګر افغانان په خپلمنځیو شخړو او جګړو کې بوخت دي، چې پایله یې په وروستیو ۴۰ کلونو کې د الترناتیف پایپلینونو د جوړولو امکانات رامنځ ته کړل، یا د افغاني ترانیزت د لارې پر ځای نورو ملکونو نوي بدیلونه رامنځ ته کړل او افغان له دغه ګټورې پروژې له پلي کولو نه محروم پاتې شو او خلک یې د غربت او لوږې په برېو کې لاهو شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د امریکایي تیري هم لس کاله پوره شول. د وروستۍ لس کلنې جګړې په اړه هم باید په ځانګړو معیارونو اتکا وشي، چې د جګړې بېلابېل اړخونه پکې راڅرګند شي. په نړیوالو خپرونو کې داسې څرګندونې کېږي، چې د افغانستان ۸۵ ٪ خاوره د طالبانو تر کنټرول لاندې ده. د لویدیزوالو د عسکرو د مړینې او ټپې کېدو شمېره هم د تېر کال په پرتله څو ځله لوړه شوې ده. د جګړې لګښت په افغانستان او عراق کې هر کال له ۸۰۰ میلیاردو ډالرو نه اوښتې ده، چې د لویدیز ملکونو اقتصادي بهران یې رامنځ ته کړی او ډیر لوېدیزوال په دې هڅه کې دي، چې خپل سرتېري له افغانستان وباسي. دغه ټول فکتورونه دې ته ښودنه کوي، چې امریکا له تېښتې سره مخامخ ده او له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل یوازې د وخت مسئله ده.

داسې ګومان به وکړو، چې لوېدیز ځواکونه له افغانستان ووتل، نو بیا به په افغانستان کې څه پېښېږي. آیا د نویمو کلونو پېښې به بیا تکرارېږي، که طالبان به بیا واک ته رسول کېږي، یا به د حزب اسلامي واکمني رامنځ ته کېږي او د شمال ټلوالې جګړې به پیلېږي او یا دا چې افغاني روڼاندي خپل مسؤلیت پرځای کوي او یوه نوې لاره رامنځ ته کوي، چې د افغانستان د زعامت د پېټي مسؤلیت پر غاړه واخلي، د ټولو دخیلو ډلو د تفاهم او ګډ کار امکانات رامنځ ته کړي او یو سمسور افغانستان جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو به وایي، چې ټول افغاني کارپوهان یوازې د افغانستان د ستونزو یادونه کوي او د نیوکې ګوته یې ټولو ته نیولې، تر یوه حده د هېوادوالو خبره او اندېښنې پر ځای دي، مګر د تېرو پېښو په یادولو کېدای شي، چې موږ سمه لاره وټاکو، سم او ګټور وړاندیزونه وکړو. دا موږ منو چې په وروستیو لسو کلونو کې د ښوونې او روزنې په برخه کې ګټور ګامونه پورته شوي، نن سبا په هېواد کې له ۷۰۰۰ ډېر ښوونځي فعاله دي او له ۹ میلیونو ډېر ماشومان، هلکان او نجونې ښوونځیو ته ځي، خو ستونزه دا ده، چې په نصاب کې ټولنیزو ستونزو، ایتنیکي او سیاسي شخړو ته لمنه وهل کېږي، چې بیا یې هم افغاني ټولنه قرباني ده.

په افغانستان کې نن سبا پارلماني سیستم رامنځ ته شوی، مګر په پارلمان کې څوک ناست دي. تاسو په خپلو سترګو ولیدل چې په ټاکنو کې درغلي وشوه او یو شمېر د خلکو استازي (که د زورواکانو استازي) په غلا شویو رایو پارلمان ته لاره پیدا کړه او دا دي لږ تر لږه څو لسیزې کېږي چې د افغانستان چارواکي په اخلاقي او اداري فساد لړلي دي، نو پایله د افغانستان د غمېزې تلپاتې کېدل دي، چې موږ یې شاهدان یو.

پایله

د افغانستان د پرمختګ او دخلکو د هوساینې لپاره باید په هېواد کې د اخلاقي فساد پر ځای انساني ارزښتونه پیاوړي شي. د اداري

(c) ketabton.com: The Digital Library

فساد د چارواکو پر ځای دې د پاک وجدان څانګپوه خلک وګومارل شي. په رسنیو کې دې ریښتني افغاني او انساني ارزښتونو ته کار وشي. په افغانستان کې دې سیالیو، تربګنیو او انسان وژنې ته د پای ټکی کښښودل شي. د دغه پورته یادو شویو ستونزو د ضمانت رښکی. د هېواد د پاک نفسه خلکو یو ځای کېدل، ملي ارزښتونو ته ارج اېښودل او په هېواد پالنه د خلکو روزل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د جګړې ستراتیژیک اړخ

د هالند د نیوخین ښار په غونډه کې د لیکوال د شفاهي وینا لنډیز
د اکتوبر اتمه ۲۰۱۱ م کال

دوکتور م ، ع ، تره کی

د سړې جګړې په پای کې د ناټو د شته والي منطق چې د نړیوال کمونیزم سره مقابله وه ، له منځه ولاړ . خو هغه ځانته بل ماموریت غوره کړ: د اسلام پالنې او هغه سره د تړلي تروریزم په وړاندې جګړه.

کمونیزم سره جګړې دفاعی بڼه درلوده. خو د بنسټ پالنې او تروریزم سره یې تعرضي ډول ومونډ چې افغانستان، پاکستان او عراق د جګړې د ډګر او مقدمي جبهې په ډول وروپیژندل شول.

د دغه واقعیت په نظرکې نیولو سره چې دری واړه هېوادونه د پام وړ ژیوپولتیک موقعیت لري، د وخت په تېرېدو سره جګړه د خپل لومړنیو ټاکل شویو موخو څخه ووته او ستراتیژیک او ژیوپولتیک استقامت یې غوره کړ. د دیموکراسۍ او د بشري حقونو څخه ملاتړ ورسره ګډ شو. د نومورو ارزښتونو څخه جګړه ییزه دفاع هغومره زور

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخیست چې د جګړې میدان د تیل او ګاز د سرچینو په نړیوالي کې موقعیت درلود.

په سیمه کې د ناټو د پروګرامونو د پلي کولو په مقصد افغانستان مرکزي حیثیت وموند. افغانستان باید په بشپړه توګه لاندې شي، تر څو چې د هېواد د ننه او د باندې د ناټو د پروګرامونو د تطبیق زمینه برابره شي.

د افغانستان د هضمولو په نیت ناټو په دې لټه کې شوه چې د نظام د ننه او د باندې د قدرت د جوړښت هستي له منځه یوسي. خو دلته د څو کورنیو او بهرنیو ستونزو سره مخ وه.

کورنۍ په دې معنی چې:

ـ طالبانو بیا سر راپورته کړ.

ـ د پردیو په لاس جوړ شوی حکومت د لازیات قدرت او واک دعوا مطرح کړه.

بهرنۍ په دې مفهوم چې:

پاکستان، ایران، چین او روسیه په غیر مستقیمه توګه د وسله وال مقاومت په ملاتړ د ناټو په ضد جګړه ییز اقدامات تر اجرا لاندې ونیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناټو د نومورو کورنیو او بهرنیو ستونزو د لري کولو په مقصد پراخ پروګرام تنظیم کړ.

د کورنۍ ستونزو په وړاندې اقدامات:

لومړی- د لومړي خنډ یعنې د طالبانو د تحریک د له منځه وړو په نیت د جګړې یو سیمه ییز پلان چې افغانستان او پاکستان په کې شامل وو تنظیم شو: طالب د پښتون سره په ترادف کې قرار ونیو او ورسره جګړه اعلان شوه. د جګړې اصلي لنګر د پښتنو په میشته سیمو کې متمرکز شو. د پښتون قبیلوی جوړښت، دا د ښکیلاک ضد تاریخی مورچل تر ګوزارونو لاندی ونیول شو. په کلیو او باندو باندې بیرحمانه بمباري وشوې چې په کې په زرګونو ملکیان ووژل شول. د قومي او مذهبي مشرانو په وژلو سره، جګړې د ژنو ساید (عام وژني) بڼه غوره کړه.

واقعیت دا دی چې د پښتنو په ضد یوه لویه نړیواله توطئه چې په کې افغاني کړیو، د سیمې او د سیمې نه د باندې قومونو او هېوادونو ګډون درلود، سازماندهي شوې وه.

د توطئې اصلي مقصد د طالب د وژلو تر نامه لاندې د جګړې د لمنې جغرافیایي پراختیا، دوام او ورسره د پښتنو د مقاومت فزیکي او انساني قوت ماتول وو؛ تر څو چې د افغانستان د ننه د اشغالګرو قوتونو په ګټه د یو مزدورې واکمنۍ د ساتنې زمینه برابره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسپوڅې واکمنې په سیمه کې د ناټو د ستراتیژیک افزار (لاسوند) په توګه وکارول شي.

دویم- د ناټو په وړاندې د نظام د ننه لوی ګوابس، دا وو چې د اساسي قانون په بنسټ باندې د ریاستي نظام په نافذیدو سره، د حکومت تر واک لاندې د اداري چارې د تمرکز پروسه پیل شوه.

خو ناټو او په ځانګړې توګه امریکایانو نه غوښتل چې د یو باصلاحیته حکومت د حساب او کتاب او جنجال سره مخ شي. د یوه کمزورې واکمنۍ د جوړیدو په مقصد لاندې اقدامات ترسره شول:

- په حکومت کې ځینې کلیدي وزیران د ناټو د غړیو هېوادونو په واسطه (غوښتنه) وټاکل شول.

- پخپل سر والیان وګمارل شول.

- افغانستان ته پولي او اقتصادي مرستې د غیر حکومتي چینلونو له لارې تأمین شوې.

- د امنیتي ارګانونو عملیاتي ظرفیت په حد اقل کې وساتل شو او امنیتي خصوصي کمپنۍ ګانې د حکومتي ارګانونو په وړاندې د سیال په توګه وکارول شوې.

- د حکومت په وړاندې دستوري سیاسي اپوزیشن جوړ شو. اپوزیشن ته د پارلمانتریزم او فدرالیزم نسخې ورکړل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د ولسمشرۍ او پارلماني انتخاباتو په پروسه کې د ګمارل شوو کسانو په ګټه لاسوهنه وشوه.

ـ د وروستیو پارلماني انتخاباتو په پروسه کې د پراخې لاسوهنې محصول یوه ولسي جرګه جوړه شوه.

د بهرنیو ستونزو په وړاندې اقدامات:

په سیمه کې د ناټو حضور د قواوو سیمه ییز انډول ته د ناټو په ګټه او د سیمې هېوادونو په تاوان بدلون ورکړ او د امریکا په وړاندې بې حساسیتونه راوپارول.

د ناټو په ضد د سیمې د هېوادونو منفي جګړه ییز غبرګون هغه وخت زور وموند چې امریکا د افغانستان سره د ستراتیژیک ټرون موضوع مطرح کړه. د ناټو په وړاندې تحریکات په دوه سوله ییزو او جګړه ییزو استقامتونو باندې قرار لري:

سوله ییز په دې معنې چې د « شانګهای » په سازمان کې د افغانستان د شاملولو هلې ځلې چټکې شوي.

جګړه ییز په دې مفهوم چې د وسله والو مخالفینو جنګي ظرفیت پیاوړتیا ته پام اړول شوی: دوی په نویو وسلو د هغې جملې نه په پرمختللو الوتکو ضد توغندیو باندې سمبال شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د اشغال د مخالفو هېوادونو په منځ کې پاکستان ځانګړی ځای لري: پاکستان او تروریزم ضد نړیوال ائتلاف د افغانستان په لس کلنه جګړه کې په دوه ټکو کې ګډ دریځ درلود:

ـ د پښتنو بشري او جنګي پوتانسیل کمزوری کول.

ـ د اسلامي رادیکالیزم د هغې برخې سره مقابله چې دواړو اړخونو ته ګواښ راپیښوي.

پاکستان او تروریزم ضد نړیوال ائتلاف په لاندې مسائلو باندې سره اختلاف لري:

ـ په افغانستان کې د امریکا اوږدمهاله حضور د نظامي اډو د جوړولو د لارې.

ـ په افغانستان کې د هندوستان نفوذ.

ـ د جګړې جغرافیائی حدود: پاکستان هڅه کوي چې جګړه د افغانستان د ننه پاتې شي. خو نړیوال نظامي ائتلاف لیوالتیا لري چې جګړه د باندې صادره شي.

په افغانستان او پاکستان کې د کړکیچ ساتنې او د جګړې د اوږدېدو د ستراتیژي د پلی کولو په مقصد، امریکا او ناټو په څو اقداماتو لاس پورې کړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د حقاني شبکه په تور لیست کې شامله شوه.

ـ د بن په دویمه غونډه کې د وسله وال مقاومت ګډون متنفي اعلام شو.

ـ د افغاني امنیتي اورګانونو د بې کفایتي د اثبات په مقصد (چې لاره په افغانستان کې د بهرنیانو د اوږدمهال حضور لپاره برابروي)، د امنیتي اورګانونو د صلاحیت د انتقال د پروسې نندارې ته اړښودل شوی.

ناټو په افغانستان کې د کړکیچ د ساتنې او د جګړې د اوږدیدو د ستراتیژي نه، د څو مقصدونو لپاره ګټه پورته کوي:

ـ د بنسټ پال اسلام، کوم چې د القاعدې سره تړاو لري، د قیام مخه نیول

ـ د یوه ګوډاګي حکومت چې په سیمه کې د ناټو د ستراتیژیکو موخو لپاره کارول کېږي، د جوړښت و په اراده د دیورند د دواړو خواو پښتنو چې ښکیلاک ضد ستر قومي ځواک جوړوي، انساني او فیزیکي قوت ماتول او جنګي پوتانسیل یې کمزوری کول.

ـ د جګړې د لارې د لویدیځ تمدن د ارزښتونو تپل.

د ولسمشرۍ او پارلماني تیرو انتخاباتو چې په کې بهرنیانو د یوه ګوډاګي نظام د جوړښت و په نیت لاسوهنه وکړه، وښودل چې بهرنیان لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر لږه اوسمهال د واقعي ډیموکراسۍ نه، چې په کې په امن او آزاده فضا کې د جنګ ځپلو سیمو د ولسونو آزاده اراده تمثیل شي، ویره لري.

قومی اکثریت، دا د ناټو او امریکا د تپل شوې جګړې قربانیان، باید وځپل شي، تر څو چې د اشغال او درغلي نه رازیږیدل شوی نظام پاتې شي.

***

در افغانستان از یک دهه به این سو ائتلافی از جنگ سالاران متهم به جنایات جنگی و تکنوکراتان معامله گر به زور قوت های مهاجم خارجی قریب 80 هزار افغان را از هستی ساقط کرده است. هزاران دیگر را معیوب نموده است. از شمار بیوه و یتیم جنگ احصاحیه یی در دست نیست.

حاکمیت محصول اشغال بیش از نیمی از قلمرو ملی را به میدان جنگ قوت های مهاجم تبدیل و به کندواله بدل کرده است. اینهمه تلفات به دلیل عدم شناخت واقعیت ها و اشتباه در محاسبات ستراتژیک امریکا و ناتو مرتکب دو اشتباه بزرگ گردید که موجب دوام جنگ و تلفات زیاد انسانی و پولی گردید:

(c) ketabton.com: The Digital Library

یکی اقدام سراسیمه برای متلاشی ساختن حکومت طالبان، پس از انفجار نیویارک، در شرایطی که رهبران آنها حاضربه مفاهمه بودند.

دیگری تمرکز عملیات نظامی در مناطق جنوب کشور به قصد قتل عام پشتون های دو طرف خط دیورند.

ازان جائیکه پشتون ها با سابقه تاریخی مقابله کامیاب با قوت های مهاجم، در خط السیر اکمالاتی ناتو از بندر کراچی تا کابل و قندهار مسکون اند و امکان کافی حمله به کاروان های لوژستیک و مسدود ساختن شاهراه را بدست دارند، اقدام امریکا و ناتو را در مقابله خونریز با پشتون ها میتوان نشان بی ملاحظگی، سراسیمگی و جنون نامید. ناتو در دشمنی با پشتون ها در واقع شاهرگ تغذیه جنگ تحمیلی خود را مسدود ساخت و زمینه بلند بردن مصرف جنگ و نهایتاً شکست خود را فراهم نمود.

اکنون وقت آن رسیده است که به این جنگ تحمیل شده و غیر عادلانه پایان داده شود. قراینی روی دست است که همه جناح های مقاومت از یک پلان صلح که در محور آن، تشکیل یک حکومت بیطرف، مسلکی و موقتی برای انتقال کشور از حالت جنگ به صلح قرار داشته باشد، حمایت میکنند.

کانفرانس فعلی چند امکان را بدست میدهد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ استفاده از پلان های مطرح صلح از جمله پلان «د افغانستان د نجات جرگه» و یا تنظیم یک پلان جدید صلح.

ـ تعیین یک هیأت صلح از داخل یا خارج کانفرانس. هیأت در کانفرانس های آینده صلح در داخل و یا خارج افغانستان اشتراک خواهد کرد و وظیفه خواهد داشت تا میان طرفین منازعه وساطت کند و موافقت جوانب را به پلان صلح جلب نماید.

به چند نکته باید توجه نمود:

ـ در کشور هائیکه مردم آن در حال جنگ با قوت های مهاجم خارجی قرار دارند ، استقلال و تمامیت ارضی کشور را تناسب قوای جنگی تثبیت میکند.

قوت های خارجی طی ده سال دست به اقداماتی زده اند که قرینه سوء نیت آنها در رابطه به تمامیت ارضی افغانستان است. تعیین برخی وزرا ، والی ها و وکلا ولسی جرگه روی خطوط قومی و تحریک شان علیه یکدیگر و حکومت مرکزی، حاکی از وجود یک پلان شیطانی در رابطه به صلح، ثبات و سلامت افغانستان است.

درین حال و احوال مقاومت مسلح یگانه نیروی رزمنده ضامن استقلال و حافظ تمامیت جغرافیائی کشور تلقی میشود. بناً اشتراک مقاومت مسلح در کانفرانس آینده صلح بن دوم نه تنها برای تحقق

(c) ketabton.com: The Digital Library

داعیه صلح ضروری است، بلکه ضمانتی است، برای اعاده استقلال و پاسبانی از سلامت کشور.

- حکومت فعلی طی ده سال با کشتار هزاران افغان در همکاری نزدیک با قوت های متجاوز خارجی قرار داشته است.

این حکومت با داشتن سابقه برخورد با مقاومت مسلح و شرکت در جنایات قوت های خارجی حین عملیات نظامی به اندازه قوای خارجی مسئولیت دارد. بناً نمیتواند ماموریت صلح داشته باشد. صلح از طریق مذاکرات مستقیم میان قوت های مهاجم و مقاومت مسلح امکان پذیر است.

- از آن جائیکه نظام موجود محصول اشغال است، دوام کار آن به معنی استمرار جنگ ضد اشغال قیاس میشود.

برای دادن نکته پایان به جنگ، حکومت فعلی باید در کانفرانس آینده بن الزاماً استعفای جمعی اعضای خود را مطرح کند. هیأتی که از جانب کانفرانس فعلی برای اشتراک در کانفرانس بن تعیین میشود، با مشوره با مراجع ذیدخل داخلی و خارجی، الترنتیف جانشین حکومت مستعفی را در چوکات پلان صلح «د افغانستان د نجات جرگه» تحت غور قرار میدهد.

در اخیر پیامی هم به مقاومت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوضاع طوریست که صرفاً فشار جنگ استقلال و سلامت افغانستان را تضمین میکند و راه رسیدن به صلح عادلانه را هموار مینماید. بناً تا زمانیکه امریکا و ناتو اراده سیاسی صادقانه برای تضمین سلامت افغانستان و صلح ابراز نکرده اند ، مقاومت مسلح باید:

ـ رابطه تکتیکی خود را با هم پیمانان اعم از گروه ها و کشور ها در جبهه جنگ قطع نکند. فشار جنگ بالای قوت های مهاجم نباید موجب تلفات ملکی و زمینه سازی برای تقویت رادیکالیزم اسلامی شود.

ـ امکان بیشتر اعمال نفوذ در اورگان های امنیتی افغانی مورد توجه قرار بگیرد.

ـ به منظور ایجاد هم آهنگی در فعالیت های مبارزاتی، با مقاومت غیر مسلح از ردیف تعلیم یافته های بیرون مدرسه، ارتباط ساختاری (تشکیلاتی) تأمین گردد. « پایان»

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا به ټولېږو یا به ورکېږو

ډاکټر عبدالمحمد درمانګر

د نن څخه په تېرو، یوه ورځ باندې لسو کلنو په ترڅ کې زمونږ د ننني هېواد تباهۍ او بدمرغۍ دومره زیاتې وې، چې د هغو له کبله د همدې مودې د نیکمرغیو په ګټه د نسبي بریاوو څېړې په آسانه د لیدو وړ نه دي. په زغرده ویلای شو چې ګناه یوازې او یوازې د روانې جګړې په غاړه ده. خو دا د تېرو لسو کلونو مهال او ورسره څېرمه جګړه، له دې نه پخوا د یو ویشت کلن مهال او اړوندې جګړې څخه یې را ښېلول د ویالو، سیندنو او سمندرونو د اوبو د ښېلولو کار ته ورته دي. دا اوسنۍ جګړه د اصل او نسب له رویه، د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په اوویشمته نېټه، زمونږ په پاکه خاورې باندې د شوروي پوځي تېرې څخه د را پیدا شوې جګړې کړوسۍ او د څېرې او طبیعت له رویه ډېره پېچلې ده. سره له دې هم د یادو شویو جګړو دا لاندې درې اړخیزه ورته والی له سترګو څخه دغورځولو نه ښکاري:

- لومړی دا چې د دغو جګړو په تنورونو کې تر ټولو زیات د افغان هېوکي سوځېدلي او لاهم سوځي؛ او په هغو کې د بهرنیو ښکېل شویو ځواکونو د زور او افسون له لاسه «ډېره زما واک یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا» کانه وشوه. په دې توګه له جګړو سره اړونده ملي اهداف یا دا چې بیخي له پامه وغورځېدل، او یا خو د بهرنیو ځواکونو د اهدافو ترشا پټ شول.

- دویم دا چې د دغو جګړو په مهالونو زمونږ پتمن اولس د پردیو بدخواهانو ظالمانو او کورنیو مختورو ناځوانانو په سحر او لمسون اندام اندام شوی او د نورو بدمرغیو سربېره د ورور وژنې توریې بلا په منګولو کې هم را ایسار دی. له همدې امله دغه سرلوړي او باتوره خلک د خپلو سیالانو له ډلې څخه رابېل شوي او د ستونزو د پرېمانتیا له رویه د خوارکیو سومالیایانو په څنګ کې ځای لري.

- درېیم دا چې نومورو جګړو کې د اسلام پاک دین د عقیدتي پیاوړتیا څخه کار اخیستل ډېره ستره ونډه لري. د هرې تیرې جګړې په پای کې دیني او عقیدتي مشران، چې زمونږ خلک یې د دین شتمني بولي، خپلو حجرو جماتونو او خانقاوو ته د ببرته ستنېدو پرځای د سیاست په خوسا شویو ډنډونو کې لاهو شول. په دې توګه دیني او عقیدتي سپېڅلې او ناپایه پوهنیز کار له اجرائیوي تقنیني او قضائي ټولنیزو کارونو سره یو شانته سره غوټه پیدا کړه. د پورتني درې څنډیزه چوکاټ د ننه پېښو دا یو دېرش کاله کېږي چې زمونږ د اولس ژوند او هیلې خاورې ایرې کړي دي.

د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په اوومه نېټه د امریکا متحده ایالاتو، د ناټو د یو شمېر غړو او ځینو نورو هېوادونو په ملاتړ، د ملګرو ملتونو د پرېکړې له رویه، چې ځینې حقوق پوهان د هغې په مشروعیت شکمن دي، په واشنګټن او نیویارک باندې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د یوولسمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نېټې د تروریستي ورانکاریو د غچ اخیستلو او تروریستي ځالو ته د اور لګولو په تکل، زمونږ په خاوره باندې پوځي خونړي بریدونه پیل کړل. داسې ګنګوسې کېږي چې دغه راز بریدونه د هغه وخت امریکایي او انګلیسي مشرانو د سیپټمبر د یوولسمې پېښې لا دمخه په پام کې نیولي وو. له دغو بریدونو څخه را پیدا شوې جګړه تر دا اوسه پورې نه یوازې زمونږ هېواد کې په زیاتېدونکي شدت روانه ده، بلکه عراق، سومالیا، یمن او پاکستان یې هم د خپلو اورونو په لمبو کې راګیر کړي دي. او خدای خبر چې په کوم ځای کې به ختمه شي.

که څه هم خلک له تروریزم څخه د هغه د ویرې او وحشت له رویه ډېره کرکه او نفرت لري، خو د تروریزم ضد، پولې نه پېژندونکې یوه جګړه، د نړیوال ژوند له دود او دستور سره په ټکر کې ښکاري.

زمونږ په هېواد کې د تروریستانو او د هغو د پلویانو د له مینځه وړلو او پر ځای یې د یوې نوې آزادې ټولنې د جوړولو بنسټیزه ډېره په هماغه پیل کې کړه کېښودل شوه. اوس که د هېواد دولتي واکدارانو د دې جوګه نه دي چې له خپلې خوښې سره سم د اولس اداره په مخ بوځي، اولس هم نه غواړي چې اداره یې د دغه واکدارانو په خوښه په مخ ولاړه شي. ټول خلک سپږمو ته رسیدلي او د سولې په ګټه بدلونونو ته په ډېره بې خبري سترګې په لاره دي. له بلې خوا هغه اولسونه چې بچیان یې له لسو کلونو راهیسې زمونږ هېواد کې په جګړه لګیا دي، په خپلو دولتونو باندې د زور اچونې له لارې خپلو کورونو ته ډوډۍ د ببرته ستنېدو هیله من دي. د دې ترڅنګه د افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت او د هغه ملاتړ کوونکو دولتونو ترمنځ د باور ستونزې مخ په زیاتېدو ښکاري.

خو دا دواړه خواوې په خپل وار سره له پاکستان سره چې دریځ یې زمونږ په هېواد کې د سولې او جګړې د برخه لیک او حیاتي تأسیساتو د را رسېدو لپاره ډېر ستر اهمیت لري، د یو ډول ساړه جنګ میدان ته د ننوتلو په لور کشول کېږي.

د دوی لپاره د پاکستان د دولت دوه مخیزه او سترګو په رپ کې د چپن بدلولو لوبې نورې د زغملو وړ نه دي. له دغه راز دولت څخه، چې Bill Clinton د Paria یا کم اصل او ناسیاله په نامه یادولی، مخ اړول او د افغانستان په شمالي ګاونډیو هېوادونو کې د وړو راوړو لارې پیدا کوول؛ که څه هم د روسانو او چینایانو د نفوذ انګړ ته د ننوتلو ستونزې لري، خو ګمان نه کېږي چې دوی دواړه به له پاکستان سره دوستي، چې د بنسټ پاله جذباتي فکرونو او هلوځلو کور شمېرل کېږي، له غربي هېوادونو او هندوستان سره د خپلو سوداګري او سیاسي ګټو د لاسه ورکولو په بیه واخلي.

زمونږ په هېواد کې د ننه او د باندې همدغه پېچلې او سربداله کونکې حالات چه له سمندر څخه د یوه څاڅکي په توګه د هغو یادونه وشوه، داسې غوښتنه کوي چې په لومړي توکي د هر ډول تبعیض څخه پرته د سولې او پرمختګ د مینانو په لیکو کې د درېدو په مرسته د یوه داسې سیاسي، سوله ییز او ټولنیز ځواک په پښو درېدو کارونه لا نور هم چټک کړو چې په خپل کور کې د خپل اختیار خاوند وو؛ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو نړیوالو دوستانو سره د سوال یاري پر ځای به د وروري کوو حساب ترمنځ، دود او دستور ته به درناوی کوو.

زمونږ په ننني هېواد کې سوله او نیکمرغي له ایشیا سربېره د ټولې نړۍ له امن او نیکمرغي سره اړخ لګوي. راځی د همدې اوسنۍ غونډې په برکت لا نور هم راغونډ شو، او نړیوالو ته هم بلنه ورکړو چې له مورږ سره د جنګ پرستو د متو په نیولو کې د لاړې مل شي. یوازې د یوه پراخ په سوله او پرمختګ مین خوځښت جوړول دي چې دا اوسنیو له نا امیدیو ډک زړونو ته نوې وینه ورکولای شي؛ له دې نه پرته د اوسني جوړ شوي محشر څخه د راوتلو نورې لارې زمونږ او تاسې شانته کسانو په مخ ترڅې وینم. یا به ټولېږو یا به ورکېږو ! تر منځ به انتخاب سره مخامخ یو.

خدای مو په لوري شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیموکراسي که واک سالاري

ننګیالی بخرکی

تر هغه ځایه چې د ډیموکراسۍ ایډیالوژیکه اصطلاح تر مورډه پورې رارسیدلې ده، دتکامل ډول، ډول پراونه یې تېرکړي هم دي. په نومورې اصطلاح هرځوک پوهېږي چې ډیموکراسي یوه یوناني کلیمه ده او معنا یې د خلکو حکومت پرخلکو. هغه حکومت؛ چې دخلکو په خوښه د یوې ملي شورا د خوا را منځته شي، نو بیا په همدغه ډول خلک په خپله خوښه قانون جوړوي، سیاسي کړنلاره ټاکي او د ګټې وټې (اقتصادي کړنلارې ډول ځانته غوره کوي).

ډیموکراسي په واقیعت کې د خلکو نظام دی او دخلکو په اراده سره منځ ته را ځي، خو که د ډیموکراسي نظام نه وي، نوهغه بیا دلږو ستم دی پر ډیرو خلکو، چې دې ته دیکتاتوري او ارسطوکراسي وایي. ارسطوکراسي همیشه د اشرافو استثمارګرو زورسالاري نظام دی.که د ډیموکراسۍ تاریخ ته ځیرشو، ترمیلاد نه مخکې په یونان کې نومورې اصطلاح را منځته شوه او بیا روم او اروپا ته ورنقل شوه،په فرانسه کې بیا دغه کلمه د جمهوریت په نوم ونومول شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورِ دلته د ډیموکراسۍ د کرونولوژۍ څخه ډډه کوو؛ خو پر دغه به خامخا خبرې وکړو چې ډیموکراټیک ایډیالوژیکي نظام په ټولو هېوادو کې په یوه شان نه وي، بلکې تفاوتونه لري. که هرډول ډیموکراسي هېواد ته راځي، نومورې ډول د ډیموکراسۍ باید خلک خوښ کړي، خلک تاریخ جوړوي او که د ټوپک په زور پر خلکو ومنل شي او یا هم د بهر څخه یوه اوبل هېواد ته وا ستول شي، په دې کې شک نشته چې دغه فکر ناکامه دی.

یو هېواد دبل هېواد سره په فرهنګي میراثونو کې شریکېدای شي، یو او بل هېواد خپل فرهنګ ، علمي لاس ته راوړنې نورو هېوادوته ورزده کولای شي او سره شریکولای شي، خو دا په دې معنا نه ده چې نومورې هېواد دې نور هېوادونه تر خپلې روبنایي اغیزې لاندې را ولي؛ او یا دې خپل نظر پر نورو هېوادو په زوره ومني. یا دې هم په همدغه پلمه دخپلې نظامي مداخلې لپاره لاره پرانیزي. هر هېواد آزادي لري، چې دخپلو ټولنیزو شرایطو پر بنسټ ځان ته قانون – د دولت ډول – وټیزه کړنلاره او داسې نور... معنوي او مادي بنسټونه ټاکي. هغه هېوادونه چې خپل نظر پر نورو هېوادونو تحمیلوي اویا هم خپل د خوښې انقلابونه صادروي هغه هېوادونه بنیادګر هېوادونه دي. دولتونه یې ناکامه او ضعیفه دولتونه وي. دا ځکه چې خلکي پایې نه لري.او د ډیموکراسۍ دبنسټونو مخالف وي.

مورِ د پورته خبرو ثوقه دلایل په اوسني وخت کې دافغانستان، عراق، لیبیا او نورو هېوادو په منځ کې لیدلای شو. هلته دغه لس کاله جنګ روان دی.او د ډیموکراسۍ ټیکداران د ډیموکراسۍ او د بشر د حقوقو، آزاد بازار، ګلوبا لیزم، هیروین او نشې توکوپه پلمه دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادو ته را داخل شوي دي؛ او نظامي جګړه پرمخ بیایي، خو د همدغه لسو کالو په جریان کې کومه ګټه نه ده تر لاسه شوې. «خو نا تار روان دی».

ګرانو هېوادوالو ! په دې چې مقاله مې دیوې رسالې په شان اوږده نه شي، نو خپل مطلب په لاندې څوټکو سره را لنډوم او داچې ولې په افغانستان کې، دولت او ناټو، ناتوانه دي په دغه څو لاندې ټکو کې یا دونه ور ته کوم.

لومړی: ډیموکراسي پرجنګسالارانو نه جوړېږي، نوموړې غوښتنه د ټولنې د وټیز رشد او تکامل سره سمه په یوه معینه مرحله کې را منځته کیدای شي.

دوهم: زموږ په ګران افغانستان کې په لومړي سرکې دتنظیمونو په منځ کې دولتي وا کمنې دژبنیو، قومي او سیمیزو تړاونو په اساس په غیرې عادلانه ډول شلنډې یا وویشل شو.

دریم: په داسې یوه نظام کې چې غوښتنه یې دآزاد بازار د لاري سرمایه داري ټولنه جوړول وي، لازمه ده چې نوموړی رقابت دتولید پرسرپه سالمه توګه تر سره شي، نه داچې تولیدي مؤسسې وترڼ شي، او د دولت شتمني غصب، چور او چپاول شي.

څلورم: د غلو او غاصبینو مخه راوګرځول شي، هغه شتمني، چې دملي عوایدو دلارې په لاس را وړل کېږي یا هم دبهرنیو مرستو پربنسټ تر لاسه کېږي، هغه باید داشخاصو په لاس کې ونه لوېږي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې د دولت په متمرکزه او خوندي مالي حسابونو کې وساتل شي او د ضرورت وړ ګټه ترې وا خیستل شي.

پنځم: ملي امنیت باید ټینګ کړل شي، د ولسونو خوندي کول د ملي دولتونو دنده ده. د هېواد داخلي ستونزې باید د خبرو او پراخو صادقانه جرګو او مرکو د لارې حل کړل شي. تر څو د هېواد د خلکو او ملي امنیتي قوتونو تر منځ یووالی را منځته شي.

شپږم: خپله خاوره باید د نورو هېوادونو د تهدید وسیله ونه ګرځول شي. او نه هم نورو هېوادو ته د مداخلې وخت ور کړل شي، په هېواد کې دننه د پردیو هېوادونو نظامي اډې، چې د همسایه هېوادونو دنا آرامۍ سبب ګرځي، باید اجازه ورنه کړل شي.

اووم: افغانستان باید خپله بې طرفي دپخوا په څېر وساتي او خپلې ستونزې دیوه بې پرې یا بې طرفې ټولنې په حیث دامنیت په نړیواله شورا کې طرحه او حل کړي.

اتم: ملي ګټې ته باید دلومړي توب حق ورکړل شي او ژرتر ژره باید زېربنایي کارونه پیل او د هېواد وټیز حالت ته پاملرنه وشي، تر څو خلکو ته سالم مصروفیتونه پیدا شي.

د افغانستان ځوانان به د جنګسالارانو د منګلو څخه هم خلاص شي او بیا به د جنګسالارۍ په عوض کې ډیموکراتیک نظام پیل کړو. که موږ پورته ټکو ته په ملي صداقت پاملرنه وکړو نو ژر تر ژره به د جنګ او بدبختۍ سندره خا موشه شي او دغه په میراث را پاتې شوې بې وسي به مو هم د پای ټکی وموميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترا تیږیکي ټرون/ سترا تیږیکي اعلامیه

(د اوږد مهالې همکاري ټرون/ اعلامیه)

جمال کټوازی

۱- سریزه،
۲- سترا تیږیکي ټرون/ سترا تیږیکي اعلامیه،
۳- ملي ګټې،
۴- د افغان اوامریکایي چارواکو تر منځ د ټرون د محتوا په هکله د اندونو تو پیرونه،
۵- د افغا نستان او امریکا تر منځ سیا سي، اقتصادي او نظا مي اړیکې،
۶- دټرون د لاسلیک لپاره د افغا نستان دولت تر مخ پر تې ستو نزې،

سریزه:

هر هېواد خپلې ملي لنډ مهاله او اوږد مهاله ګټې لري. کوم وخت چې د دوو یا ډېرو هېوادونو تر منځ کوم ټرون لاسلیک کېږي، نو د هېوادونو استازي تر لویې کچې هڅې کوي تر څو د خپل هېواد ملي لنډ مهاله او اوږد مهاله ګټې په نظر کې و نیسي. زموږ ګران هېواد افغانستان په دې اخیرو لسیزو کې د ډېرو نا ورینونو سره مخامخ شوی. د نړۍ او د سیمې ځینې هېوادونو تر خپله وسه زیار ایستلی، تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو د خپلو سیاسي، نظامي او اقتصادي ګټو په خا طر زمونږ هېواد د جګړو ډګر وګرزوي، چې دا لو به اوس هم لا روانه ده !

ستراتیژیکي ټرون:

ټرون (قرارداد) ددوو یا ډېرو خواوو تر منځ د حتمي پلي کېدو پریکړه لیک ته وایي، چې د ځانګړو ژمنو د تر سره کیدو لپاره لاسلیک او تر سره کېږي.

د دوو هېوادونو تر منځ ټرون د هېوادونو د پارلمانونو له خوا هوکړي ته اړتیا لري او د پارلمانونو هوکړه حتمي ده.

ستراتیژیکي اعلامیه:

اعلامیه یو داسې سند ته ویل کېږي، چې هغه د دوو یا ډېرو خواوو تر منځ د ځانګړو ژمنو د پوره کېدو لپاره لاسلیک او تر سره کېږي، خو کومه ځانګړې حقوقي وړتیا نلري. اعلامیه کیدای شي، چې د دوو هېوادونو د حکومتونو د استازو تر منځ لاسلیک شي. د دووهېوادونو تر منځ اعلامیه د هېوادونو دپار لمانونو هوکړې ته اړتیا نه لري.

ملي ګټې:

د هر هېواد ملي ګټې د هغه هېواد په ځمکني بشپړتیا، سیاسي نظام او همدارنګه ټولنیز، سیاسي، تاریخي، فرهنګي، ملي او اقتصادي ارزښتنو کې نغښتې دي.

د افغا نستان لنډ مها له او اوږدمها له ګټې

۱- دافغا نستان د ځمکني بشپړتیا نه په بشپړه توګه دفاع.

۲- د ملي اردو او ملي پولیسو په پښو درول، تر څو ملي پولیس او ملي اردو په هېواد کې د بشپړ امنیت د راوستلو وړتیا تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د ا قتصادي بنسټیزه پروژو به پښو درول یا بیارغونه او داسې نور...

۴- په هېواد کې د مختلفو قومونو تر منځ د ملي یووالې د را وستلو او ساتولو لپاره ګړندی هڅې.

د افغان اوامریکایي چارواکو تر منځ د ټرون د محتوا په هکله د اندونو تو پیرونه.

د افغاني چارواکو غوښتنې:

۱- د امریکایي سر تېرو شتون په افغانستان کې قانوني کول (دهغوی چلند باید د افغانستان د قوانینو سره سم وي).

۲- امریکایان باید د شپې عملیات بند کړي.

۳- امریکا باید په افغانستان کې خپل زندانونه وټړي.

۴- ټولې مرستې باید د افغانستان د دولت له خوا ولګول شي.

۵- د افغانستان په اقتصادي بنسټیزو پروژو کې باید امریکا پانګه اچونه وکړي.

د افغانستان او امریکا تر منځ سیاسي، اقتصادي او نظامي اړیکې.

۱- په سیاسي، اقتصادي او نظامي اړخونو کې افغا نستان د امریکایانو مرستې ته اړتیا لري. که چېر ته د امریکا او نړیوالې ټولنې مرستې نه وي، نو شاید چې د افغانستان دولت به د دې وړتیا ونلري تر څو د خپل دولت د کار کونکو د یوې میا شتې معاشونه ورکړي؟

۲- په نظامي لحاظ، افغانستان د ځینو ګاونډیو هېوادنو تر ګواښ لاندې دی اود افغانستان امنیتي ځواکونه نشي کولی چې په یوازې سر د هېواد د فاع وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د افغانستان ملي اردو او ملي پوځ په یوازی سر د دې وړتیا نلري، چې په هېواد کې د بشپړ امنیت راوستولو جوګه شي.
۴- افغانان د خپل هېواد د بیارغونې کابو په ټولو برخو کې د امریکا او نورو نړیوالو مرستو ته اړتیا لري.
خو امریکایان هم په افغا نستان کې بیا خپلې سیاسي، اقتصادي او نظامي ګټې لري.
۱- د افغانستان او منځنۍ آسیا د ځینو هېوادونو لکه د تورکمنستان د کاسپین د سمندرګي طبیعي زیرمو ته ځان رسول.
۲- د سیمې او د افغانستان د ځینې ګا وندیو هېوادونو تر نظامي اغېزې لاندې راوستل او داسې نور...
دترون د لاسیک کولو لپاره د افغانستان دولت تر مخ پرتې ستونزې.
۱- د کورني ملاتړ نشتوالی او په افغانستان کې د ځینو کورنیو کړیو مخالفت.
۲- د بهرني ملاتړ (د ګاونډیانو او د سیمې د هېوادونو ملاتړ) نشتوالی او د ګاونډیو او د سیمې هېوادونو اندېښنې.
۳- د افغانستان او امریکا تر منځ د سیاسي، نظا مي او اقتصادي اړیکو نشتوالی.
۴- په پارلمان کې کډوډي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستراتیژیکي اړیکې او ګاونډیان

انجینیر زکریا پوپل

یو شمېر ګاونډي هېوادونه لکه پاکستان، ایران او روسیه دامریکا دمتحدو ایالتونو اونورو لوېدیځو هېوادونه سره دافغانستان دستراتیژیکي ملګرتیا په هکله دټرونونو دلاسلیک کولو څرګند مخالفت کوي.

ظاهراً دامخالفت په افغانستان کې دامریکا دمتحدو ایالتونو دپوځي اډو دجوړېدوپه خاطر دی، خو اصلي خبره داده، چې زمونږ دغه ګاونډي هېوادونه نه غواړي چې افغانستان ته سوله او دایمي ټیکاو راشي او افغانستان په اقتصادي، سیاسي او تخنیکي لحاظ یو پر مختللی او اغېز لرونکی هیواد واوسي. وګورې زمونږ د هېواد جیو ستراتیژیک موقعیت، چې دپېړیو په اوږدو کې یې زمونږ لپاره لویې ستونزې جوړې کړې دي او دنړۍ دزبرځواکونو دیرغلونوسبب شوی دی، کېدای شي یوځل بیا دمنځنۍ او سهیلي اسیا دهېوادونو ترمېنځ دپُل حیثیت خپل کړي او په دې ډول به افغانستان نه یوازې په اقتصادي او تخنیکي لحاظ ډېرې ګټې تر لاسه کړي، بلکې په سیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې به داسې هېواد هم شي، چې پر نورو هېوادونو به پراخ اغېزکولای شي، ځکه نو زمونږ ګاونډیان په خاصه توګه ایران او پاکستان دامریکا او نورو پرمختللو هېوادونو سره دافغانستان دستراتېژیکي ملګرتیا سره مخالفت کوي. خو دوی داخبره په ډاګه ځکه نه کوي، چې دا دنړیوالو حقوقو له مخې د هر هېواد حق دی، چې د هر هېواد سره هر ډول چې وغواړي، همهغسې اړېکې ولري. ځکه نو یو شمېر کسان دا ادعا کوي، چې ایران، پاکستان، روسیه او چین په خپل ګاونډ کې دامریکا دپوځي اډو شتون، دخپل امنیت لپاره ګواښ بولي.

زما له نظره داخبره ببخي سمه نه ده او داخوشې یوه پلمه ده، دا ځکه چې:

-امریکا همدا اوس هم دایران، هم دروسیې او هم دچین په ګاونډ کې پوځي اډې لري او دوی هغه دځان لپاره خطر نه بولي، بلکي دیوه واقعیت په توګه یې مني او د هغو هېوادونو د خلکو او حکومتونو حق بولي، چې چا ته په خپل هېواد کې اډې ورکوي.

-دبلې خوا دنومورو اډو نه دغو هېوادونو ته هیڅ ډول ګواښ نه دی متوجې، نو بیا په افغانستان کې اډې ولې دوی ته دا ګواښ متوجې کولای شي؟

-بله خبره دپاکستان ده. وګوری دحیرانتیا خبره خو داده، چې پاکستان په خپله خاوره کې امریکا ته اډې ورکوي او دهغوی نه دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته خطر نه دی متوجې، بلکې دهغو اډو نه خطر ورته متوجې کېږي، چې په افغانستان کې کېدای شي جوړې شي؟

پردې سربېره پاکستان امریکا ته زاړه کوي، چې ستراتېژیک ټرون ورسره لاسلیک کړي او دپاکستان لومړی وزیر سیدیوسف رضا ګیلاني دامریکا نه داګیله کوي، چې ولي د هند او افغانستان سره ستراتیژیک ټرون لاسلیک کوي، خو زمونږ سره یې نه کوي. که چېرې دامریکا دمتحدو ایالتونو او نورو پرمختللو هېوادونو سره دستراتیژیک ټرون لاسلیک کول او هغوته په خپله خاوره کې اډې ورکول دپاکستان له نظره بد کار وای، نو بیا خپله ولې دابد کار کوي؟

-دغه ټول پورته یاد شوي دلایل پردې شاهدي ورکوي، چې دګاونډیانو د مخالفت اصلي علت دانه دی، چې امریکا په افغانستان کې پوځي اډې جوړوي، بلکې دوی ددې نه وېره لري، چې دامریکا دمتحدوایالتونو اونورو پرمختللو هېوادونو سره دافغانستان دستراتېژیکي ملګرتیا دټرونونو په لاسلیک کولوسره به نور زمونږ هېواد د چم ګاونډیانو د نفوذ د ساحې نه ووزي او دوی به نورنشي کولای په خلاص مټ دافغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-دبلې خوا دوی په دې هم نښه پوهېږي، چې افغانستان دامریکا دمتحدوایالتونو اونورو پرمختللو هېوادونو سره دستراتیژیکو ترونونو په لاسلیک کولوسره، د دې پراخ امکانات پیداکوي، چې په خورا چټکۍ سره داقتصادي او تخنیکي پرمختګ په لور ګامونه اوچت کړي.

ددې کار سره دافغانستان ګټور جغرافیایي موقعیت، سرشاره طبعي زېرمي، دافغانانو زیرکتیا او دپرمختللو هېوادونو اقتصادي، تخنیکي او تکنالوژیکي مرستې بشپړه مرسته کولای شي. ددغه ډول همکاریو او مرستو ببلګې مورږ په المان او ټوله اروپا، جاپان، جنوبي کوریا، ترکیه، چیلي، هانکانګ، ټایوان او نورو کې لیدلای شو.

خوزمورږ ددغو موخو دترلاسه کولو لپاره تر ټولو لومړی او اساسي شرط، په افغانستان کې دسولې او ټیکاو رامنځ ته کېدل دي. زمورږ چم ګاونډیان په دې پوهېږي، چې که په افغانستان کې سوله او ټیکاو راشي، بیا نو:

- دوی نشي کولای دافغانستان داوبو دپراخو زېرمو نه په وړیا توګه ګټه پورته کړي.

-له بلې خوا د افغانستان د اقتصادي او تخنیکي پرمختګ په صورت کې به نو زمورږ هېواد د دوی د ټیټ کیفیت لرونکو توکیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بازار نه وي او نور به دغه هم شوني نه وي، چې دوی هرکال په ملیارډونه ډالره افغانستان ته دصادراتو له لارې ترلاسه کړي.

-او ددغې ملګرتیا په پایله کې به افغانستان ددغو هېوادونو، په ځانګړې توګه دایران دکلتوري ښکېلاک دمنګلو نه هم وزي، چې دا د دوی لپاره تر ټولو ډېره د اندېښنې وړ خبره ده. ایران په تېرو څه دپاسه دوؤ سوؤ کلنو کې افغانستان دخپل کلتوري ښکېلاک په منګولو کې ټینګ نیولی دی. دافغانستان ټول رسمي او اداري سیستم، تعلیمي دستګاه او ان مذهبي موسسات هم د دوی د ژبې او کلتور په چوپړ کې وه. ښه مثال یې په جوماتونو کې دپنج کتاب، بوستان، ګلستان او نورو کتابونو تدریس دی.

-زه په دې باور یم چې که چېرې امریکا اونور لوېدیځ هیوادونه دافغانستان نه، مخکې له دې ولاړ شي، چې موږ په خپلو پښوودرېږو او داوږدمهاله ملګرتیا ترون هم ورسره ونه لرو، نو په دې صورت کې به هرومرو زموږ چم ګاونډیان په ځانګړې توګه ایران او پاکستان زموږ په هېواد کې دکورنیو جګړو اورته لمن ووهي او له ۱۹۹۲ کال نه به بدتره حالت را مینځ ته کړي، خو بیا به هیڅ څوک نه وي چې موږ ته د مرستې او ملګرتیا لاس را اوږد کړي او پایله به یې داوي چې دسومالیا په برخلیک به اخته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-افغانستان دخپل تاریخ دیوه ډېر حساس پړاو نه تېرېږي. دابه دافغانانو په پوهه او درایت پوري اړه ولري، چې څنګه خپل راتلونکی ټاکي؟

-اصلاً زمونږلپاره دامریکا متحدایالتونه او نورپرمختللي هېوادونه خطر نه دي او نه هم هغوی په افغانستان کې اهداف لري. که چېري دځینو مخالفینو خبره سمه هم وي، نو امریکا په منځنۍ اسیا کې اهداف لري. خو ایران، پاکستان او نورګاونډیان دافغانستان دبربادی لپاره ناوړه اوشوم پلانونه لري.

دبل پلوه مونږ هم دنده نه لرو ، چې دنورو هېوادونو دګټو دساتلو لپاره خپلې ګټې په خطرکې واچوؤ او دامریکا دمتحدوایالتونو سره خپلې اړیکې ورانې کړو . هغوی که وغواړي خپله دي دخپلو ګټو ساتنه وکړي. مونږ نه ددې توان لرو او نه هم دامکلفیت.

دنړۍ هر هېواد دې ته اړ دی، چې یو یا څو نژدې دوست هېوادونه ولري.

وګوری ایران اوسوریه دروسیې او چین سره په ملګرتیا کې دلا ډېرو بندیزونو او ان دبرید ګواښ وژغوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان هم دچین سره دنژدې ملګرتیا نه په ګټه اخیستلو سره غواړي دامریکا دمتحدوایالتونو او نورې لوېدیځې نړۍ دبندیزونو مخه ونیسي.

-امریکا کولای شي په نورو هېوادونو کې هم پوځي اډې ولري او دهغوی سره ستراتېژیکي ترونونه لاسلیک کړي. زمونږ په ګاونډ کې ډېر هېوادونه دې کارته لېوالتیا لري، خومونږ دامریکا لپاره التېرناتیف نه لرو.

مونږ ته یوازې پاکستان، ایران او روسیه راپاتې کېږي. دغه درې واړه مونږ په خپل تاریخ کې په وار وار سره ازمویلي دي او دانوره ثابته شوې ده، چې دوی زمونږ لپاره دورانۍ او بربادي نه پرته بل څه نه لري.

آیا زمونږ ملي ګټې دا ایجابوي، چې دامریکا دمتحدوایالتونو اونورو پرمختللیو هېوادونو سره اړیکې خرابې کړو او په لوی لاس ځانونه دخپلو غلیمانو په منګولو کې ورکړو؟ پاکستان او ایران هیڅکله هم زمونږ دوست نشي کېدای.

مونږ هغه وخت د دوی نه ځانونه ژغورلای شو، چې پوه خلک، غښتلی اقتصاد او پرمختللی تخنیک او تکنالوژي ولرو. دا کار یوازې او یوازې دامریکا دمتحدو ایالتونو اونور پرمختللو هېوادونو سره د اوږد مهالې ملګرتیا او همکارۍ په صورت کې شونی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لومړي بن تر ننه؛ د نړیوالې ټولنې د توطیو بهیر

محمد زبیر شفیقي

د ړندو وحشتونو د نوي پړاو پیل:

د شپې شاوخوا (نهه) بجې وې، له معمول سره سم له خپل دفتره راښکته شوم او د سهار ورځپانې پر خپلو همکارانو راوګرځیدم زمور د نن شپې کار مخ پر ختمیدو ؤ، ناڅاپه مې د پاکستان د ملي تلویزیون (پی ټي وي) چینل پر مخ د سي ان ان د عاجل خبر تصویر ته پام شو چې له دوو لویو جګپوړیو ماڼیو څخه له یوې لوخړې اوچتې دي. تصویر ته ځیر شوم د نیویارک د سوداګریز مرکز غبرګوني برجونه دي، یو ویاند په احساساتي لهجه د الوتکې د جنګیدو خبره تکراروي، په همدې کې بله الوتکه راشي او له دوهم برج سره وجنګیږي، د عاجل خبر په توګه د امریکا ولسمشر جورج بوش ویلي چې د دوی ټولې قواوې د تیارسي په حالت کې دي. پر امریکا ترهګریز برید شوی دی او د ده په هغه لومړیو خبرو کې چې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې بیا وضاحتونه کول دا هم وو چې مورږ د بلې صلیبي جګړې پر ډګر ولاړ یوو.

عجیبه پېښه ده، د امریکا پر غبرګونو برجونو الوتکې ورجنګیدلې دي، تر اوسه پورې مورږ د پېښې پر اصلي ماهیت خبر نه یوو، چې پر دې پېښه د نړۍ د سرمشرانو د اندېښنو او غبرګونونو لړۍ پیل شوه د پېښې په تړاو د امریکا ولسمشر د القاعده د مشر اسامه بن لادن نوم واخیست، خو خبره دومره لاسپینه نه وه چې باور پرې وشي، لږ وروسته د کندهار نه د طالبانو د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوی عبدالوکیل متوکل غبرګون هم واوریدل شو چې د نیویارک په برجونو د برید غندنه یې کوله، مورږ ته لومړۍ دغه پېښه یوه ناڅاپي ټکه ښکاریدله، تصور مو نشو کولای چې له همدې شیبې څخه چې د تلویزیون پر پرده مو د نیویارک له غبرګو برجونو سره د الوتکو ټکر او د هغو د رالویدو نندارې کولې د نړۍ د ژوندانه یو نوی پړاو پیلیدو، نړۍ د اعتماد او باور له پخواني نیم بنده حالت سره هم خدای پامانې کوله او د ړندو وحشتونو یو نوی پړاو پیلیدو چې مورږ یې هیڅکله هم په هغو لومړیو نندارو کې تصور نشو کولای.

له بده مرغه په همغه لومړیو شیبو کې افغانستان ته ګوته ونیول شوه ځکه چې د طالبانو د امارت نازولی میلمه (اسامه بن لادن) دلته ؤ او د دې بریدونو تور پر هغه پورې شوی ؤ، د اسامه بن لادن لومړنی غبرګون د دې پېښې په اړه مرموز ؤ، ویې ویل چې په دې بریدونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده لاس نه درلود خو هر چا چې تر سره کړل خدای به اجر ورکړي، وروسته بیا د القاعده نورو غړیو پر دې اعتراف کړی چې دا د دوی ملګري وو د دې پېښې د پلان اصلی طراح خالد محمد شیخ په ۲۰۰۳ زیږدیز کال د اپریل په لومړۍ نیټه په پاکستان کې ونیول شو چې بیا امریکا ته وسپارل شو او اوس د همدغو بریدونو په جرم د امریکا ستړې محکمې په عمري بند محکوم کړ.

زه ببرته خپل دفتر ته لاړم، اوس مې په یاد نه دي چې سرلیکنه مې پر کومه موضوع وه، او له سره مې له غبرګونو برجونو سره د الوتکو د ټکر مساله غوره کړه، بس په خپل اټکل مې دا د فلسطیني مظلوم ولس د مظلومیت د نه ختمیدونکي داستان غبرګون وباله چې دا دي له امریکا نه د اسرائیلو د وحشتونو بدل اخلي، ما په دې سرلیکنه کې د دې پېښې د غندلو تر څنګ د امریکا پر یرغلیزو سیاستونو نیوکې کړې وې، چې دا دي اوس یې ټس د امریکا د سوداګریز مرکز تر نړولو پورې راورسید.

پر سوداګریز مرکز دا دوهم برید ؤ چې دا ځل دواړه برجونه په څو دقیقو کې راولویدل، په ۱۹۹۴ زیږدیز کال کې هم په دې برجونو کې بمي چاودنې وشوې چې مرګ ژوبله یې درلوده او د هغو پړه په رمزي یوسف نومي ور اچول شوې وه چې وروسته هغه هم له القاعده سره په تړاو تورن او په امریکا کې اعدام شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ مې پېښې هغه شیبې وې چې له امریکا او اروپا پرته په آسیایي هېوادونو کې ښایي لږ کسانو د هغو بوږنوونکیو شېبو ژوندۍ نندارہ کړې وي، وروسته وروسته د پېښې د قربانیانو شمېر اود امریکا د ولسمشر او حکومت توند غبرګون ورو ورو له دې پرده پورته کوله چې دا د یوویشتمې پیړۍ تر ټولو ستر خبر دی چې د نړۍ د ملیاردونو انسانانو برخلیک به په اورونو او مرګونو واړوي. پر دې د ټولې نړۍ انسانان سره یوه خوله دي چې د سپتمبر د ۱۱ مې غمیزې نړۍ بدله کړه او دغه پېښه د زرګونو انسانانو د وژنې او د ملیاردونو نورو د بد مرغۍ او نا آرامۍ سبب شوه، امریکا ته پلمه په لاس ورغله چې د خپلو هغو سیاسي او اقتصادي هدفونو په لور پښې وغځوي چې له مودومودو یې سترګې پرې ګنډلې دي، نن دا دي ټول ویني چې له لیبیا تر افغانستان پورې څومره ولسونه په وینو او مرګونو کې پراته دي، دا ټول د سپتمبر د ۱۱ مې د بریدونو ټس دی چې نړۍ یې ګالي.

پر هغه شپه د شپې تر دوو نیمو بجو زه د سهار په دفتر کې وم، شیبه شیبه له نویو خبرونو سره د پېښې تفصیلات معلومیدل، تر ۱۹ تنو پورې د القاعده غړیو د امریکا د کورنیو الوتنو څو الوتکې یرغمل کړې وې، دوې پر سوداګریزو برجونو ور وجنګول شوې چې دواړه جګپوړي برجونه یې ونړول او په څو دقیقو کې پر ځمکه راولویدل، له بریدګرو څخه ۱۳ تنه د سعودي عربستان اوسیدونکي وو او په هغوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې یو تن هم افغان ؤ، خو د افغانانو له بده بخته د دې برید خونړۍ کسات تر ننه له افغان ولس څخه اخیستل کیږي، له برمته شویو الوتکو څخه یوه د دفاع وزارت پرکمپلکس(پنتاګون) وروجنګول شوه، خو د سپینې مانۍ لپاره چې کومه الوتکه په نښه شوې وه هغه له هدف نه لرې د پنسلوانیا په یوه ځنګل کې راولویده او دا تر اوسه پورې معلومه نه شوه چې دغه الوتکه ولې له هدفه بېلارې شوه او بل ځای راوغورځیده.[1]

د ګړۍ عقربې پر شا اوړي

جورج بوش له پښې نه سمدستي وروسته هغو مزبوتو سمڅو ته ننوت چې پر امریکا د اتومي برید پر مهال د ولسمشر او مهمو چارواکیو د خوندي ساتنې لپاره جوړې شوې، جورج بوش کابو (۱۸) ساعته په دې سمڅو کې تیر کړل. له دې حالته ښکاریدله چې امریکایي چارواکیو سخت شوک خوړلی ؤ او پر غرور یې سخت ګوزار شوی ؤ دوی چې د کوم کسات لپاره راپاڅیدل نړۍ په تیره اسلامي هېوادونو یې تصور هم نشو کولای، هغه کسات چې نن هم زمونږ د هېواد په شمول اسلامي نړۍ پکې سوځي، لیبیا، افغانستان، خېبر پښتونخواه او عراق پکې کنډواله شول او یمن، مالیزیا او نور

[1] نړۍ د توپان پر اوږو د سپتمبر د ۱۱ مې د خونړۍ پېښې په اړه شیبه په شیبه جریان (دکمال راټولونه اولیکنه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادونه د همدې څېړو انتظار باسي، سوډان پکې دوه ټوټې شو خو د کسات لمبې لا بلې دي.

د امریکایي چارواکیو حواس لا پر ځای نه وو چې هم یې د پېښې په اړه غبرګونونه پیل شول او هم اقدامات. افغانستان او د طالبانو اسلامي امارت د دوی لومړی ننبه ؤ، پر اسامه بن لادن په نایروبي او تانزانیا کې د امریکا پر سفارتونو او په یمن کې پر امریکایي بیړۍ د بریدونو تورونه پخوا لګیدلي وو، اوس نو امریکا د بدل لپاره راوپاریده، پاکستان ته ګوابن وشو چې یا به له موږ سره یاست او یا له ترهګرو سره!

د پاکستان د وخت ولسمشر جنرال پرویز مشرف دې ګوابن ته ټینګ نه شو د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ته یې د تسلیم سر ټیټ کړ. او د ده په اصطلاح پاکستان یې له دې وژغوره چې د ډبرو د ژوندانه زمانې ته ولاړشي!!

د طالبانو امارت لا د وخت د دغه ستر وحشت د قهرجنې څېړې خطرناکتوب نه ؤ درک کړی، فکر یې نه کاوه چې د واکمنۍ د مهال عقربه یې پر شا اوړي، دوی فکر کاوه چې په ناندریو او چنو به مساله حل شي، تر څو دوی د وخت نزاکت درک کاوه ټول فرصتونه یې له لاسه ورکړي وو، امریکا د ۲۰۰۱ پېښې د اصلي مسؤول په توګه اسامه بن لادن ترې وغوښت چې نیغ تر دې زرو تنو زیاتو امریکایي وګړیو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وژنې مسؤول ؤ، طالبانو لومړی دا د افغاني عرف خلاف کار وباله او حاضر نه وو چې د امریکا دغه غوښتنه ومني، وروسته یې د اسلامي هېوادونو په یوه ګډه محکمه کې د نومورې د محاکمې خبره ومنله، خو امریکا په ډیر ګړندیتوب له خپلو متحدینو سره په ګډه د ۲۰۰۱ کال د دغه خونړۍ پېښې نه د زیاتو ګټو تر لاسه کولو لپاره حرکت کاوه، داکتوبر پر ۷ مه پر افغانستان هوایي بریدونه پیل شول، له دې بریدونو سره جوخت د طالبانو امارت پر ځای د افغانستان د راتلونکې اداري او نظام د جوړولو هڅې ګړندۍ شوې دغه هڅې د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې د دغه سازمان د سرمنشي د استازي اخضر ابراهیمي تر مشرتابه لاندې پیل او توندې شوې چې د امریکا د خاصو کړیو لخوا جدي څارل کیدې، ظاهراً خبره معلومه وه د امریکا پر غرور ګوزار شوی ؤ او هغه هېواد د بدل اخیستلو حق درلود د نړیوالې ترهګرۍ پر خلاف د مبارزې جبهه جوړه شوه او امریکا ته ډېره مناسبه پلمه په لاس ورغله چې له ترهګرۍ سره د مبارزې په نامه هغه سیمې ته ګام راواخلي چې له اوږدې مودې یې لاري او ګودرې ورته کتلې، خو ظاهري خبره په افغانستان کې د طالبانو د امارت تر سر پرستۍ لاندې د القاعده مرکزونه وو چې د دوی په اند له همدې ځایه پر امریکا د بریدونو پلان جوړ شوی او پلی شوی ؤ.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو لخوا پخوا هم د جګړې د پای ته رسیدو او د یوې حل لارې په توګه د پراخ بنسټه حکومت تر نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې د حل یوه نسخه وړاندې شوې وه چې ظاهري تعبیر یې د ټولو ښکیلو اړخونو شریک حکومت ؤ، اوس یو ځل بیا دغه هڅې ګړندۍ شوې، په افغانستان کې د امریکایي هوایي ځواکونو له درنو بمباریو سره د شمال ټلوالې بګیل او تښتیدلي جنګسالاران بیا را ټول او ژوندي شول، طالبان چې امارت یې ایله درې هېوادونو په رسمیت پیژندلی ؤ اوس په ډګر یوازې پاتې شول ځکه چې د دوی تر ټولو ستر پلوي (پاکستان) هم مخ ترې اړولی ؤ، عجیبه دا وه چې د پاکستان له هوایي ډګرونو څخه الوتکې راپورته کیدې او په افغانستان کې یې د طالبانو مرکزونه بمباري کول خو له هغه هېواده د طالبانو ډلې را روانې وې چې په افغانستان کې د دوی د امارت دفاع وکړي، په همدې لوبه کې د مولانا صوفي محمد په سلګونو کسان د شمال ټلوالې لخوا ژوندي ونیول شول چې ځینې یې ښایي تر اوسه پورې بندیان وي.

په هر صورت د افغان بحران د سیاسي حل زړه دوسیه دا ځل په یوه نوي خوځښت راپورته شوه. لویدیز ته د افغان لانجې په حل کې له پیله د پخواني پاچا اروانباد محمد ظاهر شاه رول د ارزښت وړ ؤ ځکه خو د روم د پروسې بازار تود شو، خو کله چې پر افغانستان د هوایي بمباریو نه وروسته په کندهار کې د لومړي ځل لپاره د امریکایي کوماندو ځواکونو د کوزیدو تجربه ناکامه شوه او د کندهار په هوایي ډګر کې راکوز شوي کوماندویان د طالبانو په توغندویي بریدونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټپیان شول او بېرته وتښتیدل د امریکا ټول پلان یې ورسره بدل کړ او پنتاګون پریکړه وکړه چې د طالبانو په ماتولو کې د خپلو پلیو ځواکونو پر ځای د شمالي ټلوالې له ځواکونو کار واخلي (1)[2] په دې ډول د افغانستان په سیاسي پروسې کې هم بدلون راغی او تر همدې ورځې پورې د پخواني پاچا پلویان چې د روم د ګروپ په نامه سره راټول وو او زیاتره یې لویدیز میشته دوه تابعیته افغانان وو امریکا او متحدینو ته یې له هغه لومړني ارزښته ولویدل.

اخضر ابراهیمي، زلمي خلیلزاد او یو شمیر افغانان چې په هغو کې د روم د بهیر غړي هم وو سره وخوځیدل، لومړنۍ ناستې ولاړې پیل شوې، د پېښور، اروپا او د افغانستان د شمال نویو خپلواک شویو هېوادونو تر منځ چې اوس د ټلوالې د مشرانو د اوسیدو ځایونه وو د تګ راتګ لړۍ تونده شوه په شمال کې زیاتره ولایتونه د طالبانو له لاسه وتل او د جنرال دوستم او ټلوالې د نورو قوماندانانو په لاس کې ولویدل. له همدې سره د راتلونکي نظام د میکانیزم او بڼې په اړه هم خبرې رالوڅې شوې.

ظاهراً د ملګرو ملتونو تر پوښ لاندې د امریکا او د هغو د متحدینو هڅه دا وه چې په افغانستان کې د بحران او جګړې د دایمي حل لپاره د خلکو استازی حکومت جوړشي، ځکه خو د طالبانو امارت له ځنیو

[2] سیمور ه ش امریکایي لیکوال مقاله چې د ۲۰۰۱کال د اکتوبر په وروستیو کې په مشرق ورځپاڼه کې خپره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړخونو سره پټې اړیکې نیول کیدې چې په اصطلاح د پراخ بنسټه حکومت پر ترکیب ورګډ شي. په دې اړه یوه هڅه دا وه چې د پاکستان په منځګړتوب د طالبانو له یوه پیاوړي او بانفوذه قوماندان او دکابینې غړي مولوي جلال الدین حقاني سره امریکایانو اړیکې ونیوې، نوموړی د نومبر په لومړۍ اونۍ کې لاهور ته لاړ داسې ویل کیدل چې د ډېرې خرابۍ د مخنیوي لپاره باید حقاني د ملاعمر د عزل کولو او د اسامه د شړلو اعلان وکړي د ده په مشرتابه د طالبانو معتدل ګروپ له نوي نظام سره ملګری شي، خو دغه تفاهم ناکام شو او جلال الدین (حقاني) اعلان وکړ چې په سنګر کې شهادت له امریکایانو سره پر تفاهم غوره بولي، د حقاني له دې اعلان سره سم له ۳۳ ورځو وروسته پر پکتیا د امریکا لومړنۍ بمباري پیل شوې، د یادونې وړ ده چې له جلال الدین حقاني سره د تفاهم د تمایل یو سبب په ۱۳۲۸ لمریز کال د امریکا په ابتکار جوړه شوې د قوماندانانو سر تاسري شورا وه چې موخه یې د جهادي ګوندونو د نفوذ او واک کمزوري کول وو، دغه شورا د مولوي حقاني او یو شمیر نورو مشهورو قوماندانانو په ګډون جوړه شوه خو د جهادي مشرانو نفوذ ته یې پام وړ ګوابښ پېښ نکړای شو.

دوهمه مساله چې په جنوب کې د یوه مثبت حرکت تمه ورته کېده د هېواد ته د قوماندان عبدالحق ننوتل وو چې څو ساعته وروسته د لوګر ولایت په مربوطاتو کې ونیول شو او بیا اعدام شو، د ده اعدام

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د حقاني له اعلان سره نور د طالبانو لخوا له سوله ایز پلان سره د ملګرتیا هیلې ختمې شوې او د امریکا او ملګرو ملتونو د هڅو لوری معلوم شو، د یوه نړیوال کنفرانس په ترڅ کې د افغانستان لپاره د یوه لنډ مهاله نظام طرحه باوري شوه چې بیا به د لویې جرګې له لارې د افغانستان لپاره د دایمي نظام طرحه پلې کیږي، د طالبانو نظام په څو دلایلو نور نړیوالو ته د منلو ورنه ؤ.

1- د ترهګرۍ د پالنې او مرکزیت په توګه.
2- د بشري حقوقو نه رعایت په تیره د ښځو د زده کړو مخنیوی.
3- د تریاکو او هیروئینو د کر او قاچاق د ودې له امله چې د هغو په پیسو یې ترهګرۍ او د جګړه مارو ډلو په پیاوړي کولو کې کار اخیست په همدې دلایلو د راتلونکي نظام ځانګړتیاوې داسې په ګوته شوې چې په دې درې واړو برخو کې به نړیوالو ته د منلو وړ وي. د ملګرو ملتونو او امریکا د سیاسي هڅو په بهیر کې دننه پر طالبانو پوځي فشارونه مخ پر زیاتیدو وو او یو پر بل پسې لوی لوی ښارونه د دوی له لاسه وتل، تر دې چې د نومبر پر ۱۳ مه ۲۰۰۱ زیږدیز چې د ۱۳۸۰ لمریز د لړم له 22 مې سره سمون خوري کابل د شمال ټلوالې ځواکونو ته په لاس ورغی او یوه شپه مخکې د طالبانو ځواکونو دغه ښار خوشی کړی ؤ.

د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي اخضر ابراهیمي له بیلا بیلو افغاني ډلو سره له پرلپسې لیدنو کتنو وروسته د امنیت شورا ته یوه پینځه فقره ایزه طرحه وړاندې کړه چې ومنل شوه، په هغو کې د ملګرو ملتونو تر څارنې او سر پرستۍ لاندې د یوه بین الافغاني کنفرانس

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړیدل د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې د یوې لنډ مهالې اداري جوړیدل، د پاچا په مشرۍ لوییې جرګې دایریدل او افغانستان ته د ملګرو ملتونو د سوله ساتو ځواکونو استول شامل وو، همدغه مهال د المان هېواد اعلان وکړ چې د افغانستان لپاره د نړیوال کنفرانس کوربه توب ته چمتو دی، چې بیا د نومبر په ۲۷ مه د بن ښار د پترزبورګ په دولتي هوټل کې د بن کنفرانس جوړ شو، په دې کنفرانس کې د افغان ولس په استازیتوب څلور ډلو ګډون درلود.

لومړی - د شمال متحدې جبهې په نامه ګروپ

دوهم - د روم د بهیر په نامه ګروپ

دریم- د پېښور د سولې او ملي وحدت ټولنې ګروپ

څلورم- د قبرص د پروسې ګروپ چې اصلاً د ایران له خوا مالي مرستې ورسره کیدې.

دغه کنفرانس په یوه بحراني حالت کې په داسې حال کې پیل شو چې تر ډېره یې د ښو او مناسبو پریکړو چانس کمزوری کړی ؤ، په دې برخه کې ډېر مهم څو لاملونه یادولای شو چې د کنفرانس په پریکړو یې سیوری پروت ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1- د امریکا د مات شوي غرور انتقام چې په ټس کې یې د طالبانو حزب اسلامي او مولوی حقاني په پلمه ټول پښتون ولس تر ضربې لاندې ونیو.

2- د افغانانو په منځ کې د متحد زعامت نشتوالی.

3- د امریکا د هوایي ضربو په بدرګه د ټلوالې په لاس د پلازمینې په شمول د کابل اولویو ښارونو لویدل او د استاد رباني په مشرتابه د ۱۳۷۵ لمریز کال دولتي تشکیلات برحال کیدل.

په کنفرانس کې د ګډونوالو اندول هم برابر نه ؤ، شمال ټلوالې په همدې دلیل زیات غړي درلودل چې د کابل د تخت په نیولو کې یې له امریکا سره مرسته کړې وه په بحثونو کې هم په بشپړ ډول د شمال ټلوالې پله درنه وه، له اتو ورځو شاربلو وروسته د بن له غړکې یو عجیب ترکیب کوچ راووتل چې ولس یې د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې هیڅکله هم تمه نه درلوده.

پخوا تر دې چې د بن پریکړې غلطیو او شعوري او لاشعوري نیمګړتیاو ته اشاره وکړو رائځ د دې تاریخي کنفرانس د پریکړو بشپړ متن ولولو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بن کنفرانس پریکړه لیک

د ملګرو ملتونو تر نظر لاندې د بن د کنفرانس د پریکړه لیک او ضمیمو بشپړ متن

د دولت د دایمي موسساتو تر جوړښت پورې د افغانستان په اړوند د موقتي اقداماتو او احکامو موافقت لیک:

د افغانستان په اړوند د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې د خبرو برخه وال؛ د افغانستان په اړوند د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي په حضور کې، ژمنه کوي چې په افغانستان کې غمجن کړکیچ پای ته ورسوي، ملي پخلاینه، تلپاتې سوله، ثبات ټینګ او په هیواد کې د بشري حقوقو درناوی وشي، بیا ټینګار کوي چې د افغانستان خپلواکي، ملي واکمنتوب او د خاورې بشپړتیا خوندي وساتل شي، د افغانستان د خلکو دغه مسلم حق مني چې په ازاده توګه خپل سیاسي راتلونکی برخلیک د اسلام، دیموکراسۍ پلورالیزم او ټولنیز عدالت د پرنسیپونو سره سم وټاکي، د دې قدرداني کیږي چې د افغانستان مجاهدینو د کلونو په اوږدو کې د خپلواکۍ، ملي واکمنتوب، د خاورې بشپړتیا او ملي یووالي څخه دفاع کړې ده او د تروریزم، ظلم او زیاتي په وړاندې مبارزه کې یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه پورې رول لوبولی او د دوی قربانیو اوس هغوی د جهاد ، سولې او د خپل ګران هیواد افغانستان د بیا ودانولو او آرامۍ اتلان ګرځولي دي. پوهیږي چې په هیواد کې بې ثباته حالت دېته اړتیا لري چې موقت اضطراري تدبیرونه ونیول او عملي شي. د ښاغلي پروفیسور برهان الدین رباني قدردانی کوي چې چمتو دی واک هغې موقتې اداري ته وسپاري چې د دغه موافقتنامې په نتیجه کې منځ ته راځي، په دغه ضرورت ټینګار کوي چې په دغو موقتو تدبیرونو کې د افغانستان د ولس د ټولو پرګنو او د هغو ډلو چې د ملګرو ملتونو په اوسنیو خبرو کې یې نمایندګي نه ده شوې بشپړ استازیتوب باوري شي، په پام کې ساتي چې دغه موقت تدبیرونه د یو داسې پراخ بنسټه او نماینده حکومت په لور چې جنسي توپیر په کې نه وي، په هغه کې د ټولو قومونو او د هغو ډلو بشپړ استازیتوب شوی وي او د ټاکلې مودې څخه زیات دوام ونه کړي لومړی ګام بولي، دا مني چې وخت غواړي تر څو نوی افغان امنیتي ځواک جوړ او منظم شي خپلې دندې په پوره توګه ترسره کړي. په دغه موده کې باید هغه امنیتي تدبیرونه چې د دغې موافقتنامې په لومړۍ ضمیمه کې په ګوته شوې پلي شي، دا مني چې ملګري ملتونه یوه پیژندل شوې نړیواله بیطرفه موسسه ده او تر هغه چې په افغانستان کې تل پاتې موسسات منځ ته راځي خاص او مهم نقش ولوبوي، چې تفصیلات یې د دې موافقتنامې په دوهمه ضمیمه کې په ګوته شوي دي،د دې خبرو اترو ګډونوال په لاندې ډول موافقې ته رسیدلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډ مهاله اداره

اول – عمومي احکام

1- (لنډ مهاله اداره) د قدرت د رسمي انتقال سره سمه رامنځ ته کیږي، د واک د انتقال نېټه د 2001 میلادي کال د ډسمبر 22 مه ټاکل شوې ده.

2- لنډ مهاله اداره به د یوې موقتې اداري نه چې په سر کې یې یو رئیس دی، د اِضطراري لویې جرګې د راباللو د پاره د یوه ځانګړي خپلواک کمیسیون، د افغانستان د ستړي محکمې او نورو هغو محکمو چې د موقتې اداري له خوا منځ ته راځي جوړوي. د موقتې اداري او ځانګړي خپلواک کمیسون جوړښت، دندې او اجرایوي تګلاره په دې موافقتنامه کې ځای شوي دي.

3- لنډ مهالې اداري ته د واک د رسمي انتقال سره سم د افغانستان د ملي حاکمیت تمثیل کوي. په دې اساس د موقتې مودې په اوږدو کې به لنډ مهاله اداره په بهرنیو اړیکو کې د افغانستان استازیتوب کوي؛ د ملګرو ملتونو په موسسه او د دغې موسسې او په ځانګړیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نمایندګیو کې د افغانستان څوکۍ اشغالوي. همدغه شان په نورو نړیوالو موسساتو او کنفرانسونو کې د افغانستان استازیتوب کوي.

4 - د لنډ مهاله اداري د جوړښت نه د شپږو میاشتو په موده کې به اضطراري لویه جرګه رابلل کیږي، چې د افغانستان د پخواني پاچا اعلیحضرت محمدظاهرشاه له خوا به پرانیستل شي. دا اضطراري لویه جرګه به د انتقالي اداري او د پراخ بنسټه اداري په هکله پریکړه کوي. نوموړي اداره به تر هغه وخته پورې د افغانستان مشرتوب کوي تر څو یو بشپړ نماینده حکومت جوړ شي چې د ازادو او عادلانه انتخاباتو له مخې منځ ته راځي ، دغه انتخابات به د اضطراري لویې جرګې د جوړیدو له نېټې څخه د دوو کالو په موده کې وشي.

5 - اضطراري لویه جرګه د انتقالي واکمنۍ د تاسیس سره سم لنډ مهاله اداره د منځه وړي.

6 - د انتقالي اداري د جوړښت نه د ۱۸ میاشتو په اوږدو کې د اساسي قانون د تصویب له پاره لویه جرګه رابلل کیږي. دغه اساسي قانون به د افغانستان راتلونکي حکومت ته چې د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې د عمومي انتخاباتو په نتیجه کې منځ ته راځي زمینه برابره کړي. د دې له پاره چې د پیشنهاد شوي اساسي قانون د تصویب له پاره د لویې جرګې سره مرسته شوې وي، انتقالي اداره د خپل تاسیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه باید د دوو میاشتو په اوږدو کې د ملګرو ملتونو په مرسته د اساسي قانون کمیسون جوړ کړي.

دویم – قانوني چوکاټ او قضایي نظام

1- لاندینی چوکاټ په موقتي توګه تر هغه پورې چې پاس یاد شوی نوی اساسي قانون نافذ شي تطبیقیږي.

الف: د 1343 لمریز (1964م) اساسي قانون ترهغه ځایه چې احکام یې د دې موافقتنامې د موادو سره په تضاد کې نه وي او له هغو برخو پرته چې د شاهي رژیم او د هغه وخت د اجرائیه او مقننه قواوو سره ارتباط پیدا کوي نور احکام یې د تطبیق وړ دي.

ب: موجوده قوانین او مقررات تر هغه ځایه چې د دغې موافقتنامې او نړیوالو قانوني هغو اصولو چې افغانستان یې یو طرف وي او یا د 1343 کال د اساسي قانون د تطبیق وړ احکامو سره په تضاد کې نه وي د تطبیق وړ دي. لنډ مهاله اداره دا واک لري چې دغه قوانین او لایحې فسخ او تعدیل کړي.

2 - د افغانستان قضایي قوه به مستقله وي. قضایي قوه د سترې محکمې او د هغو نورو محکمو څخه چې د موقتې اداري له خوا جوړیږي تشکیله شوې ده. لنډ مهاله اداره د ملګرو ملتونو په مرسته یو قضایي کمیسون جوړوي چې په افغانستان کې د اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښتونو، د نړیوالو حقوقي معیارونو او د داخلي حقوقي عنعناتو په نظر کې نیولو سره قضایي سیستم بیا فعال کړي.

دریم - لنډ مهاله اداره

الف–ترکیب

1- لنډ مهاله اداره د یوه رئیس، پنځو مرستیالانو او 23 غړو څخه جوړه ده. د رئیس نه پرته هر غړی کولی شي چې د لنډ مهالې اداړې د یوې اداري څانګې مشر شي.

2 - د افغانستان په باره کې د ملګرو ملتونو د خبرو برخه والو د افغانستان پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه نه وغوښتل چې د لنډ مهالې اداړې مشري په غاړه واخلي. اعلیحضرت وفرمایل چې غوره ګڼي چې یو بل مناسب شخصیت چې د برخه والو د منلو وړ وي په دغه دنده وګومارل شي.

3 - د لنډ مهالې اداړې رئیس، مرستیالان او نور غړي به یې د هغو نومونو د لستونو څخه چې د ملګرو ملتونو په مذاکراتو کې د برخوالو له خوا ورکړل شوي دي په مربوطه څانګه کې د دوی د مسلکي تخصص، حیثیت، لیاقت، کفایت او هم د افغانستان د قامي، جغرافیایي او مذهبي تناسب او د ښځو د مقام د اهمیت په پام کې نیولو سره د ملګرو ملتونو د خبرو د برخه والو له خوا ټاکل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي چې نومونه یې د دې موافقت لیک په څلورمه ضمیمه کې د لست په بڼه راغلي دي.

4 - د لنډ مهالې اداري هیڅ غړی نه شي کولای چې په عین وخت کې د اضطراري لویې جرګې د جوړیدو د پاره د ځانګړي خپلواک کمیسون غړی هم شي.

ب: کاردود (طرزالعمل)

1- د لنډ مهالې اداري رئیس او د هغه په غیاب کې د مرستیالانو څخه یې یو د لنډ مهالې اداري د غونډو مشرتوب په غاړه اخلي او د خبرو او موادو اجندا جلسو ته وړاندې کوي.

2 - ***لنډ مهاله اداره*** هڅه کوي چې خپلې پریکړې په بشپړ اتفاق وکړي. که چیرې د پریکړې له پاره رای اخیستنې ته اړ شي، نو ضرور ده د حاضرو غړو د رایو په اکثریت پریکړه وشي، مګر دا چې په دې موافقتنامه کې په بله بڼه په ګوته شوي وي. په دې شرط چې د پریکړو له پاره د رای اخستلو په صورت کې باید په غونډه کې 21 غړي حاضر وي په داسې حال کې چې د رایو شمیر مساوي شي، د رئیس رایه پریکنده رول لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج – دندې

1 - ***لنډ مهاله اداره*** د دولت ورځنۍ چارې پرمخ بیایي د سولې، امنیت او نظم د ټینګښت او د بهترې اداري د تامینولو له پاره حق لري چې فرمانونه صادر کړي.

2 - د لنډ مهالې اداري مشر یا مشره او یا د هغو په غیاب کې یو له مرستیالانو څخه باید د لنډ مهالې اداري وړ او ښه تمثیل او استازیتوب وکړي.

3 - د لنډ مهالې اداري هغه غړي چې د مختلفو څانګو دنده یې په غاړه وي، مسئولیت لري چې د موقتې اداري پالیسي د خپل کار په ساحه کې پلي کړي.

4 - د واک د انتقال سره سم لنډ مهاله اداره پوره قانوني صلاحیت لري چې د پیسو په چاپ او چلند کې اقدام وکړي او په ځانګړي توګه حق لري چې د نړیوالو مالي سازمانونو څخه پیسې ترلاسه کړي. لنډ مهاله اداره به د ملګرو ملتونو په مرسته د افغانستان مرکزي بانک بیا فعالوي. دا بانک به د بامسئولیته، محاسبوي او څرګند طرزالعمل له مخې د پیسو په تهیه کولو کې د قانون له مخې اقدام کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5 - ***لنډ مهاله اداره*** به د ملګرو ملتونو په مرسته د ملکي مامورینو خپلواک کمیسیون جوړوي. نوموړی کمیسیون موقتي واکمنۍ او راتلونکې انتقالي واکمنۍ ته د هغو باکفایته او با اهلیته کاندیدانو لنډ لستونه چې د اداري څانګو په مهمو دندو او همدغه شان د والیانو او ولسوالانو په دندو ګمارل کیږي، ورسپاري.

6 - ***لنډ مهاله اداره*** به د ملګرو ملتونو په مرسته د بشري حقوقو یو خپلواک کمیسیون جوړ کړي. د دغه کمیسیون په دندو کې د بشري حقوقو د رعایت څارنه، د بشري حقوقو د نه رعایت په صورت کې تحقیق او د بشري حقوقو کورنیو موسساتو ته وده ورکول شامل دي. همدغه شان لنډ مهاله اداره د ملګرو ملتونو په مرسته د هغو ستونزو په هکله چې په دې موافقتنامه کې نه دي ځای شوې، نور کمیسونونه هم جوړولی شي.

7 - د لنډ مهالې اداري غړي به په خپلو کړو وړو کې د یو لړ سلوکي ضوابطو رعایت وکړي چې د نړیوالو معیارونو سره برابر وي.

8 - که چیرې د لنډ مهالې اداري کوم غړی په خپلو کړو وړو کې د پورته ذکر شویو نړیوالو معیارونو اطاعت ونه کړي، باید د خپلې دندې نه ګوښه کړای شي. د یوه غړي ګوښه کول او یا د اداري څخه د هغه ایستل باید د رئیس او یا د هغه د کوم مرستیال په وړاندیز او د رایو د دوه ثلثو په اکثریت عملي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

9 - د لزوم په صورت کې د موقتې اداري د غړو دندې او صلاحیتونه د ملګرو ملتونو په مرسته تکمیل او تصریح کیږي.

څلورم - د اضطراري لویې جرګې د رابللو له پاره ځانګړی خپلواک کمیسیون

1- د اضطراري لویې جرګې د رابللو له پاره یو ځانګړی خپلواک کمیسیون د لنډ مهاله اداري د جوړولو څخه د یوې میاشتې په دننه کې جوړیږي. په دې ځانګړي خپلواک کمیسیون کې 21 تنه غړیتوب لري. د دې کمیسیون یو شمیر غړي باید په اساسي قانون یا عنعنوي قوانینو کې تخصص ولري. د دې کمیسیون غړي به د هغه کاندیدانو د لستونو څخه چې د افغانستان په اړونده د ملګرو ملتونو په خبرو کې د برخه والو له خوا وړاندې شوي او همدغه شان د افغان متخصصینو، د مدني ټولنو د ډلو له خوا مخکې ترتیب شوي غوره کیږي. ملګري ملتونه به د دې کمیسون په جوړولو، فعالولو او د کمیسون د مناسبې دارالانشا په جوړولو کې مرسته وکړي.

2 - دغه ځانګړی خپلواک کمیسون به د اضطراري لویې جرګې د کاردود او د اضطراري لویې جرګې د غړو د شمیر په ټاکلو کې وروستنی تصمیم نیوونکې مرجع وي. دغه ځانګړی خپلواک کمیسون به د مقرراتو او کاردود مسوده جوړوي چې لاندې ټکي به پکې په ګوته شوي وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف - په لویه جرګه کې په هیواد کې دننه د اوسیدونکو ځایي او کوچیانو د ونډې د ټاکلو له پاره د معیارونو وضع کول.

ب - په پاکستان، ایران او د نړۍ په نورو هیوادونو کې د افغاني کډوالو د پاره د برخې د ټاکلو د معیارونو ټاکل.

ج - په هیواد کې دننه او د هیواد نه د باندې د اسلامي عالمانو په ګډون د مدني ټولنو، سازمانونو، بانفوذه شخصیتونو، روښان فکرانو او سوداګرو د ونډې د پاره د معیارونو ټاکل. دغه ځانګړی خپلواک کمیسون به په اضطراري لویه جرګه کې د ښځو او د افغان ولس د نورو پرګنو د استازو مناسب شمیر باوري کوي. دوی به لس اونۍ مخکې د اضطراري لویې جرګې کاردود، مقررات، د جرګې د پرانیستلو نېټه، په نظر کې نیول شوی ځای او موده چاپ او خپره کړي.

4 - د اضطراري لویې جرګې د پاره به ځانګړی خپلواک کمیسیون د کاندیدولو د پروسې او د هغې د څارنې او تطبیق کاردود وضع کوي. دغه کمیسیون باید د اضطراري لویې جرګې له پاره د غیر مستقیمو انتخاباتو یا غوره کولو پروسه په څرګنده او منصفانه توګه یقیني کړي. دغه ځانګړی خپلواک کمیسیون به داسې میکانیزم او مقررات رامنځ ته کوي چې د هغه له مخې شکایتونه ثبت او د شخړو په صورت کې حکمیت وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

5 - اضطراري لویه جرګه به د انتقالي اداړې له پاره د دولت مشر انتخابوي او هغه وړاندیزونه چې د انتقالي اداړې د جوړښت او د لوړرتبه مامورینو په هکله شوي وي، تصویبوي.

پنځم: نهایي احکام

1- د واک د رسمي انتقال سره سم به په هیواد کې ټول مجاهدین، افغان وسله وال ځواکونه او وسله والې ډلې د لنډ مهاله اداړې تر کنترول او قوماندې لاندې راځي. او د افغانستان د نوو امنیتي او پوځي غوښتنو سره سم به د هیواد په وسله والو او امنیتي ځواکونو کې تنظیم شي.

2 - لنډه مهاله اداره او اضطراري لویه جرګه باید د نړیوالو هغو اساسي پرنسیپونو او احکامو مطابق عمل وکړي چې د بشر په حقوقو او انساني قوانینو کې خوندي شوي او افغانستان هغه منلي دي.

3 – لنډ مهالې اداړې باید د تروریزم، مخدره موادو، او تنظیم شوو جنایتونو په ضد مبارزه کې د نړیوالې ټولنې سره همکاري وکړي. دغه واکمني باید نړیوالو قوانینو ته په درنه سترګه وګوري او د خپلو ګاونډیو هیوادونو او نړیوالې ټولنې سره سوله ایز او دوستانه اړیکي ټینګې وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4 - لنډ مهالې اداري او د لویې جرګې د رابللو ځانګړی خپلواک کمیسیون باید دا باوري کړي چې په اضطراري لویه جرګه او لنډ مهاله اداره کې ښځې، ټولې قامي او دیني ټولنې عادلانه استازیتوب ولري.

5 - لنډ مهالې اداري هغه اشخاص چې د نړیوالو بشري قوانینو نه یې سرغړونه کړې وي او یا یې د انسانیت په ضد جنایت کړی وي له عدلي تعقیب څخه نه شي معاف کولی.

6 – د لنډ مهالې اداري ټول اقدامات به د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د 1380 لمریز کال پریکړه لیک (14 نومبر 2001میلادي کال) او د افغانستان په هکله د امنیت شورا نورو اړوندو پریکړو سره مطابقت ولري.

7 - د ***لنډ مهاله اداري*** لاندې به د ټولو ارګانونو له پاره مقررات او کاردود په غوره توګه د ملګرو ملتو په مرسته رامنځ ته کیږي. ضمیمې د دې موافقتنامې داخلي برخې جوړوي چې انګلیسي متن یې د ۲۰۰۱ میلادي کال د دسمبر د میاشتې په پینځمه نیټه په یوه نسخه کې ترتیب شوی اصلي متن دی او باید د ملګرو ملتونو په ارشیف کې خوندي وساتل شي. رسمي متنونه به په پښتو، دري او نورو هغو ژبو کې چې د ملګرو ملتونو د سرمنشی د خاص استازي له خوا به مشخصې شي، هم ترتیب شي. د ملګرو ملتونو د سرمنشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاص استازی به تصدیق شوې نسخې په انګلیسي، پښتو او دري هر یو ګډونکونکي ته استوي.

د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو د خبرو د ګډونکونکو له پاره د ملګرو ملتونو له پاره د شاهد په توګه

اخضر ابراهیمي د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی

لومړی ضمیمه - نړیوال امنیتي ځواک

1- د افغانستان په اړوند د ملګرو ملتونو په خبرو کې برخه وال دا مني چې په ټول هیواد کې د امنیت ټینګښت، نظم او د قانون پلي کول پخپله د افغانانو مسئولیت دی. دغه هدف ته د رسیدو له پاره دا ژمنه کوي چې افغانان به د خپلو ټولو وسایلو، توان او نفوذ سره سم امنیت د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو حکومتي او غیر حکومتي موسساتو او مامورینو په شمول چې په افغانستان کې ځای په ځای کیږي د ټولو لپاره باوري کړي.

2 - د دې هدف په نظر کې نیولو سره د خبرو برخه وال غوښتنه کوي چې نړیواله ټولنه به د افغانستان د نویو واکمنو سره د افغانستان د نویو وسله والو او امنیتي ځواکونو په روزنه او جوړیدو کې مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3 – دې واقعیت ته په پام چې د افغانستان نویو وسله والو او امنیتی ځواکونو د بشپړ جوړیدو او په کار لویدو له پاره یو څه وخت ته ضرورت لري، نو له دې امله د ملګرو ملتونو په خبرو کې برخه وال له امنیت شورا نه غوښتنه کوي چې هرڅومره ژر چې کولی شي په افغانستان کې د خپلو موظفو پوځونو ځای پرځای کولو ته توجه وکړي. دا ځواک به د کابل او د هغه د شاوخوا د امنیت په ساتلو کې همکاري وکړي. دغه ځواک کولی شي چې د لزوم په صورت کې د هیواد نورو ښاري مرکزونو او ساحو ته پراختیا وموميي.

4 - د ملګرو ملتونو په خبرو کې برخه وال ژمنه کوي چې له کابل او نورو ښاري مرکزونو او ساحو څخه چې د ملګرو ملتونو موظف ځواک پکې ځای په ځای کیږي، ټول پوځي واحدونه وباسي. دا به هم ښه وي چې دغه ځواکونه د افغانستان د بنسټیزو تشکیلاتو د بیا رغونې په لار کې همکاري وکړي.

دوهمه ضمیمه؛ په لنډه دوره کې د ملګرو ملتونو د سازمان نقش

1- د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د هراړخیز کار په ټولو برخو کې مسئولیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

2- د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی باید د دې موافقتنامې ټول مواد وخاري او د تطبیق په لار کې یې مرسته وکړي.

3- ملګري ملتونه به لنډ مهاله اداري ته د یوه سیاسي بیطرفه چاپیریال په رامنځته کیدو کې لارښوونه وکړي تر څو اضطراري لویه جرګه په ازادو او منصفانه شرایطو کې راغونډه شي. ملګري ملتونه به د هغو موسساتو او اداري څانګو چال چلند ته چې د اضطراري لویې جرګې دایرول او د هغې نتیجې په مستقیمه توګه د نفوذ لاندې راوړي خاصه توجه وکړي.

4- د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی او یا د هغه له خوا ټاکل شوي هیئت ته به بلنه ورکړل شي چې د موقتې اداري او د اضطراري لویې جرګې د راباللو د ځانګړي او خپلواک کمیسیون په غونډو کې برخه واخلي.

5- که د هر دلیل په وجه *لنډ مهاله/داره* یا ځانګړی خپلواک کمیسیون د خپلو غونډو څخه منع شي او یا د دې جوګه نه وي چې د اضطراري لویې جرګې د راغونډیدو د موضوعاتو په هکله پریکړه وکړي، په دې اړه به د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی، د لنډ مهالې اداري یا د ځانګړي خپلواک کمیسیون له خوا د نظریاتو په نظر کې نیولو سره د خپل خیر او ښیګڼې ماموریت څخه کار اخلي ترڅو په دې باره کې د حل د پاره اسانتیاوې برابرې او یا پریکړه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

6- ملګري ملتونه باید حق ولري چې د بشري حقوقو تر پښو لاندې کیدو په صورت کې تحقیق وکړي، او که ضرورت شي، نو د اصلاحي عمل سپارښتنه وکړي. همدارنګه ملګري ملتونه د بشري حقوقو د پراختیا، د ښوونې او روزنې د پروګرام د تطبیق او د بشر حقوقو ته د درناوي او پاملرنې په لار کې مسئولیت لري.

دریمه ضمیمه- د ملګرو ملتونو د سازمان نه د افغانستان په اړوند

د ملګرو ملتونو د خبرو د برخه والو غوښتنه

د ملګرو ملتونو په خبرو کې برخه وال په دې وسیله د ملګرو متلونو او نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوي چې:

1- د افغانستان ملي حاکمیت، د خاورې تمامیت او ملي یووالي د ضمانت له پاره ضروري اقدامات وکړي. همدارنګه د افغانستان په کورنیو چارو کې د بهرنیو هیوادونو د لاسوهنې د بندولو په هکله لازم اقدامات وکړي.

2- د ملګرو ملتونو، نړیوالې ټولنې په ځانګړي ډول د مرسته ورکوونکو هیوادونو او څواړخیزو موسساتو څخه غوښتنه کوي چې د خپلو وعدو د پوره کولو له پاره له لنډ مهاله اداري سره په ګډه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د بیا رغونې، په پښو دریدو او بیا ودانولو په لار کې خپل مسوولیتونه او همکاري یو ځل بیا تائید ، غښتلې او تطبیق کړي.

3 - د ملګرو ملتونو له سازمان څخه غوښتنه کوي هر څه ژر د رایو ورکونکو د نومونو د ثبتولو کار د عمومي انتخاباتو لپاره چې د اساسي قانون د تصویب څخه وروسته دایریږي مخکې له مخکې سرته ورسوي او همدارنګه په افغانستان کې سر شمیرنه هم بشپړه کړي.

4- د ملګرو ملتونو د سازمان او نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوي چې د افغانستان د خپلواکۍ او خلکو د عزت په خوندي ساتلو کې د مجاهدینو د قهرمانانه نقش په پیژندلو سره لازم اقدامات او د لنډ مهاله اداري سره مرسته وکړي تر څو د افغانستان په وسله والو او امنیتي ځواکونو کې مجاهدین بیا مدغم کړي.

5- ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې ته بلنه ورکوي چې د شهیدانو کورنیو او نورو وارثینو، د جنګ ځپلو او د جنګ د معیوبینو سره د مرستې صندوق جوړ کړي.

6- د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې او د سیمه ایزو مرستندویه موسساتو څخه په کلکه غوښتنه کیږي چې د لنډ مهاله اداري سره د نړیوال تروریزم، د مخدره موادو د کرنې او قاچاق په ضد د مبارزې په لار کې د لنډ مهاله اداري سره همکاري وشي او د افغاني کروندګرو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاره د مالي، مادي او تخنیکي مرستو په برابرولو سره زمینه مساعده کړي، چې د افغانستان کروندګر نور خوراکي پیداوار تولید کړي.

څلورمه ضمیمه- لنډ مهاله اداره

رئیس- حامد کرزی
غړي (له جملې څخه پنځه تنه مرستیالان)
1- د دفاع وزارت محمد قسیم فهیم (لومړی مرستیال)
2- د کورنیو چارو وزارت – محمد یونس قانونی
3- د بهرنیو چارو وزارت- ډاکتر عبدالله
4- د پلان وزارت حاجي محمد محقق (د ولسمشر مرستیال)
5- د سوداګرۍ وزارت- مصطفی کاظمي
6- د کانو او صنایعو وزارت- محمد عالم رزم
7- د ورکیو صنایعو وزارت – عارف نورزی
8- د اطلاعاتو او کلتور وزارت – مخدوم رهین
9- د مخابراتو وزارت – انجنیر عبدالرحیم
10- د کار او ټولنیزو چارو وزارت – میرویس صادق
11- د حج او اوقافو وزارت – مولوی حنیف بلخي
12- د شهیدانو او معلولینو وزارت- عبدالله وردګ
13- د ښوونې او روزنې وزارت- پوهاند عبدالرسول امین
14- د لوړو زده کړو وزارت – شریف فایض
15- د عامې روغتیا وزارت – جنرال سهیلا (صدیق)
16- د فواید عامې وزارت – جمعه محمد (محمدي)
17- د کلیود پراختیا وزارت – عبدالمالک انور

(c) ketabton.com: The Digital Library

18- د ښاري پراختیا وزارت- یوسف پشتون
19- د بیارغاونې وزارت – امین فرهنګ
20- د ترانسپورت وزارت – حمید سلطاني
21- د ابو او بریښنا وزارت- شاکر کارګر (مرستیال)
22- د هوانوردی او سیاحت وزارت – ډاکتر عبدالرحمن
23- د ښځو د چارو وزارت - سیما ثمر (مرستیاله)
24- د سرحدي چارو وزارت – امان الله ځډران
25- د رئیس مرستیال او د اقتصادي چارو لوی سلاکار هدایت امین ارسلا

❊ ❊ ❊ ❊

د بن د خبرو اترو پریکړه لیک له لاسلیک یوه ورځ وروسته امنیت شورا هم تصویب کړ، د واک لیږد د ۲۰۰۱ کال د دسمبر په ۲۲ مه چې د ۱۳۸۰ لمریز کال د مرغومي له لومړۍ نیټې سره سمون خوري وټاکل شوه، او د پنجشنبې په ورځ د دسمبر په ۲۰ مه د واک لیږدونې نه دوې ورځې وړاندې چې د لیندۍ د میاشتې له ۲۹ سره سمون خوري امنیت شورا پنځه زره کسیزه سوله ساتي ځواکونه تصویب کړل او دوې ورځې وروسته د زیاتره افغاني ډلو، ملګرو ملتونو او نړیوالو ادارو د استازیو، ګاونډیو او نور هېوادونو د ترهګرۍ خلاف د نړیوالې ائتلاف د غړیو هېوادونو د استازیو په حضور کې د واک لیږدولو پروسه بشپړه شوه او لنډ مهالې اداري د حامد کرزي په مشرۍ د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې واک ترلاسه کړ اود ۱۳۸۰ لمریز کال د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرغومي په لومړۍ نوې اداري رسماً خپل کار پیل کړ، د نړۍ هېوادونو هم اعلان وکړ چې د حامد کرزي په مشرۍ له نوي حکومت څخه ملاتړ کوي او د سولې په اعاده او د افغانستان په بیارغاونه کې به کلک ملاتړ ورسره کوي.

د بن د پریکړو او لنډ مهالې اداري له ترکیب نه معلومه ده چې دغه پریکړې څومره د افغان ولس له هیلو او غوښتنو سره په ټکر کې وې، هغه ولس او هېواد چې په لنډه ماضي کې یې په بشپړ یووالي یوه ستره حماسه زیږولې وه په لوی لاس په قومونو او خیلونو ویشل کېدو، د عدالت د هر ډول اصولو پر خلاف د ولسمشرۍ د مرستیالۍ په شمول درې مهم او کلیدي وزارتونه (دفاع، کورنیواو بهرنیو) چارو وزارتونه یوې درې ته ورکړای شول چې وروسته په ولایت بدله شوه. د بن په ټرون کې څو ځایه پر دغو دوو ټکیو ډېر ټینګار شوی:

1- په اداره اونظام کې د قومي او ژبنیو ونډو ته پام.

2- په هر څه کې د ملګرو ملتونو مشوره ! چې وروسته دا هم ثابته شوه چې مشوره اصلاً د ملګروملتونو او نړیوالې ټولنې د (حاکمیت) تثبیت ؤ، دا اوس چې په انتخابي نظام کې د ملګرو ملتونو د سر منشي ځانګړی استازی زمونږ ولسي جرګه لمسوي او د حکومت پر خلاف یې بغاوت ته هڅوي، یا دوی ته دا ډاډ ورکوي تاسو باید لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

الوت وکړئ. دا د بن د هماغو پریکړو شوم سیوری دی چې تر ننه زمونږ په نظام پروت دی.[1]

باید یادونه وکړو چې پر دې سر ببره چې په بن کې عاجله غونډه جوړه شوه او د افغان ولس ریښتني استازي په داسې عجله ممکن نه وو چې تشخیص او راوبلل شي، خو د نظام په اړه ځینې داسې طرحې وې چې که پلې شوې وای نو د ډېرو خرابیو مخه پرې نیول کیدای شوه. یوه طرحه دا وه ، چې په لنډ مهاله اداره کې یې د (مشر تابه شورا) او متخصصې کابینې وړاندیز درلود ، که دغه طرحه منل شوې وای معنا دا چې جهادي مشران به د ولس له معتبرو نورو مشرانو سره په مشرتابه شورا کې راټول وو، حکومت او اجرایي واک به بشپړ د مسلکي کارپوهانو په لاسو کې ؤ، په دې کې د دې خطر کم ؤ چې یوه ډله دې په واک منګولې ټینګې کړي او نور ولس دې څنډې ته کړای شي، خو دغه طرحه د همدې لپاره رد کړای شوه چې په افغانستان کې د واک د ړندو مینه والو تنده خړوب شي او له دې سره د نړیوالو د نورو موخو لپاره ډګر صفا شي، چې همداسې وشول. زه د بن پریکړې دا اوس د امریکا د ستراتیژیکو همکاریو له سند څخه بیلې نه ګڼم، له لومړي بن نه تر ننه ګام په ګام سنجول شوې توطیې پلې شوې دي او د دې مخه نیو ل شوې چې افغانان پر یوه محور راټول او د یوه پر پښو ولاړ حکومت خاوندان شي.

[1] له ازادی راډیو سره د ولسي جرګې د لومړي منشي عبدالقادر قلاتوال مرکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بن کنفرانس پر مهال زه (لیکوال) د سهار ورځپانې مسوول وم، د دې کنفرانس جریان ماته د خپلو هغو دوستانو په واسطه چې رسماً د پښتور پروسې غړي وو را رسیدو، کله چې وروستۍ پریکړې وشوې، د افغان ولس له برخلیک سره د شومو لوبو پر جریان خبر راکړل شو، ما د سهار په راتلونکې سر لیکنه کې د بن د پریکړو په اړه (د خوسا غوښې خوسا ښوروا وي!) تر سر لیک لاندې هماغه اندیښنې وښودې چې د هېواد وطندوستو کړیو ښودلې، د سهار همدغه سرلیکنه د فرانسې او لویدیز په نورو رسنیو کې له تصویر او پښتو متن سره چاپ او خپره شوه او دا د بن د پریکړو په اړه د افغانانو د لومړني غبرګون په توګه ثبت شوه، وروسته هماغه اندیښنې او د سهار ورځپانې سر لیکنه ریښتیا ثابته شوه او زموږ ولس دا دی تر ننه د هماغو خوسا پریکړو دروند باج ورکوي.

د بن پریکړو څو بنسټیزې شعورۍ غلطۍ

د بن پریکړو افغانستان ته د تلپاتې سولې او امن پر ځای د بحران د دوام او په سیمه او افغانستان کې د بهرنیانو لاسوهنو ته زمینه برابره کړه.

د بن په پریکړو کې زیاتې خامۍ او کمزورۍ وې، چې څو مهمو ته یې دلته اشاره کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1- په ټوله کې واک د افغانستان د کورنۍ جګړې یوه ښکیل اړخ ته وسپارل شو، عملاً ملګرو ملتونو او امریکا په افغانستان کې هغه څوک پیاوړي کړل چې دوی جنګسلارن او قانون ماتوونکي بلل، د نړیوالو اصولو له مخې چې په بحران ځپلیو ولسونو کې د امن او سولې لپاره عادلانه طرحې جوړیږي د بحران ټولو کورنیو اړخونو ته د برابرو زمینو هڅه کیږي، چېرته چې دغه اصل تر پښو لاندې شو هغه افغانستان ؤ، د بن کنفرانس د پریکړو پر بنسټ په افغانستان کې د دوو نیمو لسیزو بدمرغیو عاملین واک ته ورسیدل، خو د افغان ولس یوه زیاته برخه بیا له سیاسي پروسې څخه بهر پاتې شول او له ټولو سیاسي او مدني حقوقو محروم شول.

د وخت شرایطو ته په پام سره د طالبانو او حزب اسلامي له پامه غورځیدل توجیه کیدای شي، خو نړیوالې ټولنې بیا باید یو داسې میکانیزم عملي کړی وای چې ولس له یادو شویو دوو لوریو پرته په نظام کې د محرومیت احساس نه وای کړی، د دې لپاره یوه لاره دا وه چې په هر صورت باید د دې مخه نیول شوې وای چې کابل د شمال ټلوالې په لاس کې ولویږي، هغه مهال د دې لپاره یوه طرحه دا وه چې کابل باید د بې طرفه سوله ساتي ځواک تر چتر لاندې راشي او په سیاسي ترکیب کې هم هڅه وشي چې د افغانستان ټول ولس ته د منلو وړ تشکیلات جوړ شي، خو داسې ونه شول کابل د ټلوالې لاس ته له لویدو سره استاد رباني د ۱۳۷۵ لمریز کال حکومتي تشکیلات برحال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل، له دې سره عملاً نظام د افغانستان د خونړیو کورنیو جګړو یوه لوري ته په لاس ورغی، دغه لوري ملي فکر نه درلوده ځکه خو همدغه ټکی په هېواد کې د بن پریکړو د ناکامۍ یو لامل شو.

یوازې ولسمشر په سمبولیکه بڼه په دې دلیل یو پښتون (حامد کرزی) غوره کړای شو چې د افغانستان اکثریت ولس پرې راټول کړي. حامد کرزی د (پخلاینې) د پروسې پر مهال ډېر مناسب څوک ؤ چې له هر لوري سره یې د تفاهم ژبه درلوده په کورنیو جګړو کې ښکیل او بدنام نه ؤ، خو د نومورې لویه کمزورې دا وه چې د یوه داسې جهادي ګوند سره یې مخینه تړلې وه چې هیڅ کدرونه یې نه درلودل. ښاغلي کرزي ته داسې ټیم وسپارل شو چې هر لوري یې په زرګونو وسله وال او خپل خپل ځواکونه او د نفوذ ساحې درلودې، د همدې ځواکمنو لوریو په کلا بندۍ کې ایسار د لنډ مهالې اداري مشر پخپله هم دومره د تجربې او استعداد خاوند نه ؤ چې معجزه وکړي او په هېواد کې د بحران د ژوریدو مخه ونیسي.

2- د پراخ بنسټه ! حکومت د نسخې پر بنسټ یو مرکب معجون جوړ شو چې اصلاً د ملي شخصیتونو پر ځای قومي ټیکه دران پکې وپالل شول او د ملي مصلحت پر ځای د قومي تناسب تر نامه لاندې داسې قومپالو د واک پر کرسیو خیټه واچوله چې په اداره او نظام کې یې د قومي تعصبونو لپاره زمینه برابره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوه اداره او نظام کې د بیلا بیلو قومي او یا فکري لوریو د تناسب رعایت هغه مهال ښه خبره ده چې ملي ګټې پکې پر نورو تمایلاتو بر لاسي وي، دلته خبره له پیله برعکس وه او د ماته خوړلیو طالبانو غچ له پښتنو نه اخیستل کیدو، پښتانه سره له دې چې د دولت مشر او ځینې نور چارواکي د دوی وو په نظام کې داسې محروم شول چې ساری یې په تاریخ کې نشته، دې حالت د جګړې بیا پیلیدو او د بحران ژوریدو ته زمینه برابره کړه. د ښاغلي کرزي په مشرۍ په لنډ مهاله اداره کې 23 تنه د کابینې غړي وو چې مهمې کرسۍ د دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او بهرنیو چارو وزرات د ټلوالې د پنجشېر ګروپ ته ورکړل شوې وې، پر دې سر ببره تر نیمایي زیاته کابینه د دوی او دوی له نږدې همغږو کسانو جوړه وه.

3- د افغانستان ډېری ولس بیا هم له سیاسي پروسې بهر پاتې شو. طالبان او حزب اسلامي خو د امریکا تر غضب لاندې وو، په لویدیز کې پراته ټول هغه شخصیتونه چې له کوم خاص ګروپ اویا لویدیز کوم هېواد سره یې خاص روابط نه درلودل اصلاً د حکومت جوړونې او نظام جوړونې په پروسه کې هیڅ ونه پوښتل شول، ظاهراً د بن په کنفرانس کې په یوه بشپړ میکانیزم توافق وشو چې مخکې یې تفصیل یاد شو، خو عملاً واک د امریکا، شمال ټلوالې او د دوی د نورو متحدینو په منځ کې داسې ویشل شوی ؤ چې هیڅ اصول او قوانین په هغو کې نه ځاییدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسواکي او د بیان آزادي یعنې هغه څه چې د امریکا له ګټو سره اړخ ولګوي، که څوک د امریکا وحشت ته ګوته نیسي پر هغه به د القاعده او مخالف نوم اېښودل کیږي، په پیل کې د امریکا او لنډ مهالې اداړې د مشر ښاغلي کرزي تر منځ اړیکې دوستانه وې، ځکه چې هغه مهال په څو دلایلو هغه د نړیوالې ټولنې په وړاندې د کوم توند غبرګون جرئت نه درلود، ولس د مجاهد او طالب له ګډوډیو ډکو اوږدو کلونو واکمنیو نه ډېر ستومانه شوی ؤ، د طالبانو د واکمنۍ دوره په ډېرو اړخونو کې نه یوازې نړیوالو بلکې افغانانو ته هم د منلو وړ نه وه دا چې نن د امریکایي ځواکونو ویرې، ترهې او وحشت له افغان ولس نه د طالبانو وحشتونه هېر کړي دي بیله خبره ده، خو هغه مهال افغان ولس د طالبانو په منګولو کې د یوې لویې تباهۍ په لور روان وو، سوچه واکي پیل شوې وه چې ولس یې ډېر مایوس کړی ؤ، اوس چې بدلون راغلی ؤ خلک راتلونکې ته هیله من وو، د بن له پریکړو وروسته د ولسواکۍ د نغمې په بدرګه که هر څومره نامناسب او د خلکو د هیلو خلاف خلک واک ته رسیدلي وو خو دا هیله وه چې په راتلونکیو پراوونو کې به خامخا اصلاحات راشي. پخپله د اداړې مشر یو سر او دوه غوږه راغلی ؤ، هغه هم د عام ولس په څېر د راتلونکې په تمه ؤ، خو ده دومره ابتکار ونه کړای شو چې له وضعې څخه ښه استفاده وکړي او یو پر ارمانونو باوري ټیم جوړ کړای شي. متاسفانه ولسمشر کرزي په تیرو لسو کلونو کې یوه تجربه تکرار کړې چې هغه هم هر ځلې ناکامه وه، د ده تکیه پر پخوانیو جهادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرانو وه، هغوی متاسفانه دومره له ملي غوښتنو او دردونو بې غمه وو چې تر ټولو لوړه هیله یې په حکومت او نظام کې خپله او د خپلو زامنو او نورو خپلوانو وڼه او امتیاز خوندي کول وو، کرزی پخپله د یوه داسې وفادار او مخلص ټیم په جوړولو کې ناکام ؤ چې له ده سره په یوه ملي اجندا د تعهد له مخې جوړ وي، په دې اړه د بهرنیانو اراده هم دا وه چې داسې یو څوک د افغانستان د حکومت په واک کې وي چې په ملي ځواک بدل نشي، له ولس څخه د حکومت او چارواکیو د منزوي کیدلو تر ټولو ستر لامل پخپله نړیواله ټولنه وه چې د حکومت او مشرتابه اعتبار او وزن یې په ولس کې تر پوښتنې لاندې راوست، د خپلسریو عملیاتو دوام، د بې ګناه وګړیو مرګ ژوبله او د کورونو تالاشي، په دې برخه کې ډېر اغیز درلود، په افغاني ټولنه کې داسې واکمنۍ چې د پردیو لاسپوڅی او بې واکه وګڼل شي هیڅ اعتبار نشي موندلای، ولسمشر کرزي که د خپلو وروستیو کلونو دریځ په هغه لومړیو کلونوکې نیولی وای او هڅه یې کړې وای چې د داخلي جنګسالارانو او جهادي ټیکه دارانو نه ببل خپل کاري ګروپ جوړ کړي، ښایي دومره نه وای منزوی شوی او نن ښایي د افغانستان سیاسي وضعیت دومره خطرناک نه وای لکه اوس چې دی.

همدغسې په پیل کې هر څوک په دې نظر وو چې هره غلطي او کمزوري به د همدې دورې برخه وي چې زر تیریدونکې ده، نړیواله ټولنه د افغانستان ګل او ګلزار کولو د ژمنو په تکرار بوخته وه، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلازمینه کابل کې د طالبانو د ساړه او جامد دوران نه وروسته د ډالرو له باران سره یو له رنګونو ډک ژوند پیل شوی ؤ چې په هغو لومړیو کې د چا پام د دې ظاهري ځل بل تر شا هغو ناخوالو ته نه ور اوښت چې زمونږ ولس ورسره لاس او ګریوان ؤ.

د ولسمشر کرزي خبره د مبلې شیبې نوې پیل شوې وې، څوک چې د دې مبلو په نعمتونو کې ډوب وو هغوی د محرومو له درد او دوکه خبر نه وو یو مصنوعي حالت ؤ چې متاسفانه په دې کې یو نیم مسوولانه فریاد او خبرداری هیچا هم وانه ورید او ولسمشر کرزي فرصتونه له لاسه ورکړل.

4- د بن د پریکړو بل تر ټولو کمزوری اړخ دا ؤ چې په افغانستان کې د بحران د پایته رسولو او راتلونکي نظام په اړه د هغو نړیوالو بحرانونو د حل له فورمولونو او تجربو څخه ګټه اخیستل کیده چې د هغو ولسونو او افغان ولس تر منځ د ژوند په هر اړخ کې ډیر ژور توپیرونه وو، هره ټولنه ببلې ځانګړتیاوې لري په افغاني ټولنه کې د بحران د پای ته رسولو او دراتلونکي نظام په اړه د داسې ټولنو د نظامونو کټ مټ کاپي کول پیل شول چې زمونږ د ټولنې له دیني او ملي ارزښتونو سره یې ژور توپیرونه درلودل، په دې کې زمونږ د ولس غوښتنو او لومړیتوبونو ته ځوابونه نه وو، زمونږ د ټولنې ځانګړتیاؤ ته پام نه ؤ شوی، دلته یې یو ساری راوړم چې د پښتونخواه نومیالي ژورنالیست سلیم صافي په خپل کالم (جرګه) کې ورته اشاره کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کونړ ته تللی ؤ اوله خلکو یې پوښتلي وو چې ولې د حکومت او بهرنیو عسکرو پر خلاف یاست؟

په ځواب کې ورته ویل شوي وو چې:

(دا بهرنیان د سړي زامن نه دي په ولاړو متیازې کوي!) په ټولنه کې چې لابحران ختم شوی نه وي، د خلکو لومړنۍ د ژوند اړتیاوې پوره شوې نه وي له یوه برمیال جهاد او یوه توند لاري مذهبي نظام وروسته د (شکیرا) او تاجکي او هندي سندر غاړو نیم بربنډه نڅاوې پر تلویزیوني چینلونو خپرول په ولس کې څه ډول غبرګون درلودلی شي؟ په افغانستان کې ولسواکي د ارزښتونو اوغوښتنو پر بنسټ نه بلکې د خلکو د بې هدفه کولو او بوختولو په چارو پیل شوه، دا د کمونستي نظام د جبري مارشونو او سرو جامو او شعارونو په څېر یو حرکت ؤ چې یو شمیر غافل ځوانان به پکې خوښ وو، خو عام ولس له ټول فقر او وروسته پاتې والي سره له داسې ابتذال سره جوړ نه دی ځکه یو لړ اصول او ارزښتونه لري چې پر هغو باوري دي. پر همدې باور یې په لنډه ماضي کې په لکونو ځوانان قرباني شوي دي.

د بهرنیانو ړندو بمباریو او ناڅاپي بریدونو د کورونو تلاشي او د افغاني ټولنې د کور اومقدساتو د درناوي تر پښو لاندې کول د ملت او نظام تر منځ سره کرښه کش کړه، دا د همدغې غلطۍ زیږنده ده چې زمور ټولنې ته د نورو ټولنو له سترګیو کتل کیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله لویه کمزوري چې د (بن کنفرانس) زیږنده ده د بیا رغاونې په نامه ډارمه ده چې موخه یې (یو محتاج) افغانستان دی، دا ډېره پراخه موضوع ده چې کتابونه کتابونه څیړنې پرې کیدای شي، افغانستان سر شاره د کار قوه لري، خو اوس دوی مجبور دي ګاونډیو هېوادونو ته لاړ شي، افغانستان تر درې تریلیون ډالرو زیاتې کانې زیرمې لري چې تر اوسه پورې پر هغو پانګونه ونه شوه، زمور هېواد د اوبو د برېښنا زیاتې زمینې لري، خو کابل په پردې برېښنا رڼا دی، زمور هېواد اصلاً زراعتي هېواد دی، خو اوس هم د لکونو ټنه غلې واردولو ته اړ یوو. او زمور ملي اوبو ځلورو خواو ته بهیږي او مفتې یې ګاونډیان خوري.

زمور د ملي اقتصاد د ودې او غوړیدا په اړه هیڅ داسې ګام اوچت نه شو چې ولس خپله راتلونکې پکې ډاډمنه وګوري، د نړیوالو د مرستو له غوغا سره د اداري فساد ډنډوري هم اوچتې شوې او په ریښتنې معنا هڅه وشوه چې اداره او نظام په هر ډول فساد کې ښکیل شي، دا ټول د دې لپاره چې که یوه وړ اداره جوړه شي او په خلوص لاس په کار شي افغانستان به ډیر زر په خپلو پښو د دریدو جوګه شي او بیا به د نړیوالو ځواکونو د لویو لوبو د جګړې ډګر پاتې نشي، د بن په پریکړو کې اصلاً زیات ټینګار په دې پراوونو کې د سیاسي نظام پر جوړیدو شوی، چې په هغو کې شعوري او یا لاشعوري غلطي مخکې یادې شوې، خو عملاً چې د افغانستان د بیا رغاونې په اړه نړیوالې ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومه تګلاره غوره کړه هغه د افغان ولس د لومړیتوبونو او غوښتنو پر خلاف، د افغانستان د شرایطو او ظروفو سره په ټکر کې وه چې همدغسې تر ننه دوام لري.

که په افغانستان کې د هر اړخیزې بیا رغاونې یوه سالمه تګلاره پلې شوې وای، د جګړې او بحران د دوام ډېر داخلي اسباب به ورسره رفع شوي وو، خو (ای بسا آرزو که خاک شده !) زه یې دلته جزئیاتو ته نه ځم او پر همدې یادونه بسنه کوم.

فرصتونه ولې ضایع شول؟

اوس یوه مهمه پوښتنه همدغه ده چې فرصتونه ولې ضایع شول او ولې د بن د پریکړو کمزورۍ او خامۍ وروسته سمې نه شوې؟

په دې اړه دري نظرونه د پام وړ دي:

لومړی: نړیواله ټولنه او یوشمیر ورپورې ټرلي افغانان په دې نظر دي چې په افغاني زعامت او مشرتابه کې دا وړتیا نه وه، د ښه مدیریت نشتوالی د دې سبب شو چې نړیوالې مرستې د درغلیو له لارې د ملت پر ځای د فاسدو چارواکیو او د دوی د خپلوانو جیبونو ته ولویږي.

د جګړې د دوام په اړه د دوی په اند د بهرنۍ لاسوهنې دوام په تیره په پاکستان کې د ترهګرۍ د مرکزونو شتون او د هغه هېواد د پوځي او استخباراتي کړیو لخوا د جګړه مارو د ملاتړ او هڅونو دوام تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر لامل دی، په افغانستان کې بې کفایته اداره او نظام او ګاونډیو هېوادونو له لوري د وسله والو لاسوهنو دوام د بحران د ژوریدو او د فرصتونو د ضایع کیدو سبب شول، د دوی په اند افغان اداره او نظام هیڅ واضح پالیسي او تګلاره نه لري، همغږی ټیم نه دی او په فساد کې ډوبه اداره ده.

دوهم- ولسمشر او د دوی پلویان بیا د ټولو فرصتونو د ضایع کیدو پړه پر نړیواله ټولنه او له دوی سره تړلې مافیا ورغوځوي، ددې لپاره د هغوی دلایل دا دي چې که نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د نظام د پیاوړتیا او ځواکمنې ارادې درلودای عملاً به یې مرستې له حکومت سره کړې وای، د افغان حکومت په مقابل کې به یې په مرکز او ولایاتو کې د متوازي حکومتونو او ادارو جوړولو هڅه نه کوله، د حکومت پر خلاف به یې سیاسي مخالفین پرشا نه ټپول، د ترهګرۍ خلاف مبارزې په نامه به یې زمونږ د مظلوم ولس پر سر او مال داسې په بې رحمۍ نه بلوسل، د افغانستان د عدلي او قضایي ارګانونو په شتون کې دوی ته د داسې ادارو جوړولو څه اړتیا وه چې افغانان په خپل سر ونیسي تحقیق ترې وکړي او بندیان یې کړي؟

د افغان ملي اردو او پوځ د پیاوړتیا پر ځای دوی د بلیک واټر او نورو بهرنیو خصوصي امنیتي کمپنیو سره ولې قرار دادونه وکړل؟ که د وړتیا او ظرفیت خبره وي ظرفیت خو د همدې افغاني ملي ارګانونو هم لوړیدای شوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جګړې د دوام او د مخالفینو د پیاوړي کیدو په اړه هم د ولسمشر او د ده د پلویانو نظر دا دی چې ولې زموږ له غوښتنو سره سره په بهر کې د ترهګرۍ مرکزونه او روز نځایونه په ننه نشول او د هغو پر ځای د افغانستان پر کلیو او کورونو بمباري دوام درلود؟

ولې خلک په جبر دې ته اړ کړای شول چې د نظام پر خلاف ودریږي. ولې پر پاکستان لازم فشار رانه وړل شو او اوس چې افغانستان د سولې او تفاهم کومې هڅې پیل کړې ولې د همدې نړیوالې ټولنې له لوري د هغو د تخریب هڅې کیږي؟!

په افغانستان کې د اداري فساد او جګړو د دوام په اړه دواړه لوري پړه پر یو بل وراچوي، ولسمشر څو څو ځله په افغان اداره کې د اداري فساد پړه پر بهرنیانو ورغورځولې او وایي چې دا فساد سیاسي انګیزې لري او ریښې یې په بهر کې دې، حکومت دا مثال هم راوړي چې د نادر آتش، قدیرفطرت، چکري او نورو په فساد کې ښکیلو کسانو امریکا او اروپا ته تښته دا ښیي چې دوی هلته خوندي دي، په دې اړه پخپله امریکایي او لویدیزو ادارو او رسنیو هم داسې راپورونه او اسناد خپاره کړل چې د افغان لوري استدلال تائید وي، د امریکا د مالي مرستو د څارونکیو د وړم کال راپور چې د امریکایي قراردادیانو د درغلیو په اړه ؤ د ساري په توګه یادولای شو. افغان حکومت د کابل بانک د مالي فساد په اړه څو ځلې داسې شواهد خپاره کړل چې دا ثابتوي چې دا د یوې سنجول شوې توطیې برخه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کابل بانک سقوط وکړي تر څو د افغانستان بانک ذخیره شوې 6 ملیارده ډالره شتمني پکې اوبه او د افغانستان پر بانکي سیستم باور له منځه لاړ شي، په دې توطیه کې د افغانستان بانک بهرنیو مشاورینو او دوو امریکایي ادارو نیغ په نیغه لاس درلود.

درېیم - درېیم نظر تر ډېره حده واقعبینانه دی، ښایي ډېری له سیاسي تړاوونو لرې هغه افغانان چې د هېواد روان حالت یې سخت ځوروي په همدې نظر وي چې د روان بحران په اړه دواړه لوري ملامت دي. د حکومتي لوري زیاتره دلایل پر ځای دي، همدومره ویلای شو چې ښایي افغان ولس پر دې بشپړ باوري شوی وي چې د هغه متل په مصداق پیشو د خدای لپاره موږک نه نیسي، امریکا او نړیواله ټولنه د افغانانو په غم کې نه ده هغه د خپلو ګټو لپاره راغلې ده، افغان حکومت او ولسمشر چې که په پیل کې بیځایه خوشباوري نه وای کړې زمونږ ولس به نن له دومره لویو بدمرغیو سره لاس او ګریوان نه ؤ، ولې هغوی داسې خپلسریو ته پرېښودل شول؟ په دې برخه کې د حکومتي ټیم په تیره د ولسمشر تر ټولو لویه کمزوري دا ده چې ډېر ځله د غفلت له امله ستونزې ژورې کړې دي.د ولسي جرګې د وروستیو انتخاباتو پایلې او له هغو سره تړلې لانجې یې یو ساری یادولای شو، که ولسمشر د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون د مشر او کمیشنرانو په ټاکنه کې مسوولانه دقت کړی وای داسې لوېې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسوایی. به ولې جوړیدې چې هر چا ته د لاسوهنې زمینه پکې برابره شي.

پر دې سربېره ولسمشر خپل صلاحیت او واک پر بیځایه مصلحت پالنه ضایع کړ، که دمصلحتي ټیم پر ځای چې د جارالله منصوري او یا نورو په څېر په بیلا بیلو رسنیو کې د دوی د نه وفاداری په باب ژوندي سندونه خپاره شول ولسمشر د یوه تعهد پر بنسټ یو ژمن او وفادار کاري ټیم جوړ کړی وای ښایي په پیل کې ځینې کسان تړې مرور شوي وای خو ورو ورو به هغه د ولس په منځ کې د وړتیا او کمال لرونکیو کدرونو په موندلو کې خو د کفا شوی ؤ او اوس به د یوه لوی ځواک او کدرونو خاوند وای چې نړیوالې ټولنې به یې هیڅکله هم د ولسمشری د روانې دورې د سر ته رسولو په اړه ګوابنونه نه شوای کولای، بلکې برعکس هغوی به د یوه داسې بانفوذه مشر سره طرف وای چې په ولس کې پر قومي مشرانو سربېره په ځوان لوستي پاړکي کې هم د لوی پلوي ځواک خاوند دی، له داسې چا سره بیا نړیواله ټولنه د رسوا ټکر جرئت نشي کولای برعکس ځان ور تیر ایستلای شي او سازش ورسره غوره ګڼي.

د ولسمشر همدغې کمزوری د ده پر ډېرو ښېګڼو خاوري وراړولې، پر دې ټولو سربېره د دې پوښتنې چې ولې فرصتونه له لاسه ووتل او د افغان ولس د سوله ایز ژوندانه ارمانونه تر سره نه شول اصلي ځواب دا دی چې اصلاً نړیوالې ټولنې له پیله نه غوښتل چې په افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ثبات ټینګ او یو په پښو ولاړ نظام جوړ شي، ځکه چې که د بن کنفرانس تر ننه چې د بن د دوهم کنفرانس خبرې کیږي د هغو غلطیو او کمزوریو مخه نیول شوې وای او اصلاحات راغلي وای چې په سیستم او یا تګلارو کې وو او نړیوالو هم پرې اعترافونه کړي دي، وضعه به دومره ویجاړه نه وه چې اوس په دوهم بن کې له صفر نه د پیل خبرې هم زمزمه کیږي.

د بن کنفرانس د بنسټیزو غلطیو په اړه تر ټولو مهم اعتراف پخپله د اخضر ابراهیمي دی، نوموړی چې دوه ځله د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي د استازي په توګه دنده تر سره کړې د بن کنفرانس د اصلي لوبغاړو څخه یو ؤ. ابراهیمي په ۲۰۰۸ زیږدیز کال کې له آزادی راډیو سره په ځانګړې تفصیلي مرکه کې د بن کنفرانس پر بنسټیزو تشو د اعتراف په ترڅ کې وویل:

(هغه مهال بیړه وشوه خو د افغانستان د ولس یوه زیاته برخه له سیاسي پروسې څخه بهر پاتې شوه، وروسته په افغانستان کې ما د یوناما د مشر په حیث هڅه وکړه چې طالبان او حزب اسلامي د خبرو اترو او تفاهم له لارې د افغانستان پر سیاسي بهیر ورګډ شي، خو هغه مهال شمالی ټلوالې په افغان حکومت کې کلیدي رول درلود او زما د هڅو مخه یې و نیوله).

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعیت دا دی چې په لویه کچه په افغانستان کې ښکېل نړیوال لوبغاړي په یوه لویه لوبه بوخت دي چې قرباني یې افغان ولس ورکوي، دغه نړیوال لوبغاړي غواړي چې په افغانستان او سیمه کې بحران دوام وکړي، حکومت او نظام پر خپلو پښو ونه درېږي او د ولس لپاره له عامه خدماتو ناتوانه وي چې نفوذ پیدا نه کړي تر څو د دوی لپاره د لوبې د دوام زمینه برابره وي، که په افغانستان کې سوله او ثبات راشي، بیا به لومړی د بهرنیو ځواکونو د شتون مشروعیت تر پوښتنې لاندې راځي، ځکه خو سر له اوسه د یوه کنترول شوي بحران د دوام هڅې کېږي. همدغه هڅې دا ښیي چې اصلاً د فرصتونو د له لاسه وتلو پوښتنه بیځایه ده، ځکه چې لوبه د اصلي لوبغاړو په خوښه او ګټه روانه ده، افغان ولس له پیله په دې لوبه کې یوازې د وینې او قربانۍ لپاره انتخاب شوی ؤ، د ۲۰۰۲ زیږدیز کال هغه ټرون یې ژوندی سند دی چې د وخت د بهرنیو ځواکونو قوماندان د افغان لوري د کورنیو چارو له وزیر سره لاسلیک کړی او بیا همدغه سند د یوه بل رسمي مکتوب له لارې د وخت د بهرنیو چارو وزیر لخوا تائید شوی او لاسلیک شوی دی.

اوس چې د دوهم بن کنفرانس تیاری نیول کېږي د هغو ظاهري اړخ دا دی چې دا به د تیر په څېر د المان د هېواد په لګښت په بن کې جوړېږي او مشري به یې افغان حکومت کوي، خو د پردې تر شا د ځینو بهرنیانو لخوا د دوهم بن کنفرانس لپاره په خطرناکو اجنداؤ کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي، په دې اړه یو د پخواني ختیځ برلین کینې اړخی دپلومات (توماس روتیک) دی، نومورې د ډاکتر نجیب د واکمنۍ پر مهال په افغانستان کې اوسیدلی او په پښتو او دري ژبو روانې خبرې کولای شي، د بن په لومړي کنفرانس، اضطراري لویه جرګه او د اساسي قانون د کمیسیون د غړیو په غوراوي کې یې ډېر رول درلود هغه مهال یې زیات کینې اړخي د غیر اسلامي نظریاتو لرونکي افغانان د مدني ټولنې او نورو لارو نه په یادو پروسو کې ځای کړل، نومورې اوس بیا دا دی په کابل کې فعال شوی او د افغان تحلیګرانو په نامه یې یو مرکز پرانیستی، د مدني ټولنې په نامه د چپي افکارو خاوندان راټولوي او د دوهم بن په پروسه کې یې د فعال رول په موخه ځایوي.

د اګست په لومړۍ اونۍ کې په افغانستان کې د امریکا نوي سفیر ریان کراکر په خپل لومړني خبر کنفرانس کې د دوهم بن د غونډې په اړه چې څه وویل دا د نړیوالې ټولنې د ذهنیت ښه ترجماني کوي نومورې یو ځل سرې کرښې کش کړې وې ویل چې په بن کې به د مدني ټولنې استازي ګډون کوي، طالبانو ته په دې کنفرانس کې د ګډون چانس نشته خو وروسته بیا وایي چې د بن کنفرانس مشري د افغان حکومت پر غاړه ده دا د دوی واک دی چې څوک ورته رابولي او څوک نه، اجندا یې هم د دوی په واک کې ده ! !

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوهم بن د کنفرانس په اړه د ځینو همدغو بهرنیو لوریو له هڅو نه ښکاري چې په دوهم بن کې به د افغانستان لپاره بیا یوه نوې تجربه پیلیږي، هر څه به له صفر نه پیل کیږي، د فدرالي نظام طرحه په پام کې ده چې دا دي اوس یې د ملاتړ لپاره د ځینو کړیو لخوا علني غږونه اوچت شوي دي. ملي کنګرې په کابل کې د زمري پر (۴) مه د پنجشنبې په ورځ د افغانستان د ستونزو د اساسي حل لپاره (فدرالي نظام) ډنډوره اوچته کړه او دا د هماغه دوهم بن کنفرانس د اجندا او پریکړو لپاره علني پیل دی، د باوري سرچینو په وینا د لومړي بن نه لس کاله وروسته په دوهم بن کنفرانس کې بیا یو لس کلن پلان په پام کې دی چې د فدرالي نظام نه به پیلیږي.

بهرني لوري غواړي چې تیر لس کلن تور له مرګونو او ماتمونو ډک دوران د لسو نورو کلونو لپاره داسې وغځوي چې بیا کوم حامد کرزی پکې راپورته کیدو او پر ولس د وحشتونو له امله د نیوکو او اعتراض توان ونه لري. افغان ولس د (فدرالیزم) تر نامه لاندې پخپلو کې سره وشلوي او داسې یې سره واچوي چې بیا پر یوه محور د راټولیدو جوګه نشي. که په ایماني جذبه او ملي احساس د دې ژورې توطیې مخه ونه نیول شي افغان ولس به بیا په پیړیو پیړیو د دې زیانونه جبیره ونکړای شي.

باید په زغرده ووایو چې په دې برخه کې حکومت او چارواکي په یوازې ځان هیڅ نه شي کولای، ځکه چې د همدې طرحې د پلي کیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره په ډېر مهارت د درې ګونو قواوؤ په منځ کې بحران ته لمن وهل کیږي، د زمري په لومړیو کې د ولسي جرګې یو شمیر غړیو په ارګ کې له ولسمشر کرزي سره په خبرو کې دا افشا کړه چې ځینې سفارتونه او بهرنۍ اداری له هغو څخه د امریکا او انګلستان سفارتونه او یوناما وکیلان دې ته هڅوي چې خلک لاریونو ته را وباسي او دحکومت پر خلاف ودریږي. د همدې تړلیو وکیلانو له ډلې څخه چې په یادو شویو سفارتونو کې ډېر ګرځي کرزي ته د ملي خیانت په تور د عزل کولو ګواښونه هم وکړل. په دغسې حالت کې یوازې د مدني ټولنې د وطندوستو لوریو، روښاندو د ولس د مشرانو او باخبره افغانانو ګډه چیغه او غبرګون دغه مرګونې چوپتیا ماتولای شي چې رسنیو ته راووزي او د افغان ولس پر خلاف د کومې توطیې د پلي کیدا مخه ونیسي.

ماخذونه:

1 – نړۍ د توپان پر اوږو د محمد الله کمال راټولونه

2- د سهار ورځپاڼې بیلا بېلې ګڼې

3 – بیلا بېلې ویبپاڼې، د ویسا ورځپاڼې بیلا بېلې ګڼې

5– د جنګ او مشرق ورځپاڼې بیلا بېلې ګڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان و بُن دوم !

انجنیر زلمی نصرت مهمند

همه میدانیم که قرار است، در آیندهَ نزدیک کنفرانس «بُن دوم» در شهر بن آلمان در مورد سرنوشت آیندهّ افغانستان، که به سرنوشت هر یک ما ارتباط میگیرد و بالای سرنوشت فرد فرد افغان تاثیر خود را دارد، بر گذار شود(کنفرانس بن اول در اکتوبر ۲۰۰۱ میلادی در شهر بن المان برگذار گردیده بود) در این جستار کوتاه ضرورت میبینم، تا نقاط نظر خود را به ارتباط کنفرانس بن دوم، به منظور نجات افغانستان از جنگ، بحران و بی ثباتی و مناقشات قومی، که افغانستان را به سوی بربادی سوق داده است، در پیوند با نتایج و پیامد های کنفرانس بن اول طی ده سال بیان نمایم.

همه میدانیم که سقوط طالبان از توان نیروهای خودی خارج بود و فقط ناتو و ایالات متحده امریکا قادر بود، تا قدرت طالبان را ساقط و انها را مجبور به عقب نشینی نماید. از آنجائیکه از یک سو یک قوت قویتر ملی و سراسری خودی در مقایسه با جنبش اسلامی طالبان در افغانستان وجود نداشت و از سوی دیگر چون در زمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

تدویر کنفرانس بن اول نیروهای ملی دیموکراتیک، چپ ترقیخواه و تحول پسند، شخصیت های ملی و مذهبی و علما و دانشمندان افغان بیشتر در یک حالت و فضای بی باوری، در خود پیچیدگی، حالت سکوت، کرختی، نفرت و پراگندگی و انشقاق تشکیلاتی (منظورم احزاب سیاسی و انجمن ها و اتحادیه های اقشار و اصناف مختلف جامعه مدنی و روشنفکری است) زیست داشتند و هم از تصفیه حسابات دوران «جنگ سرد» و انتقام گیری های گذشته بیرون نشده بودند و از سوی دیگر بیش از ۳۰ سال جنگ مردم افغانستان را زیاد خسته و مانده ساخته بود و همه نیروهای سیاسی چه چپ، چه راست و چه هم میانه اعتماد خود را در برابر مردم از دست داده بود.

به همین دلیل هم مردم با حضور ناتو در افغانستان که در چوکات تصامیم سازمان ملل متحد صورت گرفت و از رژیم های گذشته خاصتاً طالبان و مجاهدین هم چندان دل خوش و رضایت نداشتند برای بسیج و دفاع از دموکراسی و دولت جدید آماده بودند.

صلح و ثبات و منافع شان را و تامین عدالت اجتماعی را در حضور جامعه جهانی در افغانستان میدیدند و به آینده سخت امید وار و خوش بین بودند. به همین دلیل هم وقتی طالبان از بین رفت، مردم بلادیده افغانستان بعد از شکست طالبان انتظار و توقعات بزرگ از نیروهای بین المللی داشت، مردم توقع داشت، که بعد از سقوط طالبان در افغانستان برای پیاده نمودن دموکراسی و عدالت گام های

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابتدایی بر داشته خواهند شد، عدالت و حقوق اتباع افغانستان تامین و یک حاکمیت و یک رژیم واقعاً قابل قبول برای مردم افغانستان روی کار خواهند شد، مردم زیر «چتر» نیروهای بین المللی به خوشبختی نایل میشوند، صلح و ثبات در کشور به میان می آید، فقر و بیکاری و بی روزگاری و گرسنگی پایان می یابد، که متأسفانه چنین نشد !

مردم هم چنان از جامعهَ بین المللی توقع داشت، که تمام جنایتکاران ومجرمین جنگی و قاتلین مردم در طول سه دهه که افغانستان را به سوی بر بادی و تجزیه سوق داده اند، مورد باز پرس قرار خواهند گرفت، مجازات و به کیفر اعمال شان رسانیده خواهند شد، که متأسفانه چنین هم نشد.

در عوض، خلاف توقع و انتظارات مردم، اکثریت قاتلین مردم افغانستان، غاصبین و قاچاقبران، چهره های بد نام وناقضین حقوق بشر که به جز فریب و دروغ برای مردم دیگر کدام کار ی نداشتند، روی کار آمدند و مافیایی سیاسی و اقتصادی و یک بخش از اسلامگرایان متعصب سیاسی بر سرنوشت مردم دوباره حاکم ساخته شدند و مردم در نظامیکه بعد از توافقات بن اول پایه گذاری شد، در تمام ارکان قدرت خدمتگذاران شان را نه بلکه اکثراً قاتلین خود را دیدند، آدم کشان را دیدند و انانی را دیدند که مفکورهء خدمت به مردم را در سر نداشتند و عاملین اصلی بربادی افغانستان بعد از

(c) ketabton.com: The Digital Library

سال ۱۹۹۲ و سازماندهندگان ترویج مفکوره انتقال قدرت به شمال و جنگیدن در مقابل جنوب بودند.

شورای مدافع حقوق بشر سازمان ملل متحد، در مورد راپور مستند انتشار یافتهء اکتوبر ۲۰۰۴ پروژه «داد خواهی افغانستان» (از حوادث قتل عامها، اعدام های فوری و شکنجه های سیستماتیک، تجاوزات جنسی بطور وسیع و هدف گیری های نظامی عمدی بر اهالی ملکی بین سال های ۱۹۷۸ تا ۲۰۰۱ جنایات و مجرمین جنگی خاصتاً در دوره های بعد از سال ۱۹۹۲) توسط یک سازمان مدافعوی و تحقیقاتی مستقل، تحقیق و رسیدگی نکرد.

مضحکتر از همه اینکه، با تمام بی شرمی در ۲۰۰۷ پارلمان قلابی و سهامی افغانستان، فیصله شرم اور و ننگین نام نهاد مصالحه با جنایتکاران و مجرمین جنگی سه دهه را پیشکش کرد، تا تمام مجرمین و جنایتکاران سه دهه را برائت بدهند.

به همین دلیل مردم به شک افتیدند، مجبور شدند، تا از نظام اهسته، اهسته فاصله بگیرند، نفرت و انزجار شان را نسبت به حاکمان و خارجیان ابراز نمایند، مردم حق داشت تا چنین یک موضعگیری عاقلانه سالم و منطقی اختیار نمایند، بلاخره اعتماد مردم از نظام و جامعه بین المللی در افغانستان از بین رفت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا در جامعه یی که در طی بیش از سه دهه تا امروز با وحشیانه ترین شکل و با بی رحمی خون هزار ها افغان ریختانده شده باشد و ریختانده شود ، هر روز مردم قربانی بدهد ، هر روز مردم کشته بدهد و هر روز نان و زندگی شان به خاطر یک اقلیت بدنام و خون اشام تاریخ گرفته شود ، خانه و کاشانه شان به آتش کشیده شود ، ابرو و عزت شان پایمال شود ، به فرهنگ و کلتور و عنعنات مردم احترام صورت نگیرد ، اخلاقیات جامعه زیر پا شود ، نورم های ابتدایی حقوق بشر رعایت نشود ، ممکن است که بدون جواب بماند و با شعار «مه ترا ملا میگویم و تو مرا حاجی» همه خون های ریختانده شده، ویرانی و بربادی وطن، یکسره فراموش مردم شود ؟ به یقین که نه !

اشتباه بزرگ نیروهای بین المللی، ناتو و سازمان ملل متحد در آن بود ، که در تعویض طالبان نیروهای ملی دیموراتیک ترقیخوا ، شخصیت های ملی، مذهبی دانشمندان خلاصه کادر های عرصه دولتداری و یک بخش مجاهدین رانادیده گرفت و بیشتر بالای نیروهای مغرور اتحاد شمال که در ناکامی پلان صلح ملل متحد و ناکامی سیاست های صلح آمیز حکومت دوکتور نجیب ا لله و بربادی و ویرانی افغانستان از سال ۱۹۹۲ الی ۱۹۹۲ رول و نقش اساسی داشتند و بالای آدمک های جنگ سالار بدنام تاریخ، تکنوکرات های فاسد که به دموکراسی و صلح، به افغانستان قوی و با ثبات و به وحدت ملی هیچ عقیده و باور نداشتند و در چندین شبکه های

(c) ketabton.com: The Digital Library

استخباراتی اجانب عضویت داشتند و مخالف سر سخت و سد راه آزادی های مدنی، سیاسی و عقیدتی بودند، و هیچ گونه ریشهء مردمی نداشتند تکیه کردند، وخواستند توسط قاتلین مردم و مفسدین دموکراسی را پیاده کنند و صلح را به مردم به ارمغان بیاورند، یعنی نیروهای بین المللی با آنهایی میخواهند ارزش ها را پیاده کنند که خود به این ارزش ها نه تنها معتقد نیستند بلکه اعتقاد شان در دشمنی با این ارزش ها است. در نتیجه منافع جنگ سالاران و ناقضین حقوق بشر با منافع مردم تصادم کرد، مسئله شمال و جنوب، مسایل قومی، زبانی و محلی بیشتر از گذشته داغ شد، مردم از نظام فاصله گرفت و همین افراد زمینه را برای ناکامی جامعه جهانی و گسترش ابعاد جنگ، وحشت و ترس، تشدید اختلافات قومی، زبانی و سمتی، داغ ساختن مسئله شمال و جنوب در افغانستان هموار ساختند.

از آنجائیکه صلح و عدالت دو روی یک مسئله است، بنأ باور من این است، تا زمانیکه برخورد قانونی و مدنی با جنایتکاران سه دهه تا امروز صورت نگیرد، آنها محکمه و به کیفر اعمال شان رسانیده نشود و از قدرت کنار زده نشوند و با آنها تصفیه حساب نشود، دشوار است از ختم جنگ و وحشت، تأمین صلح و ثبات، دموکراسی و جلب اعتماد مردم سخن گفت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یکی ازعواملی ادامه جنگ بحران و بی ثباتی و ادامه استبداد، پیوستن و متمایل شدن مردم بسوی طالبان و مخالفت شان با حضور جامعه جهانی و نظام موجود همین مسئله عدم رسیدگی و عدم تعقیب عدلی و قضایی قاتلین مردم است، که بدون مجازات ماندند و تا هنوز در ارکان مهم قدرت تکیه دارند و تمام امتیازات و امکانات در اختیار شان است.

برای آنکه در کشور صلح و ثبات به میان اید، به بحران، فساد و تداوم جنگ خاتمه داده شود، مردم در دفاع از دموکراسی و نیروهای پراگنده در یک سازمان بزرگ سراسری ملی و سالم بسیج شوند، مسئله مجازات قاتلین مردم افغانستان به هر نام و نشانی که باشد، باید به یکی از شعار های روز مبدل گردد و با تمام قوت برای موفقیت این پروسه با ساختن یک کمیته ویژه ای عدلی و قضایی تحت نظر سازمان ملل متحد مبارزه جدی و پیگیر صورت بگیرد و رسیدگی به این مهم باید در اجندای کنفرانس بن دوم مدنظر گرفته شود و گنجانیده شود.

از دیدگاه و نظر من این طرح «که گویا، ما مخالف محاکمه جنایتکاران و قاتلین مردم از ثور ۱۳۵۷ تا امروز و بعد از آن نیستیم. اما بالا کشیدن این مسئله برخی حساسیت ها را در پی دارد و در شرایط کنونی به نفع اوضاع نیست.» نه تنها یک طرح و نظر درست و سالم نیست و یک طرح معیوب است. بلکه صاف و څسچه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمایت از ادامه جنگ و جنایت است و معنی آن این است که جنایت و کشتار بی رحمانه، غارت و چور و چپاول دارایی مردم و بیت المال، اختلافات قومی، سمتی و زبانی، و انشقاق ملی، بی حرمتی و بی عزتی مردم بی دفاع، فقر و گرسنگی و بیکاری ادامه یابد و یک اقلیت غدار مفتخور بر سرنوشت مردم فرمانروایی کند.

(هر گاه خواهان تأمین صلح و ثبات و ختم جنگ در افغانستان استیم و برای «ما» منافع ملی و مردم و اعمار جامعه نوین و «انسان نوین» و باز سازی افغانستان محک است و هر گاه «ما» برای مردم مبارزه میکنیم، بنأ ما باید به مثابه انسان نوین، تغییر یافته و رسالتمند در دفاع از منافع مردم و در کنار مردم قرار بگیریم، نه در کنار و دفاع از قاتلین مردم!)

به این امر باید کاملاً صادق و قاطع باشیم و با صراحت و علنیت و شفافیت مسئله را مطرح نماییم، محاکمه جانیان حرف دل مردم است و تا زمانیکه حرف دل مردم بالا نشود و از آن حمایت صورت نگیرد و حقیقت برای مردم گفته نشود، مردم نه بالای نظام، نه بالای جریان های سیاسی و احزاب و شخصیت های مستقل ملی، دینی- مذهبی و نه هم بالای جامعه جهانی اعتماد خواهد کرد.

یکی از ده ها دلیل ادامه و گشترش ابعاد جنایت کردن، جنگ و بی ثباتی در کشور، همین طرز فکر خام است، که ائتلاف ها، اتحاد ها،

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبهات و اپوزیسیون ها و شورا ها به بهانهء «مصلحت ملی!» با قاتلین مردم افغانستان ساخته شده و شکل میگیرد، نه از میان نیروهای سالم طرف های در گیر، وطندوست و با درد جامعه. این هم یکی از مواردی است که رسیدگی به آن باید در صدر اجندای کنفرانس بن دوم به بحث گرفته شود.

دانشمندان عرصه اقتصاد و سیاست میدانند که: راندن جبری و عجولانه جامعه در یک انتخاب و یا یک راه بدون در نظر داشت مناسبات مسلط جامعه، جامعه را به قهقرا میکشاند.

با حضور ناتو و ایالات متحدهَ امریکا در افغانستان، برای انکشاف و بهبود وضع اقتصادی «مردم!»، راه رشد سیستم اقتصاد بازار «ازاد»، بدون آنکه به ویژه گی جامعه افغانی، مناسبات فیودالی و ماقبل آن، اقتصاد قبیلوی، که هر کدام آن به شکل طبیعی منحیث بنیاد مستحکم جایگاه خود را در جامعه دارد، توجه صورت بگیرد، به شکل لیبرال و لجام گسیخته آن انتخاب شد، همین انتخاب حالت کاملاً جدید را در کشور به وجود آورده است.

انتخاب راه رشد اقتصاد سیستم بازار «آزاد» به شکل لجام گسیخته،غیر کنترول شده و بدون انتظام سبب زایش، استحکام، گسترش و تقویت اقتصاد مافیایی دولتی شده است و راه را بطور آشکار به غارت و خورد و بورد دولتمردان زورمند هموار ساخته

(c) ketabton.com: The Digital Library

است، ملیاردها دالر به افغانستان به نام کمک سرازیرشد، اما کوچکترین تاثیر بالای زندگی اکثریت مردم بجا نگذاشت و بدون آنکه مردم از آن کوچکترین سهم و سود ببرد، توسط چند تن غدار معلوم الحال حیف میل و غارت گردید، جامعه به سوی بر بادی و قهقرا کشانده شد، فقیر، فقیر تر شد و گرسنه، گرسنه تر. بحران و بی ثباتی و ابعاد جنگ و ناامنی در کشور گسترش یافت.

آن توقع و انتظاراتی را که مردم افغانستان ازحضور ناتو و ایالات متحدهَ امریکا، بعد از سقوط طالبان، و انتخاب راه رشد سیستم اقتصاد بازار آزاد داشت،که گویا وضع اقتصادی و شرایط زندگی شان بهتر خواهد شد، جامعه در مسیر، ترقی تعالی و پیشرفت رانده خواهد شد، به یأس و ناامیدی مبدل گشت، مردم از دست بی عدالتی، خشونت و قانون شکنی حاکمان زورمند غدار و دزد تا سرحد تغییر عقیده و پزیرش حضور دوباره طالبان به ستوه رسیده اند، قسمیکه قبلاً نیز به آن اشاره شد.

در یک کشوری مصرفی، در یک کشوری که، از یک طرف مناسبات فیودالی و ماقبل آن، اقتصاد قبیلوی جایگاه خود را در جامعه داشته باشد و از جانب دیگر در کشوری که ثبات و امنیت در آن وجود نداشته باشد، در یک کشور جنگ زده وویران که طی **۳۵** سال جنگ تمام مناسبات آن با کشور های همسایه تخریب شده باشد، در کشوری که دولتش توان دفاع از خود را نداشته باشد، کادر های

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارگانهای حکومتی فاقد دانش مسلکی تخصصی و مغروق در فساد و خورد و بورد باشند و قادر به مصرف نمودن بودیجه عادی انکشافی شان نباشند ، که بودیجه انکشافی را چگونه و در کجا و بنا بر کدام ضرورت و نیازمندی به مصرف برسانند ، و ظرفیت های دست داشته را چگونه بکار بگیرند ، چگونه میشود بدون بکار برد میکانیزم کنترول و نظارت بر پروسه رشد اقتصادی از بهبود وضع اقتصادی به نفع اکثریت مردم حرف زد ؟

به همین دلیل نتایج معکوس به دست آمد و وضع در مسیری انکشاف کرد طوری که پیش بینی میشد. و ای فرموده که، راندن جبری و عجولانه جامعه در یک انتخاب و یک راه بدون در نظر داشت مناسبات مسلط جامعه، جامعه را به قهقرا میکشاند ، یکبار دیگر واقعیت پیدا کرد. (همانگونه که راه رشد غیر سرمایه داری ناکارآمد بودن خود را در افغانستان ثابت ساخت، سیستم مروج اقتصاد امروزی از جانب ایالات متحده نیز جامعه ما را به قهقرا خواهند کشاند.)

بنأ نمیشود ، اقتصاد قبیلوی و فیودالی را در یک کشور ویران و جنگ زده چون افغانستان، با سر دادن شعار های مدرن اروپایی و بکار گرفتن و کاپی نمودن مدل های اروپایی و آن هم از راه زور و جبر، در وجود یک دولت سر تا پای غرق در فساد ، ضعیف و غیر مسلکی و تخصصی، بطور آنی شکستاند و در هم کوبید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیان اظهارات فوق به این معنی نیست، که راه رشد سیستم اقتصاد بازار «آزاد» مزیت و خوبی های خود را ندارد و باعث رشد نیروهای مؤلده و تولید نمیگردد و گویا ما مخالف آن راه استیم!

۲. یو رښتونی افغان سیاسي ګوند خپله دنده بولي چې خپل هېوادوال پوه او ګډو لارو چارو ته یې وهڅوي او له دې لارې د نړیوالو سره اړیکی وساتل شي. یو سیاسي ګوند باید د افغاني ټولنې د ځانګړتیاوو له مخې د ټاکنو له لارې ځان واکمنۍ ته ورسوي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمنۍ د شته خندونو او تاو تریخوالي پر وړاندې د بېتاوه پاڅون (عدم تشدد)، رغنده او خوځنده لارې نږدې دوه سوه رودې (طریقې) غوره کړي، او هره یوه یې د خپل مهال او ځای سره سمه وکاروي.

۳ـ نږدې کړده پخوانۍ او اوسنۍ اندپوهنې (ایډیالوژۍ)، [ټولنواله (سوسیالېزم)، پرګنواله (کمونېزم)، ازادیواله (لېبرالېزم)، ولسپاله (نشنلېزم)، توکېزواله (متریالېزم)، انګیرواله (ایډیالېزم) او ...] په اوسمهاله سیاسي ډګر او د ګوندونو په اړه کې، تتې او خواړې ښکاري. مانا دا چې اندپوهنه نوره د سیاسي ګوندونو اړینې او بنسټیزې چارې نه شي جوړولی. سیاسي ګوند د خلکو او دولت ترمنځ یو تړون دی. نه یوه اندپوهنېزه او سپېځلې ژمنه. په تړون کې دخوځښت مهال، د ټولنې، ټولنیز- سیاسي او اقتصادي خوځښت پارکی او ځانګړتیاوې په پام کې نیول کیږي. د خوځښت له هر ګام سره بدلون او اړول - راوړل شوني او ان اړینې چارې دي. ګوندونه او سیاسي جوړښتونه کوم سپېځلی ارمان نه بلل کېږي، بلکې اړینې ورځنۍ چارې دي چې باید تر سره شي یانې سیاسي ګوندونه باید د ټولنې ورځنۍ چارو او ورپېښو ستونزو ته په ځیر سره وګوري. مانا دا چې ستراتېژۍ په داسې، واټن کې نه دي چې د چا له سترګو پناه او ارماني وي.

۴ـ افغان سیاستپوهان او ټولنپوهان باید د افغاني ټولنې د جوړښت او ځانګړتیاوو له مخې د خپلو څېړنو، سپړنو او لېکنو له لارې د «افغان سیاسي» فلسفې د پنځېدو لپاره په پرله پسې توګه هاندو هڅې تر سره کړي، تر څو د عقلي بېخبنایي پوښتنو د څرګندولو له مخې: د افغاني ټولنې، دولت، هېواد چارې، ټولنیز ژوند، د وګړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقونه، د وګړي او ټولنو یو تر بله پرتله چې د افغاني سیاسي فلسفې سکالو جوړوي، په ګوتو شي او همدا ډول د غه سیاسي افغاني فلسفه به د نورو مسلو لکه قانون، نیاو یا عدالت، د شتمنۍ او واک وځواک په ټراو څرګندونې وکړي او په دې توګه به افغاني سیاست او افغاني سیاسي ګوندونو جوړېدو ته، پوهنیزه ببخبنا او اسانه او هواره لاره برابره شي.

۵. د جرګو له لارې د سیاسي ګوندونو جوړېدل ډېر پخوانی سوچ دی. سیاسي ګوندونه د د ولت او خلکو تر منځ یو منځمهاله ټرون دی چې د ټولنې د وګړو د خپلخوښې ګډون سره د ګوندي جوړښتونو له آرونو سره سم جوړیږي او پایښت لري. جرګه ییز جوړښتونه ډېر ژر په جرګو ورانبدای شي.

۶. د لږکیو او ډېرکیو ځانګړنه او سکالو رابرسېره کول مو د ډېرکیو د استبداد په لور ټېلوهي، چې په وړاندې یې د لږکیو خوځښتونه په پرله پسې توګه کشالې جوړوي او پردیو ته د لاسوهنو موکه په لاس ورکوي. د داسې چارو هواری هغه مهال شونی دی چې د هبواد بشپړه او کره سر شمېرنه تر سره او د قانون له مخې هر چا ته د خوځښت خپله پوله په ګوته کړي. د سیاسي ګوندونو په تګلورو کې دا ډول کېسې، کرکنډې او خنډونه جوړوي.

۷. په ګوندي تګلورو کې د ژبې د غوړېدو، وچې او بې ګټې سیاسي او نا کره هڅې رانغښتل او شاربل مو لوړپالنې ته هڅوي، چې پایلې یې ژبنی تاوتریخوالی او استبداد جوړوي. په کار ده چې د قانون او د خپلې ژبې د پوهنیزه کولو له لارې، د ژبې د پرمختګ بنسټونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غښتلي شي. د جرمني ژبې د جوړښت د لپاره «لوتر»، انجیل په ساده او ولسي ژبه له لاتین نه جرمني ژبې ته وژباړلو. په دې توګه جرمني ژبه، د جرمنانو د ملي او رسمي ژبې په توګه، د منلو لپاره سیاله شوه. پښتانه باید د پښتنو د لېوالتیا سره سم پوهنیز نامتو اثار وژباړي او وپنځوي. او تر هر څه د مخه د قانوني لارو نه «قانون» ته بدلون ورکړي او بیایې له مخې د خپلې ژبې د پرمختګ او ښېرازۍ لپاره لاره هواره کړي. مانا دا چې ژبه د زور له لارې نه ژبه کیږي.

۸ـ هر ډول سیاسي اوسمهاله منل شوې تګلارې یوازې د ګډو هڅو له لارې د منلو وړ دي. په یوازې سر چارې سر ته رسول، ځانګړوالې (انډیویدوالېزم) او اتلولۍ (هېروییزم) او اوتوکراسۍ (ځانګړوالې) ته لاره هواروي چې د ګردو د چارو پایلې ګرګري او استبدادي واکمنۍ دي. اوسمهال دا ډول چارې نه ولس راسره مني او نه نړیواله ټولنه. دا ځکه چې اوسني حالات داسې دي چې: که غواړو او که نه، باید له نړیوالې ټولنې سره په همغږۍ کې خپلې چارې سرته ورسوو.

۹ـ بله د ګلوبال خبره ده، د اوسمهالې پېر سره څوک نه شي کولای د پخوانیو وختونو لاپې شاپې او غورزې پرزې تر سره کړي. اوسمهال د ژوند ټول اړخونه د پرمختللې تکنالوژۍ پر مټ د نړۍ د اړیکو او راشه درشه مزي دومره رالنډ کړي چې بویه نړۍ په یوه کلي کې راګیره شوې ده چې دا چاري پر ټولنیزو او سیاسي جوړښتونو او په ځانګړې توګه په سیاسي ګوندونو مخامخ اغیز شیندي.

۱۰ـ دا به هم یو ډول استبداد او نا دوده وي چې د خپل آند له مخې په نا ازبات شوو لاملونو سره ووایو چې: دا ډله او یا دا وګړی دې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمنۍ کې وي او دا دې نه وي. دا خاین دی، او دا رښتونی. دا هېواد پلوری دی او دا هېوادپاله. دا چارې هم باید قانون او قضا وټاکي. محکمه باید د قانون له مخې پرېکړه وکړي چې څوک، څوک دی. په دې توګه د هر چا د خوځښت او شتون ځای او برید څرګند ېږي.

۱۱ـ د سیاسي ګوند د جوړېدو په چارو کې تر ټولو ارزښتمنه خبر د مذهب او سیاست (جومات او دېره) جلا ساتل دي. مانا دا چې د هر یوه شتون، په یوه ټولنه کې په تېره په افغاني ټولنه کې اړینې چارې دي. پکار ده چې د هر یوه درناوی او پرمختګ یې په خپله اډانه کې تر سره شي. انګریز پوه «جان لاک» ، له دغه دواړو ځواکونو نه هر یو یې، یوه همګټې ټولنه (کامنویلت) بللې. چې هره یوه یې باید پر خپله برخه کې خپلې چارې تر سره کړي، یانې لومړنۍ دې، د دونیایي (سیاسي) چارې سمبال کړي او دویمه دې د وګړو د اروایي هوساینې لپاره، هاندو هڅې وکړي.

۱۲ـ د سیاسي ګوند په جوړولو کې د ځوانانو ونډې ته، زمور د هېواد د ځانګړتیاو په پام کې نېولو سره، پوره پاملرنه پکار ده. دا ځکه چې د تېرو څلوېښتو کالو په اوږدو کې د ټوپک له لارې یو پر بل پسې له بد نه بدتره اورپکو واکمنیو تل راتل او اوږدو کورنیو جګړو زمور د هېواد روښانده پاړکی دومره ځپلی، زورولی او کړولی دی چې د جوړونکو لارو چارو سپړلو د سمو پایلو تر لاسه کولو چارې یې له ستونزو سره مخ کړې دي. د پخوانیو ګوندونو پاته شونو او له ګوندونو بهر، روښاندو په پرله پسې توګه هاندو هڅې تر سره کړې تر څو نوي ګوندونه راجوړ کړي، خو له بده مرغه دا چارې څنګه چې ښایي هغسې تر سره شوې نه دي. د تاریخپوه حسن کاکړ په وینا:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«..دوی خپلو اندپوهنو «ایډیالوژیو» ته بدلون نه ورکوي بلکې بڼه یې بدلول غواړي» . رښتیا خو دا ده چې وي به داسې کسان او وړې وړې ډلې، خو ډېره کې برخه یې د زړه له کومې نوي بدلونونوته لېواله دي. دا ځکه چې له یوې خوا یې اندپوهنې (ایډیالوژۍ) د سیستم په توګه له منځه تللې او د یوې نوې اندپوهنې منځ ته راتلل لسګونه کالونه غواړي، له بلې خوا پر هېواد واکمنې جنګي ډلې، لوټتالان او واک چلول خپله الهې «موندنه!» بولي، او د ټولو پرمختیا غوښتونکو هېوادپالو پر مخ خنډونه او کرکنډې جوړوي. له دې امله د یو نوي سیاسي ګوند د جوړېدو لپاره ګرده هېوادپاله او ولسپاله او منځلاړې اسلامي ډلې اوجوړښتونه کولای شي د دوه یا درې ګډو موخو په لرلو سره، ګډې هڅې د سیاسي منل شوو آرونو (ټلواله «جبهه»، یووالی «اتحاد»، یوموټی «متحد») او جوړښتونو په اډانه کې تر سره کړي.

۱۳ـ د سیاسي ګوند د جوړېدو لپاره د یوې روښانه او ټولېزې موخې ټاکل، یانې څرګند دریځ لرل، تر ټولو ارزښتمنې او اړینې چارې بلل کېږي. دا موخې او دریځ باید د ټولنې جوړښت، د خلکو غوښتنې او د ټولنې د خوځښت د پاړکي د مهال له مخې غوره شي. کله ناکله داسې هم پېښېږي چې یوه روغه او منلې لاره یا موخه یا ناره (شعار)، د یولړ اورپکو او ناپوهنیزه سیاستونو له امله، ناسپېځلې او ناوړه وګرځي. د ساري په توګه: مات صلیب (په سانسګرت کې «سواستیکا») د هندو اروپاي وګړو ته، له زرګونو کالونو راهیسې، سپېځلې او د نیکمرغۍ او ښېګڼې نښه وه. خو هټلر د «نازیانو» ګوند لپاره د سمبول په توګه وکاروله، نن دغه نښه په دغه سیمه او د نړۍ په ځېنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو برخو کې ناکاره او ناوړه شوه، ان تر دې چې په جرمني کې یې کارول جرمانه هم لري. همدا راز په ځینې ټولنو کې دیموکراسي، ولسپاله او یو شمېر مذهبي لارې او نارې همداسي درواخله.

۱۴ـ هر سیاسي ګوندته پکار ده چې په ټولنه کې د شرایطو له غوښتنو سره سم یوه ناره یا شعار ولري، د ساري په توګه په پخوا کې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د «کور- کالي- ډوډۍ» وګړیوهه ناره وه. اوسمهال کېدای شي د بې تاوه پاڅون له لارې، د «یو افغانستان» یا «تاریخي افغانستان» د جوړولو ناره د یوه سیاسي ګوند او سازمان لپاره په زړه پورې وي.

د پښتنو متل دی چې وایې: «اور سوی په اور جوړیږي» که افغانان امریکایي ډیموکراسۍ ځپلي، خو غښتلي، منلي او ملي ولسواک سیاسي ګوندونه یې یوازینۍ درملنه ده. مانا دا چې د سیاسي بې وسي درملنه، سیاسي ګوندونه دي. پرته له سیاسي ګوندونو نه د ازادې، او پرمختللې ټولنې جوړېدل ناشوني چارې دي.

مننه

اخځلیک: سیاسي لارې (لیکوال؛ سعادت ملوک ازاد)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټول افغانستان ولسي ټرون

All Afghanistan National Accord

محمد داود میرکی، ماسټري، ماسټري، ډاکټري

mdmiraki@ameritech.net

په ټول افغانستان کې دا ټولنیز- سیاسي ازمایښت چې د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په اوومه نېټه پیل شوی دی، د ولسواکۍ په پلمه چلیږي، افغانان یې له اساسي بشري حقوقو نه محروم کړي دي او د بې شمارو سرونه یې ریبلي دي. دغه بخوله (فاجعه) د هغه ګډ ګټي ژوند د اړیکیو له لارې اسانه شوه او لا تر اوسه روانه ده چې د امریکې- ناټو او په افغانستان کي د ریاکارو سازمانونو د جنایتکارو عناصرو تر مینځ چلیږي. دغو جنایتکارو عناصرو به پخوا د کلک معنوي ژوند چغې وهلې چې خلک وغولوي، خو په واقعیت کې یې معنوي لوړه په هغه مادي حرص بدله کړه چې امریکایي ډالر یې ممثل دي.

هغه وخت رار سیدلی دی چې له امو تر اباسینه په ټول افغانستان کې ټولنیزه ـ سیاسي منظره بیا انځور کړو او دا ملت له هغو وحشي ازمایښتونو نه وژغورو چې له څه د پاسه لسو کلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راهیسې چلیږي. دې موخې ته یو اړخیز د یوه غټ ټولنیز- سیاسي تړون له لارې رسیدلی شو- دهغسې تړون له لارې چې د واکمن او هېوادوال (تبعه) او دغه شان پخپله د هیواد والو (اتباعو) تر منځ اړیکې ټاکي. دا نوی ټولنیز- سیاسي چلن د ټول افغانستان د ملي بقا لپاره حتمي دی. مورږ د ټول افغانستان د ولسي تړون منسوبین لاندې ټکي وړاندې کوو:

۱- د امریکې متحد ایالتونه او ناټو باید ځانونه په دې پوه کړي چې دا نوی سیاسي خوځښت به د افغانستان راتلونکې او سیاسي منظره ټاکي.

۲- مورږ په دې ټینګ ولاړ یو چې افغانستان نور د خرڅلاو لپاره نه دی، که څه هم په جغرافیایي لحاظ د غټو قدرتونو د ګټو په څلورلارې کې پروت دی.

۳- ټول افغانستان هغې بهرنۍ ایډیالوجۍ ته اړتیا نه لري چې د تجاوز او تخریب د پټولو کار ورکوي. افغانان د جوړښتیزې ولسواکۍ کوټلی ټولنیز- سیاسي کلتور لري. دغه ډول ولسواکي په دې ستنو ولاړه ده: سمسمکی (مساوات طلبه) شعور، عملي ملاتړ(همبستګي)، فردي میړانه (وقار،عزت) او د جرګې له لارې د کړکیچونو څرګند حل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ مورِ ملي یووالی او سازونکې هېواد دوستي غواړو. مورِ هغه بهرنۍ ایډیالوجي او بې ګټې ایډیالیزم نه منو چې د افراط سره ګډه پوله لري او په پایله کې ورنه ګډوډي، نفرت او ویجاړتیا راوځي.

۵ ـ افغانستان د متحد ملي دولت د رامنځته کولو لپاره یوې داسې څرګندې ستراتیجۍ ته اړتیا لري چې ډیرکیان (اکثریت) به پکې تشخیص شوي وي او لږکیان (اقلیت) به پکې محفوظ وي. ملي مدني معاشرت ځکه حتمی او لومړی دی چې خلک پکې د یو بل سره سوله ییز ژوند او د بیلابیلو مفکورو زغمل زده کولی شي.

۶ ـ افغان هویت باید له اوسنۍ بیعدالتۍ نه بچ شي او د ملي ټینګښت لپاره وساتل شي. مورِ د پښتو ژبې لومړی والی غواړو. دا حتمي ده چې پښتو ژبه دې د ټولنې او دولت په ټولو قلمرونو کې رسمي شي. پښتو ژبه به د ملي پیژاند (هویت) د یوه لوښي په څیر خدمت وکړي. دا کاربه ملت سازي غښتلې کړي او ملي پیوند به ټینګ کړي. د نورو ژبو سره باید په خپل محلي چاپیریال کې مرسته وشي.

۷ ـ مورِ غواړو چې بهرنۍ قواوې دې په سالمه اداره شوې طریقه له افغانستان نه ووځي. مورِ په ټول افغانستان کې د هیڅ ډول بهرنیو اډو جوړول نه منو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ ـ دا حتمي ده چې ټولنیز عدالت دې برلاسی شي او د یو څو جنایت کارو عناصرو انحصار دې چې په ریاکارو- سیاسي ډلو پورې ترلي دي له منځه یووړل شي.

۹ ـ د پنځه کلونو لپاره یوه اغیزمن منځمهال حکومت ته اړتیا ده چې قانوني حکومت ته لار هواره کړي. د رونړ اندانو، ټکنوکراتانو او د اوسني پاڅون د خوځښت د غټو برخو په ګډون، منځمهال حکومت باید له هغو اشخاصو نه جوړ شوی وي چې د افغانستان په امنیت او په ټولنیز، سیاسي او جسمي جوړښت کې اغیزمنه ونډه اخیستلی شي. دلته ملي خاینان او د اوسني حکومت هغه عناصر هیڅ ډای نلري چې په فساد ککړ شوي وي.

۱۰ ـ د دې لپاره چې د افغاني ټولنې اوسنی واقعیت منعکس شي، د اساسي قانون بشپړ تعدیل حتمي کار دی.

۱۱ـ څوک چې د ټول افغانستان د خپلواکۍ لپاره جنګیږي، دافغانستان زوزات دی. جنګ په ټول افغانستان ورتپل شوی دی. دا جنګ غیرقانوني، غیر اخلاقي او جنایي دی. له دې امله، د ټولو معلومو بین المللي او بشري معیارونو سره سم، دا د افغان ولس حق و چې په وسله وال پاڅون لاس پورې کړي. یرغلګرو قواو او فاجعو یې مدني بحث ته هیڅ مجال ور نکړ. له دې امله وسله وال پاڅون د عمل یوا ځینئ لارشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲ ـ مورډ د یوه داسې انډول شوي اقتصادي نظام پلویان یو چې (الف) شخصي او دولتي همکاري به پکې وده کوي او (ب) افراطي اقتصادي او سیاسي حرص به پکې د عامه خیر لپاره پیزوان کیږي.

۱۳ ـ مورډ به د فاسد حقوقي نظام او د فاسدې پولیسي قوې جړې وباسو او د ملت سازۍ لپاره به عسکري خدمت د یوې ملي موسسې په څیر پیل کړو.

۱۴ ـ د ډیورنډ استعماري تړون (۱۸۹۳ زیږ) او ورسره د ډیورنډ تخیلي لیکه دواړه غیر قانوني، بې اتباره او غیراخلاقي دي. مورډ غواړو چې د ښکیللاک (استعمار) بدرنګ داغونه لرې کړو. مورډ غواړو چې پاکستان دې زمورډ خاوره (پښتونخوا او بلوچستان) مورډ ته راوسپاري. په بدل کې به یې مورډ د پاکستان سره د دوستۍ او ګډې دفاع تړون لاسلیک کړو.

۱۵ ـ پښتون ولس چې د افغانستان د وګړو مطلق اکثریت جوړوي، د دوی په ضد برتانویان د جنګ مهندسان دي او ساده امریکایان د پښتون – دښمن سیاست د عملي کولو لپاره استعمالوی.

۱۶ـ مورډ غواړو چې ایران دې په افغانستان کې خپل کلتوري یرغل تم کړي. مورډ په دې ټینګار کوو چې افغانستان نه د ایران د کلتوري ځان طلبۍ او جګ طلبۍ تمدید دی او نه به هیڅکله دغسې شي. زمورډ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اند ، د امریکې- ناټو د جسمي یرغل په کچه په افغانستان باندې د ایران کلتوري یرغل دافغانانو راتلونکي ملي یووالي ته ډیر غټ زیان اړوي.

۱۷ ـ افغانستان چمتو دی د هغې سترګورتیا (بصارت) برخه وال شي چې په یو عادل او قانوني نړۍ وال نظام راچاپیره وي- په هغه نړۍ وال نظام چې د ضعیفانو په حقوقو به یرغل نه کوي.

۱۸ـ موږ په افغانستان کې د جنګ د جنایتونو د یوې خپلواکې محکمې د جوړولو پلویان یو. دا محکمه به هغه کسان چې د افغانستان د ولس په ضد د جنګ د جنایتونو تور پرې لګیدلی وي د تحقیق لاندې نیسي او د تحقیق لاندې اشخاصو او ورسره د نورو ټولو کسانو هغه شتمني به هم د تحقیق لاندې نیسی چې په غیر عادلانه ډول به یې د ځان لپاره خوندي کړې وي.

۱۹ ـ د ټول افغانستان ولسي ټرون د بې تاوه پاڅون خوځښت دی او د ټول افغانستان لپاره د دغه ډول پاڅون پلوي دی.

پورتنی ټرون زما (ډاکټر محمد داود میرکي) له خوا ترتیب شوی دی او په امریکا، یورپ، کاناډا او د ډیورنډ د تخیلي او استعماري لیکې په دواړو خواو کې د افغان منورینو، قومي او دیني مشرانو او د عادي افغانانو سره زما په غونډو، تماسونو، او بحثونو ولاړ دی. دا ټرون زما په هغو کتنو ولاړ دی چې افغانستان ته زما له ګڼو سفرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه را وتلې دي. له دې وروسته، زه دې پایلې ته ورسیدلم چې افغان ملت یوې نوې ویښتیا او نوښتتیا (رینسانس) ته اړتیا لري چې خپل مصیبتونه، هیلې، بقا او ملي راژوندي کیدا پکې بیان کړي. دا ټرون له دې واقعیت نه راوتلی دی چې افغانان تپل شوي سیاسي نظامونه، مصنوعي ترتیبات، استعماري پلانونه او د نورو په لاس د خپلو دردونو فرضي درملنه نه مني. مورږ افغان رونړ اندي په دې پوهیږو چې د نړۍ والې طرحې د اوږدې اجندې د اسانۍ لپاره ټول افغان ملت په نښه شوی دی.

مننه

ډاکټر رحمت ربی زیرک یار، ماسټري، ډاکټري

زه د ډاکټر رحمت ربی زیرک یار د سازونکو نیوکو او تحقیقي مشورې مننه وی یم. ډاکټر زیرک یار چې ماسټري او ډاکټري یې په سیاسي علومو کې په جرمني کې د برلین ازادپوهنتون نه لاسته راوړې ده، په امریکا کې اوسیږي.

نور افغانان

زه د امو او اباسین په منځ کې د نورو افغان منورینو او څوانو فعالانو نه مننه کوم. زه د اوسني افغان وسله وال پاڅون د ډلو له نظرونو نه هم مننه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اکتـــوبر اوومه ، د ولـــس په غـمیزه کې یوه بله توره ورځ

قریب الرحمن سعید

نن د اکتوبر د اومې هغه ورځ ده چی د ۲۰۰۱ ز کال په همدې ورځې دافغانستان مظلوم او معصوم ولس د امریکایي ولسمشر بوش د قهر او غضب لاندې په داسې حال کې راغی چې نه یې دامریکایانو د لوړو برجونو د راپرزېدو په اړه معلومات درلودل او نه په هغه کار کې شریک وو چې سزا یې دوی ته ورکول کېده.

دطالبانو رژیم په داسې حال کې را وپرځول شو چې دامریکایانو څخه یې غوښتل د بین المللي اصولو سره سم دې دهغوی څخه دهغو عربي دوستانو د ترلاسه کولو غوښتنه وکړي چې د نیویارک په پېښو کې یې متهم ګڼي، دطالبانو نظام د امریکایانو تریراکتي اوهوایي حملو لاندې راغی، ولسمشر بوش غوښتل نړۍ ته و ښیي چې په امریکا باندې یرغل کول به بې ځوابه پاتې نه شي، په دې خاطر یې د خپل دغه غضب او قهر د سرېدو لپاره دافغانستان د ولس په ځپر مظلوم او بې دفاع ولس انتخاب کړ. نوی او تازه جوړ کړل شوې وسلې یې پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازمیښت کړي، د شمال ټلواله یې کرایه کړه تر څو دهغوی د پیاده فوځونو رول ولوبوي.

د شمال د ټلوالې مسؤلینو هم که هغه عبدالله و او که هغه مرحوم استاد رباني، دواړو دخپل ولس په وژلو کې د امریکایانو هغسې لاس وکړ چې پخپله امریکایانو به هم نه و کړی. دعبدالله دا خبره چې ویل یې: هغه کلی زمونږ دی او دا بل د دښمن، د دښمن کلی بمباري کړئ...اودمرحوم استاد دا خبره چې: دا بمونه کوچني دي غټ غټ پرې را و اوروئ.... د افغانستان دتاریخ یوه مهمه برخه وګرزیده.

دادی لس کاله تېرشول، امریکایان او ناټو چې په کوم غرور سره افغانستان ته راغلي و، هغه غرور یې مات شو. دلسو کالو وروسته اوس په همغو خلکو پسې ګرځي چې لس کاله دمخه یې خپل ټول ځواک دهغوی د له منځه وړلو لپاره استعمالوو.

غواړي د طالبانو مسؤلین راپیدا کړي، دې مسئلې دوی د سترو سترو رسوایي ګانو سره مخ کړل. د طالب په نوم یې کویټې څخه دوکانداران راوستل په سلګونو زره ډالر یې ورته ډالی کړل خو هغوی وروسته هماغسې بوګس وختل لکه څنګه چې د یوناما ټولټاکنې دي.

امریکایان د لسو کالو هلو ځلو وروسته بری ومونډ او خپل ذاتي دښمن اسامه بن لادن یې په ایبټ اباد کې ومونډ او د مې په دویمه یې هغه په غلچکي برید کې له منځه یوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرو داسې انګیرله چې امریکایان به ددې موقع نه استفاده وکړي او نور به د سیمې څخه خپل فوځي ځواکونه بیرون کړي او دافغانستان د ولس سره به د یوه داسې نظام په جوړښت کې بسپنه وکړي چې د افغانستان د ولس راتلونکي پرې جوړه شي او ولس دخپلې خوښې د نظام د جوړولو جوګه واوسي. اما بدبختانه چې هغوی مورِ ته د یوه تقلب نه په تېرېدو سره دبل تقلب لاره را وښودله.

ددې لسو کالو په دوران کې زمورِ ولس د مافیایي عناصرو په لاسو کې ولوید. د هیروینو قاچاقبران پرې مسلط شول. جنګ سالارانو دولس په ربښو باندې خپلې منګولې ښخې کړې ، دمخدره موادو استعمال په دغه فقیره ټولنه کې د میلیونو انسانانو ژوندونه د تباهۍ سره مخ کړل، ناروغتیا ، فقر اوبدبختۍ د یو شمېر محدودې طبقې پرته ټول ولس په خپل ځان کې رانغاړلی دی. دبین المللي ټولنې دراپورونو له مخې دا دی یوازې سږکال دژمي په رارسیدو د افغان ولس نیمایي وګړي د قحط سره مخکیدونکي دي. فحشا ، لواطت تر هرو خت زیاته وده کړې. دهرزه اوګمراه کونکو سي ډي ګانو ، فحش فیلمونو او... زمورِ ځوان نسل دتباهۍ سره مخامخ کړی او...

د بین المللي ادارو دراپورونو له مخې یوائې په دې تېر کال کې د افغانستان امنیتي حالات تر څلوېښتو سلمې زیات خراب شوي، دښځو د حقوقو په اړه انګلیسي غیردولتي اداره وایي چې په دې لاره کې ستونزې تر هر وخت پخوا زیاتې شوې دي.

جنګ او ناامني په ټول ولس کې خپره شوې، هیڅ کور او هیڅ ځای د دې ناامنۍ څخه خوندي نه دی. په میلیونو او بیلیونو ډالر د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

محدودې طبقې له اړخه په یوه نوم اوبل باندې حیف ومیل کېږي. هغه امریکا چې ویل یې افغانستان ته د جرمني په څېر یو مارشال پلان جوړوي، دخپل د اړتیا وړ څو سرکونو او هوایي ډګرونو پرته نور پې هیڅ مثبتې لاسته راوړنې نه لري.

د امریکایانو د دې بربنډې مداخلې وروسته تر اوسه پورې زموږ د ولس شرقي، جنوب شرقي او نور پښتون مېشته ولایتونه د زرګونو مصیبتونو او غمونو سره مخ شوي دي، کورنۍ هجرتونه صورت نیسي، دشپې له اړخه بمباري کېږي، هیڅوک د دې توان نه لري چې کوم څوک ځان سره میلمه کړي، هرڅوک په خپل غولي کې دخپل مرګ شپې شماري.. ولسمشر کرزی ورته ژاړي خو یوناما او امریکایان د افغانانو په وژلو سره جشنونه نیسي. امریکایي عسکر دخپلې ساعتیرۍ لپاره دټوپک خوله په معصومو افغانانو راګرځوي.. اوبیا په یوه «ساري» یې هرڅه خلاص شي. دا ځکه چې عبدالله ورته د بهرنیو چارو د وزیر په څېر د آزادۍ سند ورکړی او کرزي هغه توشیح کړی دی.

د اسامه بن لادن د له منځه وړلو وروسته امریکایانو د موقع او حالت نه ګټه پورته نه شوه کړای، اوس نو په افغانستان کی رانښتي دي، کله د حقاني شبکه او کله هم د هغې القاعدې پاته شوني چې دوی یې د پنځوسو او سلو ترمنځ وګړي ګڼي، په خلاف دعملیاتو پلانونه لري.

دهمغه لومړۍ ورځې را پدېخوا ایرانیانو او پاکستانیانو ته ګوابنونه کوي ترڅو د امریکایي فوځونو دمخالفینو دملاتړ څخه لاس واخلي. ایرانیانو خو دادی یوازې څو اونۍ مخته د طالبانو عالي رتبه هیئت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیداری هغه کانفرانس ته چې مرحوم استاد رباني يې هم ميلمه و وربللي و چې ښاغلي ارسلارحماني يې په کتلو حيرانتياهم ښکاره کړې وه. وايي چې د طالبانو ديو ستر چارواکي، نيک محمد ، په کتلو سره حيران پاتې شو ، دهغه سره يې دښه راغلاست لپاره لاس ورکړ خو نور څه يې ورسره و نه ويل.

ايران د طالبانو د مولوي منصور د ډلې کلک ملاتړ کوي، ځکه پخپله مولوي منصور د ايرانيانو سره نژدې اړيکې درلودلې اواوس دهغه زامن اوخپلوان دهمغو اړيکو څخه په ګټې اخيستلو سره دادی د ايران څخه دايران دشرايطو په مطابق ګټه پورته کوي او ايران هم دخپلو دوستانو د خوندي ساتلو په خاطر هغوی ته هر ډول بسپنه ورکوي. دا خبرې په مطبوعاتو کې هم ډاګيزه دي او نړيوالوته هم.

پاکستان په زغرده وايي چې دحقانی دشبکې سره اړيکې لري اودا اړيکې يوازې دوی نه بلکې امريکايان يې هم لري، همدا اوس اوس که له يوه اړخه دامريکا حکومت دحقانی شبکه يوه تروريستي شبکه بولي خو دبله اړخه د مولوی جلال الدين حقانی د زوی سره پټې اړيکې لري اوغواړي دا اړيکې همداسې جاري و ساتي.

د دوو مخالفو ډلو تر منځ د اړيکو نيول نيک شوګون دی اوهر هغه څوک چې په ريښتيا هم غواړي سوله او امن منځته راشي بايد دا ډول اړيکې سره کلکې کړي. امريکا نن دې ته اړتيا لري او تر هغو چې دغسې معامله ونه کړي، ددې بن بست څخه يې بيرون کبدل شوني نه بريښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه لسیزه ، لویه غمیزه

نثار احمد صمد

بسم الله الرحمن الرحیم

افغانستان ، که د چا خوښه وي یا نه، که یې ومني یا نه، که یې ووایي یا نه، د امریکا تر اشغال او نیونې لاندې دی. افغانستان د ۲۰۰۱ د اکتوبر د اوومې راهیسې تر ننه بلواک دی. د افغانستان د برخلیک تصمیم له هېواده لس زره کیلومتره لیرې نیول کېږي.

د رژیم د مشر څخه د هغه د دفاع تر وزیر پورې هېڅوک هم خبر نه دي چې د ورځې څو نظامي پروازونه له بهره داخل ته او څو هم برعکس کېږي، هغوی څه وړي او څه راوړي، هره ورځ څو بهرني پوځیان راځي او څو هم ځي، پر کوم ولایت او کومه ولسوالي یا کوم کلي دغه اشغالګران بم وروي او حملې کوي او څو هېوادوال یې وژني یا بندیانوي... نه هغوی خبر دي او نه یې هم خبرول مهم دي. لا بیا هم افغانستان خپلواک بللی شو؟

په هر صورت، افغان روان جنګ چې نن لس کلن شو ، غیر قانوني، غیر حقیقي، غیر اخلاقي، خورا اوږد او خورا ګران جنګ ثابت شوی دی، یعنې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی ـ ځکه غیر قانوني او نامشروع جنګ دی چې: پر امریکا د سیپټمبر د یوولسمې حمله کونکي افغانان نه وو او نه هم دا حمله د افغانستان څخه هدایت یا رهنمایي شوې وه (امریکا په تېرو لسو کالو کې هیڅ ثبوت هم نه دی وړاندې کړی)، خو واشنګټن خپله دا ناکامي پر افغانستان په حملې سره پټه کړه. افغانان د هغې توطیې او د سیسې قرباني شول چې نه په خبر وو او نه یې هم ستایلې وه.

بل دا چې د سیپټمبر تر حملې فقط یوه ورځ وروسته یعنې د ۲۰۰۱ د سیپټمبر پر ۱۲ د ملګرو ملتونو د امنیت شورا (۱۳۶۸ نمبر) پریکړه لیک تصویب کړ چې هغه د تروریستي اعمالو په واسطه بین المللي سولې او امنیت ته د ګواښ او د هغه د مخنیوي په باره کې و، نه پر افغانستان د حملې په هکله.

د امنیت شورا دوهم پریکړه لیک (نمبر ۱۳۷۳) شپاړس ورځې وروسته یعنې د سیپټمبر پر ۲۸ تصویب شو چې هغه د تروریستانو د پیسو او دارایي د ضبط او تصرف په هکله و، د هغوی د فعالیتونو د تمنبت، پناه نه ورکولو او د حکومتونو له خوا د هغوی پر ضد د اطلاعاتو د تبادلې په هکله و، نه پر افغانستان د حملې په هکله.

د امنیت شورا دریم پریکړه لیک (نمبر ۱۳۸۶) د ۲۰۰۱ د ډیسمبر پر شلمه تصویب شو چې د بُن د فیصلو منل او تطبیق یې غوښت، د بشري حقوقو پر مراعات یې ټینګار وکړ، د یو نړیوال امنیتي پوځ (ایساف) د استقرار وړاندیز یې وکړ (حال دا چې امریکا له دې نه دوه نیمې میاشتې مخکې لا افغانستان اشغال کړی و).

(c) ketabton.com: The Digital Library

فلهذا، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا هیڅ کوم پریکړه لیک پر افغانستان د امریکا حمله نه خو ذکر کړې ده او نه یې هم منلې ده. په هغو کې نه د افغانستان او نه هم د امریکا نومونه قطعاً نشته. ان د ملګرو ملتونو کوم «غړي هېواد» د «پوځي یرغل» هیڅ یادونه یا سپارښتنه هم نه ده کړې، نو ځکه پر افغانستان د امریکا حمله، اشغال او روانه جګړه غیر قانوني، نامشروع او د ټولو نړیوالو قوانینو پر خلاف لوی ارتکاب دی.

دوهم- دا ځکه غیر حقیقي او پر دروغو متکي جنګ دی چې: دا جنګ د یو چا (یعنی تروریستانو) په نوم د بل چا (یعنی طالبانو) سره کېږي. واشنګټن ادعا کوي چې موږ ځکه دلته اوسېږو چې د تروریستانو سره جنګېږو. خو لیون پنیتا د سي آی اې مخکیني رئیس (فعلاً د دفاع وزیر) دوه کاله وړاندې اعتراف وکړ چې په افغانستان کې صرف ۵۰ - ۱۰۰ القاعده وال پاتې دي او بس. جنرال ډیویډ پتریوس (د سي آی اې فعلی رئیس او مخکې په افغانستان کې د امریکایي پوځ لوی قوماندان) هم د ۲۰۰۹ په می میاشت کې اعتراف وکړ چې القاعده نور په افغانستان کې عملیات نشی کولای. ښه، نو چې دا سې ده یو لک امریکایي او پنځوس زره نور بهرني پوځیان د چا سره او ولې جنګېږي؟ آیا دا جنګ له سره تر پایه پر دروغو نه دی ولاړ؟

درېیم- دا ځکه غیر اخلاقي جنګ دی چې: دا جنګ د دوو حکومتي پوځونو تر منځ نه بلکې د یوازیني ستر ځواک او یو خورا وروسته پاتې هغسې هېواد د جنګیالیو تر منځ دی چې ۷۰٪ وګړي یې په کلیو کې اوسېږي چې نه برق لري او نه هم پاکې روغتیایي اوبه، او عوام یې ان تر ننه هم سم نه پوهیږي چې امریکا ولې حمله پر کړې ده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګ ولې جریان لري، ځکه نو د نړۍ «مهذب ترین !؟» قدرت خپل ځان د نړۍ د «پسمانده ترین !؟» ولس سره په قفس کې اچولی دی چې دا وړۍ به کله هم شړۍ نسي.

څلورم- دا ځکه خورا اوږد جنګ دی چې: پسله لسو کالو څخه یې بیا هم پوځیان ایستلي نه بلکې ډیر کړي دي. افغان جنګ نن د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږد جنګ ثابت شوی دی. وګورئ په مختلفو جنګونو کې د امریکایي پوځ د لاس لرنې مودې (د میاشتو په حساب) په دې ډول دي:

۱- د امریکا کورنۍ جګړه: ۴۸ میاشتې؛
۲- د امریکا انقلاب: ۱۰۰ میاشتې؛
۳- د ۱۸۱۲ کال جګړه: ۳۲ میاشتې؛
۴- د امریکا- مکسیکو جنګ: ۲۱ میاشتې؛
۵- د هسپانیا- امریکا جنګ: ۳ میاشتې؛
۶- لومړۍ نړیواله جګړه: ۲۰ میاشتې؛
۷- دوهمه نړیواله جګړه: ۴۵ میاشتې؛
۸- د کوریا جګړه: ۳۷ میاشتې؛
۹- د ویتنام جګړه: ۱۰۲ میاشتې؛
۱۰- د فارس خلیج جګړه: ۲ میاشتې؛
۱۱- د افغانستان جنګ: ۱۲۰ میاشتې؛
۱۲- د عراق جنګ: ۱۰۳ میاشتې؛

فلهذا، د امریکا پوځ د حکومتونو د پوځونو سره د چټک جنګ د ګټلو لپاره جوړ شوی دی، نه د «یو څو طالبانو !» سره چریکي، اوږده او ستومانیزه جنګ ته. همدا یې ښایي بالاخره ملا ورماته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم ـ دا ځکه خورا ګران جنګ دی چې: د امریکا خزانه یې تشه کړه. دغه جنګ څه باندی ۱۸۰۰ امریکایي پوځیان د خاورو مېلمانه کړل، هېواد یې د «تولیدي» حالت څخه «مصرفي» حالت ته وغورځاوه، امریکا یې په پورونو کې ډوبه (یعنې ۱۴،۳ ټریلیونه ډالره پوروړې) او د هر چا محتاجه کړه. وګورئ امریکا په ننني افغان جګړه کې پنځه سوه بلیونه (یعنی نیم ټریلیون) ډالره ضایع کړي دي. دلته هره میاشت لس بلیونه ډالره مصرفوي چې د کاله ۱۲۰ بلیونه ډالره کېږی. دلته د هر امریکایي عسکر کلنی مصرف یو ملیون ډالره دی چې د امریکا په تاریخ کې سارئ نلري... په بدل کې یې یو خورا فاسد، غیر ملي او د اوږو بار رژیم نصب کړ چې د هغه د بقا لپاره چتې خپلې خزانې تشوي او خپلې وینې تویوي. نو آیا بیا هم دا یو ملا ماتونکی جنګ نه دی؟

هو، که امریکا تر ننه هیڅ جنګ نه دی بایللی، نو افغانانو هم نه دی بایللی. که امریکا خپل هر دښمن مات کړی دی نو افغانانو هم هر دښمن رټلی دی. که امریکا په خپلو ټولو عصري وسلو او بې حسابه ډالرو سره څه نا څه ۴۸ هېوادونه مات کړي دي، نو افغانانو بیا په تشو لاسو او ساده وسلو سره همدا نن ۴۸ هېوادونه د کیشت او مات سره مخامخ کړي دي. امریکا دا هر څه پر نورو په حملو کې خو افغانانو پر خپل وطن په یرغلو کې ګټلي دي.

وګورو چې د «سوپر پاور» او «زیرو پاور» په دې تحمیلی، ترپلې، نابرابره او ظالمانه جګړه کې به پایلوبه څوک وګټي، خو «د زوال الهي قانون» او «طبیعي ساینس» حُکم کوي چې عروج تل له خپل ټاپې څخه رکود او سقوط کوي. نو ځکه به د واشنګټن د پای پیل هم انشاالله همدلته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لس کاله وینې او اورونه

محمد هارون خپل

لس کاله مخکې په همدې ورځ، د اکتوبر پر اوومه، د امریکایي پوځ ځانګړو ځواکو د شمالي اتحاد د مزدورو ډلو ټپلو په پراخ او بې درېغه ملاتړ، زمونږ پر ویاړلي او سرلوړي هیواد، ګران افغانستان، ظالمانه یرغل وکړ؛ او د همدې ناروا او بې شرمانه یرغل له لاري بې خپل لاس پر نامه نوکر، حامد کرزی، د کابل پر تخت کښېناوه. په دې توګه هغه کرغېړنه ډرامه یو پلا بیا تکرار شوه، چې په ۱۸۳۹ع کال د پرنګیانو د غلام، شاه شجاع، او په ۱۹۷۹ع کال د سره پوځ د مزدور، ببرک کارمل، د تاج پوشۍ پر مهال، نندارې ته وړاندې شوې وه.

د سپینې مانۍ فرعون صفته واکمنانو د طالب مشرانو په ګناه زمونږ د خپلواک او ویاړلي هېواد پر خلاف په خپل ظالمانه او وحشیانه یرغل کې هېڅ انساني، اخلاقي او حقوقي جواز نه لاره؛ ځکه اول خو طالبانو د ۲۰۰۱ ع کال د سیپټمبر د یوولسمې نېټې په هغه ستره او نه هېرېدونکې غمیزه کې هیڅ لاس نه لاره، چې د امریکا د متحدو ایالاتو د عسکري، استخباراتي او حکومتي چارو د با صلاحیته

(c) ketabton.com: The Digital Library

متخصصانو څلوېښت کسیزه ډله یې د علمي او عملي شواهدو له مخي د القاعدې کار نه ګڼي[1].

دوهم دا چې طالب مشران حاضر وه د سیپټمبر د یوولسمې نېټې په خواشینونکې پېښه کې د امریکایانو د یاغي یار، بن لادن، د لاس لرلو په اړه د اسنادو او مدارکو ترکتنې وروسته هغه په افغانستان یا کوم درېیم هېواد کې محاکمې ته وسپاري؛ خو امریکایي فرعونانو، چې د یوریشا د لاندې کولو او کنټرولولو په مقصد له کلو کلو راهیسې د دغه راز پلمو په لټه کې وو، د بن لادن د محاکمې په باب د طالبانو غوښتنه ځان ته سپکاوی وګانه؛ او سمدلاسه یې د زور لار غوره کړه.

دا دی، له همغې ورځې څخه تر ننه د افغانانو تاریخي ټاټوبی د پردو لښکرو او پردو استخباراتي سازمانو د شیطاني لوبو په خورا خطرناک میدان اوښتئ دئ؛ د هېواد په ګوټ ګوټ کې پر بې ګونا خلکو بې رحمانه بمباري کېږي؛ واړه، زاړه، ښځې او نارینه له یوه مخه په وینو کې لمبیږي؛ حتا د ښادۍ او غم مراسم هم له دې ظالمانه بمبارییو څخه خوندي نه دي؛ په ټوله سیمه کې د قوم، ژبې، مذهب او سمت پر بنسټ د دوښمنیو تخمونه وکرل شوه؛ د ازادۍ، ولسواکۍ، بشري حقوقو او سوکالۍ په نامه پیل شوې جګړې د ډیورنډ د تپل شوې کرښې په دواړو خواووکې د پښتون قام د عامه وژنې او نابودۍ په یوه خاینانه او ظالمانه جګړه واوښته. لنډه دا چې د جګړې له همغې لومړۍ ورځې څخه تر ننه هر ځای اورونه بل؛ او د بې ګناه خلکو وینې بهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځینو خپرو شوو احصائیو له مخې د دې ناروا او غیرعادلانه جنګ په لمبوکې تر اوسه دوه زره اووه سوه دري پنځوس (۲،۷۵۳) ایتلافي پوځیان وژل شوي دي، چې اتلس سوه یو (۱،۸۰۱) یې یوازې امریکایان دي[۲]؛ خو په ډېري خواشیني سره، چې د بې ګناه افغانانو د مړو او ټپیانو حقیقي شمېر تر سلو زرو هم زیات دی.

راشئ پر دې اساسي پوښتنه یوځه غور وکړو، چې اشغالګرو لښکرو او د هغو مزدور حکومت په تېرو لسو کلو کې زمونږ کړېدلي ولس ته څه ورکړه؟ ښایي ببلابېل کسان دې پوښتنې ته ببلابېل جوابونه و وایي؛ خو واقعیت لمر غوندې روښانه دئ، چې ایتلافي لښکرو کرزي، فهیم، خلیلي، رباني، سیاف، صبغت الله مجددي، سید احمد ګیلاني، محقق، دوستم، عبدالله، قانوني، چکري، صالح، اسماعیل، شېرزي او نورو جنګي جنایتکارانو، جاسوسانو، مافیایي ډلو ټپلو ته داسي څه ورکړه، چې په خوب یې هم نه وه لیدلي؛ ځکه مورږ ټول ګورو، چې د همدې اشغالګرو د توپ او ټانک تر سیوري لاندې پر جنایتکارانو، جاسوسانو، قاچاقبرانو او ډول ډول مافیایي کړییو د ډالرو، پونډو او یورو بارانونه اوري. مورږ ګرده شاهدان یو، هغه چا چې د جهاد تر سوداګرییو او ننني وطن پلورنې مخکې ګوډ خر یا زورې بایسکل هم نه لاره اوس په داسې ګولۍ ضد موټرو کې چکرونه وهي، چې هر یو یې لکونه ډالره ارزښت لري.

ځمکې، باغونه، ښارګوټي، بانکونه، تجارتي شرکتونه، مزدوران و نوکران، میلیونونه ډالره نغدي پیسې او داسې نور ټول هغه څه دي، چې د همدغو استعمارګرانو له برکته یې د جنایت او خیانت په بازار کې تر لاسه کړي دي. بالعکس د امریکا او ایتلافي قواوو لس کلن

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشغال زمونږ ببوزلو او کړېدلو خلکو ته له وینو، اوښکو، لوږې، وزګارتیا، زوروا کۍ، فساد، مخدره موادو، قومي، مذهبي، ژبني او سمتي دوښمنۍ او داسې نورو ناخوالو پرته، بل هیڅ نه دي ورکړي. د ببوزلۍ او غریبۍ یوه ګوله ډوډۍ یې په وینو او باروتو ور ولړله؛ پر سر، مال او ناموس یې رنګارنګ بریدونه وشول؛ او له لسو کالو راهیسي یې د پلار، نیکه پر مېنه یې د مرګ او وحشت خطرناکه لوبې روانې دي.

د همدې اشغالګرو لښکرو او فاسد حکومت له شامته تر اوسه پورې زمونږ میلیونونه هیوادوال په پاکستان، ایران، هند، تاجیکستان، اوزبکستان، قرغیزستان او نورو پردیو هیوادوکي د خواري او دربدرۍ ژوند تېروي. سره له دې هم زمونږ هېوادوال ترګرده د خوندي او سوکاله ژوند په هیله، پردیو ملکو ته تښتي. که اشغالګرو ځواکو او د هغو مزدورو، فاسدو او بې کفایته واکمنانو په هېواد کې سوله، امنیت، قانونیت، عدالت، کار او روزګار برابر کړئ وای، بیا نو زمونږ جنګ ځپلي او ربړېدلي هېوادوال لېونې نه وه، چې د پلار، نیکه جنت نښان وطن پرېږدي؛ او د پاکستاني پولیسو، ایراني پاسدارانو او نورو بد ذاته پردیو سختې ستوخې پر ځان و مني.

دغه راز، که د اشغالګرو پوځو د توپ و تانک له شامته په هېواد کې د جنایتکارانو، جاسوسانو او غلو حکومت واکمني نه چلېدای، بیا به نو د جعلي او تقلبي انتخاباتو له لارې د داسې شرمېدلي، خندني او بې واکه پارلمان جوړېدو ته لار نه برابرېدله. دا خبره هم هر چا ته څرګنده ده، که ملک د پردیو په لکۍ نه وای غوټه، نن به په هیواد کې د یوه مؤلد او صادراتي اقتصاد پر ځای دکورنۍ او بهرنۍ مافیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګټو و ټو په خاطر د مصرفي او وارداتي اقتصاد راج او تاراج نه وای. افغانستان به د فابریکو، د برښنا د بندو او نورو لویو صنعتي او زراعتي پروژو خاوند وای.

د شخصي شتمنییو د چور او چپاو خبره به یوې خوا ته کښږدو، د کرزي د فاسد اوککړ حکومت د کرنې او مالداری وزیر، محمد آصف رحیمي، د تش په نامه ولسي جرګې په غونډه کي په خپله اعتراف وکړ، چې زورواکانو د هېواد په ګوټ ګوټ کې د بیت المال څلور میلیونه (۰۰۰، ۰۰۰، ۴) جریبه ځمکه په زور لاندې کړې ده[۳]. په دې ځمکو کې داسې ځایونه هم شامل دي، چې د ښاري ماسټر پلان له مخې پارکو او نورو عام المنفعه پروژو ته ښپل شوي دي. که د اشغالګرو د توپ و ټانک او د مزدورو زورواکانو بدمرغه سیوری نه وای، زمونږ له بې وسه او بې کسه اولس سره به دا برالا زور وظلم څنګه کېدای؟

ټول جهان شاهد دئ، چې د ایتلافي لښکرو او د هغو د مزدور رژیم په واکمنۍ کې د تریاکو تولید او سوداګري تر پخواني حالت څو چنده زیاته شوې ده. د همدې منافقو ایتلافي پوځو تر سترګو لاندې، افغانستان دټولې نړۍ د تریاکو په سلو کې درې نوي (۹۳) برخې تولیدوي[۴].

د نړۍ په ځینو نورو هېوادوکې مو هم کله نا کله د فساد خبرونه اروېدلي دي؛ خو هغه څه چې د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې کېږي، ښځي له عالمه ماسوا خبرې دي. د شفافیت بین المللي اداري په خپل کلني رپوټ کې د یو سلو اتیا(۱۸۰) هېوادو له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سومالیه، عراق او افغانستان د نړۍ تر ټولو فاسد هېوادونه بللي دي[5] . د ملګرو ملتو د سازمان د رپوټ له مخې زمونږ ببوزلو هېوادوالو یوازې په ۲۰۰۹ع کال کې د کرزي د فاسد رژیم لوټمارو واکمنانو او مأمورینو ته دوه نیم (۲،۵) میلیارده ډالره موک (رشوت) ورکړی دئ، چې دا پیسې په حقیقت کې د افغانستان د کورني ناخالص محصول، څلورمه برخه ده[7] . په دې توګه ګورو، چې پر جنګ، اړودوړ، زورواکۍ، چور و چپاو، لوټې، بېکارۍ او بې عدالتۍ سربېره د مخدره موادو سوداګري او ملا ماتوونکی فساد هم هغه دردناک او بدمرغه «سوغاتونه » دي، چې د همدغو استعمارګرو ایتلافي قواوو او د کرزي د همدې ککړې پکړې اداري له خوا زمونږ مظلوم اولس ته وړاندې شوي دي.

اشغالګر پوځونه او د هغو راز راز مزدورې ډلې ټپلې په تېرو لسو کالو کې له خپل تور او کرغېړن ریکارډ سره سره، نن د خپلو استعماري او استثماري ګټو د خوندیتوب لپاره په داسې توطیه او دسیسه لګیا دي، چې ببله شکه به په جنګ ځپلي افغانستان او ان ګرده سیمه کې د اور لمبو او لوخړو ته نور هم لمن و وهي؛ او دا ګڼ تاریخي هېواد به د تجزیې او نابودۍ له جدي خطر سره مخامخ کړي. دا خاینانه دسیسه زمونږ په سپېځلي او ویاړلي خاوره کې د امریکایي پوځیانو د دایمي حضور مسأله ده، چې هیڅ خپلواک او باغروره افغان یې منلو ته زړه نه شي ښه کولای. همدغه راز، په دې حساسو او نازکو شرایطو کې له هند سره د ستراتیژیکو همکارییو ټرون هم زمونږ په خاوره کې د دوو دوښمنو همسایګانو(هند او پاکستان) تر منځ د پروکسي وار له سختېدو او پراخېدو پرته، بله نتیجه نشي را منځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای. په خواشینۍ سره د کرزي مزدوره او پوچ مغزه اداره د خپل سیاسي ژوند د پایښت لپاره داسي لارو چارو ته لاس اچوي، چې افغان ولس ته بې وینو، اوښکو او بدمرغییو بل هیڅ نشي ورکولای.

باید په روښانه او څرګندو ټکو و وایو، تر هغه مهاله، چې یرغلګر پوځونه او د هغوی تپل شوي جنایتکاره ډلې ټپلې زمونږ پر خپلواکو او سرلوړو خلکو چپه مېچنې چلوي، د دې وحشتناک جنګ لمبې به هم تل د زیاتېدو او پراخېدو په حال کې وي؛ متأسفانه وچ او لانده به ټول پکې سوځي.

د همدې استدلال له مخې د افغانستان کړکېچنه او پېچلې مسأله بې روغې جوړې بله هیڅ لار نه لري. له مقدوني سکندر څخه تر روسانو پورې هیڅا دا خپلواک، غښتلي او زړور خلک په زور، پیسو او نورو ناروا لارو اېل نه کړای شوی، اوس او تر دې وروسته هم هیڅ دلیل او منطق نشته، چې امریکایان، د هغو کرایه شوي ایتلافي ملګري او د شمالي اتحاد مزدورې ډلې ټپلې به دا خپلواک، باغروره او نه تسلیمېدونکي خلک د وسلو، پیسو او نورو فتنو په زور اېل کړي؛ خو دا مهم او اساسي ټکی باید له یاده و نه باسو، چې روغه، جوړه د رباني، فهیم، خلیلي، سیاف، دوستم، محقق، عبدالله، امرالله او داسې نورو جنایتکارانو، خاینانو او لوټمارانو کارنه دئ؛ ځکه دغو تورو او کرکجنو څېرو د افغانانو او افغانستان پر ضد داسې جنایتونه کړي دي، چې هیڅوک یې هیڅکله هم نشي بښلای. نورې خبرې به آ خوا پرېږدو د کابل ښار کنډوالې، زما د ورور په ګډون د څه دپاسه پینځه شپیته زرو بې ګناه افغانانو بې رحمانه وژنه او د هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوسني خونړي اشغال کې د پردیو یرغلګرو مزدوري او نوکري، په خپله د هغوی د محکومیت څرګند او کافي دلایل ګڼل کیږي.

په دې کچول او ټوک ټوک هېواد کې باید د همېشنۍ سولې او امنیت لپاره د هغو ملي شخصیتو له وساطت یا منځګړیتوب څخه کار واخیستل شي، چې هیڅ افغان یې په سپېځلتیا، ریښتینولۍ، زړه سواندۍ، پوهې او هوښیارۍ کې شک ونه لري. که څوک په دې غملړلي وطن او کړکېچنه سیمه کې د سولې، امنیت، خوشالۍ او سوکالۍ هیله لري، باید ژر تر ژره زمور د هېواد دغه راز منلو او باوري شخصیتو ته مخه کړي، چې په خپلو مصلحانه هڅو سره د جنګ او تباهۍ اورونه مړه کړي؛ او د ټولو افغانانو په ګډون د یوه پراخ ملي او ولسي نظام پوخ تهداب او بنسټ کښېږدي.

مأخذونه او سرچینې

[1] ګران لوستونکي کولای شي، د ګلوبل ریسرچ د دې لینک په کښېکښولو سره د سپیټمبر د یوولسمې په باره کې د دغو امریکایي ماهرانو د شکونو، نظریو او دلایلو لنډه بڼه ولولي:
http://www.globalresearch.ca/index.php?context=va&aid=26897
په همدې اړه د ببلابېلو علمي او فني څانګو د بې شماره متخصصانو نظریې او دلایل په دې ویبپاڼه کې لوستلای شئ:
http://www.patriotsquestion911.com/

[2] د افغانستان پر خلاف د ایتلافي لښکرو د پوځي تلفاتو شمېرې د اینټرنیټ په دې پاڼه کې وګورئ:
http://icasualties.org/oef/

(c) ketabton.com: The Digital Library

[۳] د کرزي د حکومت د کرنې او مالداری د وزیر، آصف رحیمي، له خولې د څلورو میلیونو جریبو غصب شوې ځمکې خبر د اینټرنیټ په دې لینک کې ولولئ:

http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=4647&ctl=Details&mid=5294&ItemID=15048

[۴] په افغانستان کې د تریاکو د تولید او سوداګری په اړه د بي بي سي او لاس انجیلیس ټایمز دا خبرونه وګورئ:

http://news.bbc.co.uk/1/hi/6965115.stm

http://articles.latimes.com/2010/oct/01/world/la-fg-1001-afghan-opium-20101001

[۵] د کابل حکومت د فساد تور او چټل ریکارډ د بي بي سي په دې خبر کې ولولئ:

http://news.bbc.co.uk/1/hi/business/8365094.stm

[۶] د کرزي په فاسده او ککړه اداره کې د بډو او موک په باب د شپیګل آن لاین دا رپوټ وګورئ:

http://www.spiegel.de/international/world/0,1518,672828,00.html

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغـــانستـــان جیوپولیتیک یا ستراتیژیک موقعیت

ډاکټر لمر

دا ټولو ته مالومه ده، چې افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت په اړه د نړۍ بحري اوبو ته لاره نه لري، مګر راځی افغانستان له داسې یو ملک سر پرتله کړو، چې هغه هم له اوبو سره نېغ په نېغه تړاو و نه لري. ما چې د نړۍ نقشې ته په زغرده وکتل، نو د نړۍ ډېر شمېر هېوادونه د بحر اوبو ته لاره نه لري، مګر ملکونو یې داسې کلتوري او سیاسي لوړې ټېټې نه دي تېرې کړې، لکه چې د افغان ولس په وروستي، څو پېړیو کې تېرې کړې دي.

باید یاده شې، چې نن سبا په نړۍ کې تېل او نفت د ملکونو په سیاسي ژوند کې غوره رول لوبوي او دغه طبیعي زېرمې په ډېرو سیمو کې مخ پر کمېدو دي او په ننني تکنالوژې کې ترننه د نفت او تېلو بدیل نه دی موندل شوی او د کاسپین چاپېریال ملکونو کې د فوسیلي سون

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ګاز، تیل او نفت) موادو زېرمې لیا شته دي، چې د ځېرځواکونو د سیالي ډګر او د نړیوالو کمپنیو لپاره د پیسو ګټلو ښه سیمه ګرځېدلې ده.

افغانستان هم په آسیا کې د وربښمو د لارې پر سر پروت دی او د سیمې د ملکونو او ځېرځواکونو د سیاسي غوښتنو د یوې څلور لارې حیثیت لري، چې د سابقه شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته یې جیوپولیتیک ارزښت نور هم زیات شوی دی او اوسمهال د کاسپین چاپېریال د شوروي آزاد جمهوریتونو او د هندو-پاکستان تر منځ یې له شماله جنوب ته د ځمکنۍ ترانزیتي لارې په توګه یو ځانګړی موقف خپل کړی دی.

افغانستان پخپله هم ګڼشمېر کانونه، مېنرالي زېرمې، ګاز او تېل لري، له بل پلوه د افغانستان جغرافیوي موقعیت د روسیې، چین او هند د ځېرځواکونو د څارلو لپاره لوړ پوځي مورچل ګڼل کېدلی شي او په دې سیمه کې د موجودو طبیعي زېرمو په اړه په نړیواله کچه لوبې پیسې ګټل کېدلی شي، چې افغانستان ته یې ستراتیژیک ارزښت هم ورکړی او هم د نړېوالو کمپنیو او ځېرځواکونو د سیالۍ ډګر ګرځېدلی دی. له بده مرغه چې نړیوال ځېرځواکونه لکه: امریکا، روسیه او چین هر یو له نړیوال مارکېټ سره د دغو زېرمو د لوټلو او د خپلې ګټې اخیستلو لپاره ببلې ببلې طرحې لري، چې ډېر په تیلو ماړه ملکونه یې قرباني دي او خلک یې له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

د افغانستان موقعیت له ایران سره د امریکا او اسرائیلو په سیاسي لوبو کې هم یو ځانګړي حالت ته رسېدلی دی. ایران غواړي خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتومي بم جوړ کړي او اسرائیل له امریکا سره وېره لري، چې ګواکې د ایران دولت ثابت نه دی او له خپل ایراني اتمي بم سره نړۍ ته د امنیت مخاطره رامنځ ته کوي او د دې ګواښ هم شته چې په ایران نظامي عملیات هم تر سره شي، خو د ایران د اقتصادي تجربه‌ولو لپاره د کاسپین د نفتو، ګازو او تیلو د ترانزیټي لارې په اړوند سره د ایران د ګونډه کولو لپاره هم کولی شي د افغانستان له موقعیته ګټه پورته کړي، ځکه نو امریکا ته افغانستان لکه یو ستراتیژیک دوست هېواد ډېر مهم دی، چې په دې توګه کولی شي ایران هم د منځنۍ آسیا له ترانزیټي لارې ګونډه کړي او هم د سیمې د انرژي ترانسپورت له ګاونډو ملکونو څخه تر سره کړي.

له همدې امله امریکایانو لا د طالبانو د واکمني پر مهال غونډتل چې د تورکمنیستان-افغانستان-پاکستان-هندوستان نللیکې وغزوي، خو هغه مهال په سیمه کې د امریکایي او ارجنټیني کمپنیو د رقابتونو او په افغانستان کې د ناامنیو له کبله دغه پروژه پلې نه شوه او وروسته د امریکا له تیري په ۲۰۰۱ میلادي کال دغه پروژه په ټپه ودرېده، مګر په ۲۰۱۰ کې د ګازو د نللیکې د پروژې په اړه د امریکې په ملاتړ په ترکمنیستان کې د افغانستان- پاکستان، هند او ترکمنیستان د دولتونو تر منځ یو ترون لاسلیک شو او د ۲۰۱۱ کال په اپریل کې د افغانستان پارلمان هم نوموړې پروژه تائید کړه، خو د افغانستان جنګي حالت د دغه پروژې کار په ټپ درولی.

دا ټولو ته څرګنده ده، چې افغانستان د خپل رسمي تاریخ پیل د لوی احمد شاه بابا له واکمني یانې ۱۷۴۷ کاله را شروع کوي، خو ځینې بیا د تاریخ پراو د پښتنو د آزادي لومړني مقاومت ته وراړوي، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مبرویس نیکه له سیاسي، نظامي او ټولنیز خوځښت سره تړاو ورکوي، مګر نور بیا د افغانستان رسمیت ته د ټولواک عبدالرحمن خان موده ځانکړې کړې ده. په دغو دریو مقولو کې دري نظره، چې ټپریز او ایتنیکي کرکتر لري موجود دي.

د لوی مشر میرویس نیکه خوځښت تاریخي ارزښت دی، خو د هوتکو د ټبر حکمروایي، د احمد شاه بابا واکمني بیا د افغاني امپراتوري جوړېدل، چې شمزی یې دورانیو جوړه کړې وه او دریم تاریخي نظر بیا د هغو ایتنیکي ډلو د زړه خبره ده، چې د ننني افغانستان تاریخ هر څومره چې کېږي عمر یې ورلنډ کړي، نو پایله دا ده، چې د افغانستان په خاوره کې داسې ټپریز امکانات شته، چې دغه ټولنه په خپل لاس په اور کې ډاډه کړي، نو صرف یو ورلګید ته اړتیا لري.

افغانستان د تزاري روسیې او انګریزي امپراتوري تر منځ د بوفر یا (نا پېیلې) سیمې موقعیت تر لاسه کړ، په دې کې د وخت د دغه دوو ځبرځواکونو رول ډېر غوره ؤ، ځکه چې که روسیه رامخ ته شوه، نو د افغاني مقاومت تر شاه انګرېزان درېدل او که به انګرېز رامخ ته شو، نو روسیې به د انګریزي امپراتوري د خپرېدو مخنیوی کولو، نو افغانان د دغه جګړې د سوخت مواد ول او تر ننه هم دي، خو باید یاده شي، چې مورږ به په خپله خاوره کې دومره انګرېزان او یا روسان هغه وخت نه وي وژلي څومره مو چې خپل افغانان ووژل.

په شلمه پېړۍ کې افغانستان د شوروي اتحاد او لوېدیزوالو په اخو ډب کې ښکېل ؤ، مګر بیا هم په یوه تاکلې دوره کې په افغانستان کې داسې واکمني وه، چې افغانستان یې لږ تر لږه د ۵۰ کلونو په بهیر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نسبي توګه کرار وساته او د افغاني اداري بنسټیز اساسات یې کښښودل او په دویمه نړیواله جګړه کې یې افغانستان د هتلري جرمني له تیریو، د روسیې له بدمرغیو او د نړیوال امپریالیزم له خوړلو وساته، خو څه وشول، چې دغه ټول یو ځل له منځه ولاړل او دا دي مورږ لږ تر لږه ۳۵ کاله کېږي چې د جنګ په حالت کې ژوند کوو او د دریو لسیزو په بهیر کې د دوو ځبرځواکونو سره مو پنجې نرمې کړې او د سیمیزو ګاونډیو هېوادونو د سیاسي لوبو قرباني شوو.

تېر په هېر را به شو دې ته چې د افغانستان په اړه مورږ افغانان په څه ډول فکر کوو، زمورږ ګاونډیان څه غواړي او نړیوال ځبرځواکونه څه خیالونه په سر کې تاووي.

۱- مورږ افغانان څه غواړو:

په ډېرو لیکنو کې داسې راغلي، چې زمورږ بدمرغي بهرني هېوادونه دي، خو په فارسي کې یو متل دی، چې «مرغ ته هوش کن همسایه را دزد نګیر»، نو دا چې زمورږ ګاونډي زمورږ په اړه څه پلانونه لري بیا به پرې وغږېږو، خو راځئ چې لومړی خپل کهول ته سر وروړاندې کړو، چې څه پکې تېرېږي.

- په ډېرو ځېړنو کې ښودل شوې ده، چې د افغانستان تر ټولو لوی تېر پښتون دی، چې تر ۴۵ او ۷۰ سلنې یې شمېري، خو په زړه پورې دا ده، چې دغه تېر هېڅکله هم د خپل هېواد په زعامت او اداره کې اساسي رول نه دی لوبولی، مګر د جنګ په موده کې یې تر ټولو ډېره قرباني او سرشیندنه کړې ده، خو واک بل پرې چلولی دی. په دې کې لږکي تېرونه ملامت نه دي، د ملګرو ملتونو یوې ځېړنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښودلې ده، چې د افغانستان د وګړو د پښتنو سلنه ۲۵ ده، مګر له هغوی نه ۳۰ سلنه په فارسي خبرې کوي او په ټوله ټولنه کې ۵۰ سلنه په فارسي بلد دي او ۴۰-۴۵ سلنه په پښتو، نو اوس تاسو ووایی، چې د پښتو یانې د پښتنو کمزورتیا په چا کې ده، خو زه به دومره ووایم، چې پرته له پښتو پښتون نه شته، ځکه چې که یو اوزبک، تاجک او یا هزاره په فارسي پوهېږي او په پښتو نه پوهېږي، نو هغه تر فارسي ژبي پښتانه څه کم دی؟ د دغه معظلې بل اړخ دا دی، چې د پښتنو دوه ژبي توب د دې سبب ګرځېدلی، چې هم د پښتنو په منځ کې یووالی نشي راتلی او هم په نورو ایتنیکي ډلو کې، ځکه چې ژبنیز دوالیزم د بې اعتمادي بنسټ دی. ما په ډېرو بهرنیو ملکونو کې هم ژوند کړی او هم کار، نو زمونږ دوستي له بهرنیو وګړو سره د سیمې د بومي خلکو په پرتله بهتره وه، ځکه چې ټول په هغو ټولنو کې پردي ول او په افغانانو کې هم که د بل ټبر یو څوک مجلس ته راشي یا ته ورشې نو د مجلس رنګ، سلیقه او طریقه ټول اوړي، ځکه چې افغاني ټولنه یو افغاني هویت او ذهنیت نه لري.

- د افغانستان لږکي ټبرونه لکه تاجک، هزاره، اوزبک، تورکمن او داسې نور، د افغانستان په ستونزو کې خپل اړخ لري. له دغو ټبرونو پرته له تورکمنو تل خپل سیاسي ګوندونه جوړ کړي او د پښتنو په ضد یې کارولي. پوښتنه دا ده، چې ولې داسې یو حالت رامنځ ته شوی، ځواب دا دی، چې پښتانه بې اتفاقه دي، ځکه چې لومړی په غبلزیو او دورانیو وېشل شوي او بیا په خیلو او څټکو. کاشکې دا یوازینی د بې اتفاقي ټکی وی، مګر بیا په سیاسي او ديني ډلو هم وېشل شوي دي. لکه نن سبا چې په دواړو خواو کې پښتانه له یو او بل سره جنګېږي. په دولت کې کرزی او مخالف یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالب جان او حکمتیار خان، خو نورې ډلې ټپلې له خپلې وېرې د لاسپوڅي دولت تر سیوري لاندې راغلي دي.

- افغانان په هر څه کې افراط او تفریط ته مخه کوي. خلکیانو د خپلې ایدیالوژي لپاره څه و نه کړل او طالبانو بیا د اسلام لپاره په خلکو څه نخرې و نه کړې، خو پایله څه شوه ! درنو لوستونکو ! په افغاني ټولنه کې بیا هم هماغه زړه کیسه ده یانې: سیالي، تربګنې، زنستېزي او زورواکي. که مقاومت ته وګورې، نو حکمتیار صیب خپله درنه او د نورو سپکه وایي او طالبان هم همدا ډول درواخله، زما اندېښنه وروسته له ۲۰۱۴ میلادي کاله د افغانستان د وګړو د ژوند مصؤنیت او په هېواد کې امنیت دی.

د افغانستان ستراتیژیک یا جیوپولیتیک ارزښت د هېواد جغرافیوي موقعیت او طبیعي زېرمې جوړوي. دا ټولو ته جوته ده، چې افغانستان ببلابېل مینرالونه، وسپنیزې زېرمې، یورانیم، مس، زغال، لاجورد، زمرود او داسې نورې طبیعي زېرمې لري، چې د دې تر څنګ افغانستان په نړیواله کچه طبیعي ګاز او تر ځمکې لاندې د تېلو زېرمې هم په پرېمانه پیمانه لري. د افغانستان د طبیعي زېرمو ارزښت د لسوو تریلیونونو ډالرو په کچه ټاکل شوی دی، چې خلک وایي: «هر افغان د سرو زرو پر بالښت سر ږدي، خو په لوږې نس شپې تېروي !».

د افغانستان جغرافیایي موقعیت ډېر یو ځانګړی ارخ لري، ځکه چې یو پلو ته یې د سابقه شوروي پنځه هغه جمهوریتونه لکه (تاجکستان، اوزبکستان، ترکمنستان، قرغیزستان او قزاقستان) سره چې ډېره غوره ترانزیتي سیمه ده، چې له دریو جمهوریتونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو افغانستان ګډه پوله هم لري، مګر دغه ملکونه د نړۍ په کچه د تېلو ډېرې لویې زېرمې او طبیعي شتمني هم لري، چې یو پلو ته یې د روسیې بازار پروت دی او بل پلو ته یې د هند د بحر تودې اوبه او د پاکستان-هندو-چین تجارتي بازار، ځکه نو افغانستان یو ډېر ځانګړی جغرافیایي موقعیت لري، چې د آسیا نور ملکونه د داسې یو موقعیت خوبونه وینې، خو افغانستان د فارسي او پښتو جګړې وران کړی او نورو ژبنیزو واحدونو ته یې د سېپراتیزم یا بېلتنتوب ذهنیت ورکړی، که نه نو په افغانستان کې به چا د فیدرالیزم رمبارې وهلې او د فیدرالیزم ډنډوره د افغانستان په تاریخ کې څه نوې خبره نه ده.

فیدرالیزم او افغاني ټولنه: زه د افغانستان په شمال کې اوسېدلی یم او د هغو سیمو د خلکو نسبي قومي جوړښت راته مالوم دی، نو زما له مالوماته سره سم او د افغانستان د تاریخي پېښو پر بنسټ په زغرده ویلی شم، چې په افغانستان کې د فېدرالي دولتي سیستم غوښتنې هسې بې ځایه خبرې دي او ټولنیز بنسټ نه لري، ځکه چې د افغانستان هېڅ یو ولایت پرته له پښتنو نه شته او هېڅ داسې سیمه نشته چې په یو ځانګړي ټبر پورې دې اړه ولري، بیا هم په ټولو سیمو کې پښتانه یا اکثریت دي او یا هم داسې یو لږکی ټبر جوړوي، چې د نورو ټبرونو په پرتله بیا هم په نسبي توګه اکثریت دي، نو هغه سیاستوالو ته چې خپلو ټبریزو ډلو ته داسې یو غلط ذهنیت ورکوي دومره ویلی شم چې صرف له خپل ټبر سره او له ټول ملت سره خیانت کوي او بس.

د سنیګېریوف (B.Snegirev) یو روسي عالم د سیاسي څېړنو د لیکنې یوه برخه ډېره په زړه پورې ده، چې زه یې ژباړه تاسو ته وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم. په ځانګړي ډول په افغانستان کې، کله چې د ۱۹۷۹ کال په پای کې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت اساسي قانون جوړېده، نو د مشاورینو په توګه د شوروي اتحاد درې مخکښه قانونپوهان دعوت شول. د شوروي اتحاد د عالي شورا د دارلانشا د ډیپارتمنت معین (سبدوګین)، د شوروي د (و.ن.ي.ي) قانون جوړولو معین (کوزنېخوف)، د دولتي حقوقو د انستیتوت معین (شېرېمېت) د کار په لومړنیو ورځو کې په کابل کې له ځینو ناخوالو سره مخامخ شوي ول. د افغانستان دولتي چارواکو غوښتل، چې افغانستان په ځلورو سوسیالیستي جمهوریتونو ووېشي: د افغانستان د پښتنو سوسیالیستي جمهوریت، د افغانستان د تاجکو سوسیالیستي جمهوریت، د افغانستان د اوزبکو سوسیالیستي جمهوریت او د افغانستان د هزاره و سوسیالیستي جمهوریت. د شوروي اتحاد دغو مشاورینو په ډېرو مشکلاتو د افغانستان رهبران پر دې قانع کړل، چې له دغه پلانه لاس واخلي او هغوی ته وویل شول، چې د افغانستان بشپړتیا د ټولو په ګټه ده او د افغانستان تر نامه لاندې ټول قومونه سره راټول کړي.

درنو لوستونکو! دغو درنو افغاني چارواکو د تورکمن ټبر، نورستانیان، عرب او داسې نور له پامه غورځولي ول او که د خیالونو په کته ناست ول! په افغانستان کې د فېدرالیزم د غوښتنو او د افغانستان د وېشلو کوکریان ډېر دي، چې مخکښ یې د رفیق کارمل شاګرد ښاغلی شیطانعلي ګوسفند دی، ځینې خو ببخي د افغانستان له نامه سره کرکه لري، لکه لطیف پدرام، نو په دغه حساس وخت کې افغانان اړ دي، چې له خپلې هوښیاري کار واخلي، د دوښمن په تبلیغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

و نه غولېږي. د افغانستان وېشل په پښتونستان، تاجکستان، اوزبکستان، هزاره جات، ترکمنستان، نورستان او داسې نورو، د هېڅ افغان په ګټه نه دي، که پښتون ببل شي د پاکستان صوبه به شي، تاجک به د تاجکستان مری شي، اوزبکان به د اوزبکستان غلامي ته غاړه کېږدي او هزاره به هسې د ایران په ټولنه کې د دویم سورت غلام په بڼه مدغم شي، چې وخت تر وخته به يې د افغانستان د سیاسي کړکېچونو په اړه اعداموي، چې د خپلو ګړو رضایت تر لاسه کړي، خو له پامه مه اچوی، چې د مسلمان هندو کانه به درباندې وشی، چې ویل به يې «هم دین لاړ هم... !»

د فدرالیزم د ټولنیزو ناخوالو په اړه په دې برخه کې د ببلګې په توګه د مزار شریف ښار به یاد کړم. د مرحوم ډاکټر نجیب په موده کې د شاه اولیا ښار ته ډېر هزاره ګان له بامیانه، سمنګانه، غزني او نورو سیمو څخه راوکوتېدل، چې د مزار شریف ټولې سیمې يې د علي مزاري په نوښت له نورو ټېرونو څخه ونیولې او د حیرتان په لاره له ګومروکه رانیولې تر مزار او بیا تر سمنګانه به دوی واک چلاوه، کال لا نه و تېر چې اکه دوستم هم مخ پر مزار راشېوه شو او د مرحوم ډاکتر نجیب په وروستي کال په مزار کې دري ټېره برلاسي ول، د احمد شاه مسعود، علي مزاري او عبدالرشید دوستم ډلې، چې بیا يې په ډاکتر نجیب کودتا هم وکړه او د ملګرو ملتو پلان يې هم شنډ کړ.

په زړه پورې دا وه، چې وروسته له دې چې د لرکیو واکمني په کابل کې رامنځ ته شوه، نو مزار هم د شخړو سیمه شوه، خو دوستم ټولې ډلې ټپلې وتښتولې او د شمال په ۸ ولایتونو کې يې خپله واکمني ټینګه کړه او کابل هم په ملک الطوایفي ووېشل شو، چې د جګړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکز ثقل هم کابل ته ووایښت او له ۱۹۹۲ تر ۱۹۹۶ پورې په کابل کې پر خلکو څه مېچنې نه وې چې و نه چلول شوې، چې پایله یې د کابل ورانېدل، د ۸۰۰۰۰ انسانانو وژل کېدل او د طالبانو پیدا کېدل شول، چې دوستم د ګلم جم، احمد شاه مسعود د شېر پنجشېر او بز کابل او علي مزاري د قصاب کابل لقبونه تر لاسه کړل، مرحوم استاد رباني هم د برقي پکې لقب تر لاسه کړ، چې یو پلو ته به یې مخ واړاوه او ویل به یې: «برادران مجاهدین !» او بل پلو ته به یې مخ واړاوه او ویل به یې «براداران ملحدین !»، طالبانو ته بیا استاد رباني «د سولې پرېښتې» نوم وروبښه او په تاریخ کې د رباني د واکمنې تورې دورې ته د دویمې سقاوي نوم ورکړل شو او د طالبانو له ظهوره سره د لرېکیو د واکمنې ټغر هم په کابل کې ټول شو، چې ساحه یې د پنجشېر تر درې پورې تنګه شوه او مرحوم استاد برهان الدین رباني به یوه کتکېدونکې څوکې او یوه لوحه کله کولاب ته او کله علاو الدین ته وړه او راوړه، چې په لوحه لیکل شوې: «مقام ریاست جمهوري اسلامي افغانستان».

مزار شریف د امریکایي سوتې کراسي په پیل کې هم د لرېکیو ټبرونو د کشمکش ډګر و، چې د اوزبکانو پر ضد تاجکانو، قزلباشانو او هزاره ګانو لاس یو کړ او پښتانه خو هسې د خپل وېر په ټغر ناست ول، نو وروسته له ډېرو جګړو د مزار شریف ښار استاد عطا ته په وېش کې ورسېد، چې هغه بیا هزاره ګان هم پخپل ځای کېنول او تر ننه یکه تازي کوي. څو میاشتې مخکې په مزار شریف کې زما له یو اوزبک ملګري کره له نورو دوستانو سره شپه شوه، نو ملګري مې په خبرو کې د مزار شمال شرق سیمې ته نغوته وکړه او وېې ویل، چې: «درین

(c) ketabton.com: The Digital Library

منطقه تمامشان جنبشي هستند او دو حویلي کلانه مېبیني یکیش از اکه دوستم است او دیګېش از اېشان صاحب سید نورالله آغا است، رئیس نو جنبشه مېګم، هر وقت کې امریکایي ها رفتن باز معلم عطا ره ده یکروز از مزار بخیر رخصت مېکنېم، آلې هم که بشنوه که دوستم اینجه آمده همو روز به ولسوالي خود مېګرېزه و از ولایت فرار میکنه، بسیار از دوستم میترسه !»، کله چې دا خبرې آورې، نو نه پوهېرې چې ولې لرکي ټبرونه د سیاسي ډلو او یا ګوندونو د ناوړه کړو قرباني کېرې.

په افغانستان کې روسان جګړه وبایلله، ځکه چې د افغاني ټولنې اکثریت ټبرونه په دې توافق کړی و، چې افغانستان باید یو آزاد مملکت وي او د افغانستان لوی ټبر پښتنو هم په دې برخه کې له ټولو سره اتحاد کړی و او د نورو ټبرونو ترڅنګ یې په خپله سرشیندنه افغانستان له سرې غمیزې وژغوره او دا دي په لوړ همت لس کاله کېرې، چې د خپل هېواد د آزادي لپاره مبارزه کوي، څوک به ما په دې ملامت کړي، چې ګواکې د افغاني مقاومت پلوي کوم، مګر دومره لیکلی شم، چې «ماشوم و نه ژاړي، نو مور شودې نه ورکوي !»، نو که په افغانستان کې هم مقاومت نه وي، د دې ټولنې خپلواکي هم نا ممکنه ده. بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه دا ده، چې له ننني مقاومته، د افغانستان له اوسني حالته، جیوپولیتیک اوستراتیژیک موقعیته د افغانستان د خلکو او د ټولنې د پرمختګ لپاره په څه ډول ګټه پورته شي، نو پردې به هم په دغه لیکنه کې یو څه ولیکل شي.

د افغانستان د ملي ګټو پر ضد ډېر تبلیغ کېږي، چې یو شمېر ایران او تاجکستان، نور پاکستان او بل شمېر ازبکستان او ترکیې ته خواخوږي ښیي، چې په یوه برېښنا پانه کې د اسیا د ورېښمو د لېکې یا لارې (د ابرېشم لاره) په اړه د کلتوري، سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو چارو مرکز ایران وښیي او د خپل هېواد افغانستان د اقتصادي ستراتیژیک موقعیت ستنې پخپله په ترښځ ووهي. دلته د آریایي غیر افغاني برېښناپانې دې خبر ته ځیر شئ: در تاریخ ۳۰ شهریور سال جاری در نشست ویژه افغانستان که در حاشیه اجلاس سازمان ملل متحد در نیویورک برگزار شد ، چند تن از وزرای امور خارجه کشورهای غربی از جمله وزیر امور خارجه آمریکا از ضرورت تأسیس جاده ابریشم جدید در منطقه غرب آسیا و آسیای مرکزی سخن گفته و خاطر نشان کردند که منافع ما ایجاب می کند که این جاده جدید تاسیس گردد. پس واضح است که جاده ابریشم یک راه فرهنگی، تجاری و در یک محدوده جغرافیائی مشخص بوده و در طول قرون پیشین مناطق جنوبی و مرکزی آسیا را به یک دیگر متصل می‌کرده است. این جاده از چین آغاز و پس از عبور از هند ، آسیای مرکزی، پاکستان، ایران، عراق، چند کشورخلیج فارس و ترکیه به اروپا متصل می شده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایران در این مسیر دارای یک نقش محوری و ویژه بوده و به عنوان پل ارتباطی آسیای مرکزی و قفقاز به خلیج فارس و پیونددهنده دو منبع انرژی در 'دریای خزر' و 'خلیج فارس' همواره اهمیت خاص داشته است. بعد از پیروزی انقلاب اسلامی نیز نقش ایران در اتصال آسیا به اروپا و آفریقا با احداث خطوط استراتیژیک ریلی و جاده ای غیرانکار بوده است. بحث ایجاد یک جاده ابریشم جدید توسط آمریکا و چند کشور اروپائی که هیچگاه در محدوده جغرافیائی جاده ابریشم واقع نبوده اند، یک موضوع غیرقابل توجیه و درعین حال مشکوک است و دخالت کشورهای سلطه جو در منطقه را تداعی می کند. نکته قابل توجه اینکه آمریکا هدف از تاسیس جاده ابریشم جدید را حل مشکلات افغانستان و کمک به توسعه این کشور عنوان کرده است.

درنو لوستونکو ! دغه څو کرښې یوې غیر ملي افغاني برېښناپانې خپرې کړې دي، چې د سیمې د ټولو ملکونو منځ کې یې د افغانستان له خلکو سره خپله جفا ښودلې ده، خو یوه خبره باید دا ډول کوکریان په یاد ولري، چې نه په ایران کې او نه هم په کوم بل ملک کې مهاجرو افغانانو ته که هر څوک وي د انسان په سترګه نه ورته کتل کېږي او داسې څرکندونې صرف د زړه د دوک بړاس دی او بس ! چې د ببلګې په توګه د دوو افغانانو کیسه یادوم، چې په بهر کې یې د مهاجرت تقاضا کړې وه. یو یې د افغانستان د شمال پښتون و او بل یې تاجک. پښتانه ځانته د افغان پر ځای پښتون وېل او تاجک د افغان پر ځای ځان ته تاجک ویل، خو دواړو ته د رد ځواب راغلی و، یو ته لیکل شوي ول، چې پښتونستان ته ولاړ شه او بل ته یې لیکلي ول، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاجکستان ته بیرته ستون شه، نو دواړه نه پوهېدل چې څه وکړي، خو د حل لاره دا شوه، چې دواړو له یو افغاني سفارته د خپل افغانیت د تصدیقولو اسناد ترلاسه کړل، چې بیا یې وکولی شوی د افغان په نام د اقامې ویزه ترلاسه کړي، نو اوس دواړه وایي چې د افغان له نامه نه جار شم.

زمونږ هزاره ورونه هم نا کراره دي. زما یو همټولګی د نجیب په وخت کې جبري عسکر شو، نو کله چې ما وروسته له یوې مودې ولید، خپله تېره کیسه یې راته بیان کړه. هغه وویل، چې یوه ورځ په جبهه کې په پښتني سیمه کې ونیول شو، کله یې چې قوماندان ته وروست، هغه ورته وویل، چې هزاره یې! نو خپل خلکو ته یې وویل چې دغه شویه بوځی او ویې وژنی! هزاره ملګري مې راته وویل، چې دولتي چورلکې په آسمان کې رابنکاره شوې او بمباري یې پیل کړه، هر څوک هر پلو وتښتېد او زه په دښته کې په یوه سوړه کې ننوتم، چې بمباري ودرېدله د دولت قواوې راغلې، نو یو عسکر زه ولیدم، د کلاشینکوپ خوله یې راته راواړوه او ویې ویل، چې «پیر ته ګایم هزاره ستي!» او ټوپک یې زما په تندي کېښود، خو ښه و د عسکر قوماندان غږ پرې وکړ، چې نکشیش، زنده بګیرېش! بیا ما د خپل ټولې د بدمرغي کیسه ورته وکړه او زه یې کابل ته راوستم. هزاره ملګري مې په ټوکه را ته وویل، چې شما عمري ها اګر پشتون هستین، یا تاجک و یا ازبک ما هزاره را آرام نمیمانین، خو د کابل په غوبل کې له ۱۹۹۲تر ۱۹۹۲ پورې د عمریانو په سر کې هم ښه ډېر میخونه وټکول شول. پوښتنه دا ده چې له دغه ستونزې په څه ډول راوتلی شو. ځواب دا دی، چې د یو ملي افغاني هویت او ذهنیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړول، چې بنسټ یې افغاني ملي ارزښتونه لکه د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا، د قانون پلي کېدل، د اسلام مقدس دین او د افغانستان ملي هویت د ملت د اکثریت ټبر د ژبې پر بنسټ او د وروڼو ټبرونو سوله ییز، باعزته او آبرومندانه ژوند.

۲ - د بهرنیو هېوادونو لاسوهنې:

ایران، پاکستان، ازبکستان، تاجکستان، ترکمنستان هغه ملکونه دي، چې له افغانستان سره ګډه پوله لري او په افغانستان کې داسې وګړي ژوند کوي چې د دغو ملکونو له وګړو سره خونشریکي لري، کلتوري او ټولنیز ارزښتونه یې ورته والی لري، نو طبیعي خبره ده، چې له دغو ملکونو څخه هر یو د افغانستان په اړه خپله اجندا لري.

ترکمنستان یو ورې اسلامي او سوني مذهبه مملکت دی، چې نفوس یې تر ۵ میلیونو پورې دی او د افغانستان په اړه د خپلو ټبلو او نورو طبیعي زېرمو د تولېداتو د لېږد لپاره د افغانستان ترانزیتي لارې ته اړه دی، خو د خپل موقعیت پر اساس او د افغانستان د دېرش کلنې جګړې په ترڅ کې یې وروسته له دې چې شوروي اتحاد وپاشل شو، د امریکایي د تیلو د لویې کمپنۍ یونیکل لمنه یې ونیوله چې هم خپل موجودیت تضمین کړي او هم د خپل مملکت د پرمختګ لاره خلاصه کړي، خو د افغانستان جګړې دغه ملک هم له نورې نړۍ او د هندو - پاکستان له تجارتي بازاره تجرید کړی دی، د افغانستان په آرامي کې د ترکمنستان ګټه ده، ځکه د افغانستان په کورنیو چارو کې هم لاسوهنه نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاجکستان هم یو وړ مملکت دی، چې نفوس یې ۷،۳ میلیونه اټکل شوی دی. دغه مملکت هم اوبو ته لاره نه لري، خو له بده مرغه یو غرنی مملکت دی او طبیعي زېرمې یې هم دومره آسانه نشي تر لاسه کېدلی، خو د افغانستان په اړه داسې اجندا لري، چې د یو شمېر افغان تاجکو په مټه او د ایران په لمسونه غواړي افغانستان په سه کشور همزبان کې مدغم کړي او د افغانستان د وېشنې په ترڅ کې د څو ولایتونو د نیولو خوبونه ویني او خپله پوله بیا په روسانو ساتي، مګر د ۱۹۹۰ کلونو د جهاد ولولې او د سرحدونو سره اورونه یې له یاده ایستلي دي، نو باید په یاد ولري، چې مه کوه پر چا چې و به شي پر تا ! که خدای وکړ او افغانانو سیاسي بشارت او ټولنیز اعتماد رامنځ ته کړ، نو د تاجکستان دا لاسوهنې به هم ورپه یاد شي او یا دې لکه ریښتونی ګاونډ زمونږ سره چلند وکړي او د افغانستان ټبرونه دې د یو او بل پر ضد نه لمسوي او د ایران او روسیې کاسه لیسي دې نه کوي.

ازبکستان هم د شوروي اتحاده را ېېل شوی مملکت دی، د دېرشو میلیونو شاوخوا کې یې نفوس دی. دغه ګاونډ د نویمو کلونو په بهیر کې د دوستم پلوي کوله، خو ډېر ژر پخپله خطا پوه شو، مګر نن سبا افغان ولس بیا د جګړې په اور سوی دی، نو د ازبکستان د لاسوهنو امکانات یې رامنځ ته کړي دي، مګر په ازبکستان کې د فرغانې ناسور تل دوړې او لمبې پورته کړي، خو د امریکا موجودیت په سیمه کې د ازبکستان د محطاطیت اصلي لامل دی، که نه نو اوس به ازبکستان هم د بیلنتوبونو لیکې په افغانستان کې کښلې وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایران د افغانانو تاریخي، سیاسي، ژبنیز او مذهبي دښمن دی. هغه مملکت چې په ۱۹۱۹میلادي کال یې د افغانستان د خپلواکي سره مخالفت وکړ، د روسانو د جګړې په موده کې یې مذهبي جنګونه افغانستان ته راانتقال کړل، د طالبانو په موده کې یې ۳۰۰ زره عسکر د افغانستان پولې ته د جنګ لپاره راواستول او د امریکایانو د یرغل پر مهال یې خپله فضا د امریکایي اولوتکو د بمباري لپاره پرانیسته او پر افغان ولس یې د بمونو د وریدو امکانات جوړ کړل. نن سبا د افغانستان د سیاسي بې وسي نه د خپلو کلتوري تیریو لپاره په پریمانه توګه کار اخلي او د ایراني سیاسي فحشا فضا یې زموږ ملک ته راوړې ده. ایران خپل ګاونډ افغانستان ته د ترانسپورتي ترانزیتي لارې په اړه د رقیب په سترګه ګوري او د اوږدمهالې ستراتیژي لپاره یې له هراته تر میدانه پورې په خپلو اقتصادي امکاناتو او د افغانستان د فسادي اداري په مرسته له ۳ لکو ډېر هزاره کورنۍ ځای پر ځای کړې دي، چې به وروستیو سلو کلونو کې به د افغانستان حالت څه وي، نو یو الله پرې پوهېږي، خو د پښتنو دغه ننني بې تفاوتي که وي، نو بیا افغانستان وپشلی ګڼه!

په ۱۹۷۷ میلادي کال سردار محمد داود خان یو شمېر ملکونو ته سفرونه وکړل، هغه مهال د فرانسې په لمسون د ایران واکمنو افغانستان ته د ۲ میلیاردو ډالرو ژمنه وکړه، چې په افغانستان کې یو داسې ترانزیتي لاره له ایرانه هرات ته او بیا له هراته کابل او کندهار ته او له کابله پېښور ته او له هغه نه اسلام آباد او هند ته یې د ریلګاډي ځانګې وغزول شي، خو دغه پروژه بیا د روسانو نه وه خوښه، چې بیا به پرې وغږېږو. نن سبا هم کېدی شي د ریلګاډیو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکو د سیستم په اړه افغانستان د دریو ببلابلو لیکو قرباني شي، ځکه چې پاکستان د انګریزې رېل پټې لري او غواړي له پاکستان کابل ته خپله رېللیکه وغزوي، ایران بیا خپله ځانګړې رېللیکه لري، چې پټه یې له پاکستان تو پیر لري او له اوزبکستان او ترکمنیستانه بیا بله رېللیکه غزول کېږي، چې په روسي سیستم سمبال رېللیکه ده. د دغو رېلپټو ستونزه په دې کې ده چې ټولې ببلابېل سورونه لري او ټول اورګاډی یا رېلونه نشي پرې تللی، یانې که مواد له ایرانه اوزبکستان ته انتقالېږي نو واګونونه باید له ایراني رېللیکې روسي یا ازبکي رېللیکې ته وروړول شي، چې دغه هم د وخت او هم د اقتصاد لپاره یوه ستره ضربه ده، د پاکستان او ترکمنیستان هم همدا ډول درواخله. دغه ډول چلند د دغو ملکونو لخوا ځکه تر سره کېږي، چې د افغانستان لاس تل دوی ته اوږد وي او د افغانستان د ناخوالو په ترڅ کې د افغانستان طبیعي زېرمې تشې کړي او سل کاله وروسته یې بیا هم لکه نن د لوټې او بدمرغیو سره وساتي.

پاکستان: د لویدېزوالو استخباراتي کړیو او امپریالیستي کمپنیو چې نړیواله مونوپولي یې رامنځ ته کړې ده، د هغوی لخوا پاکستان هم رامنځ ته شوی دی. د پاکستان د بیرق په اړه لیکل کېږي، چې ستوری پکې د هند د بحر تجارتي پورت یا بحري مرکز، افغانستان لکه د ستوري او میاشت تر منځ د ترانزیتي لارې او میاشت د سابقه شوروي پنځو هغو جمهوریتونو ته ښودنه کوي، چې له افغانستان سره پوله لري او یا یې ترانزیتي لاره له افغانستانه لنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. مګر د افغانستان او پاکستان ستره ستونزه د ډیورنډ کرښه ده، چې د دې پلو پښتانه یې په خپلمنځیو شخړو کې ښکېل دي او ها پلو پښتانه یې د پنجاب په غلامي کې رانسکور شوي دي، چې پایله په افغانستان کې تل پاتې جګړه او په پښتونستان کې د قاچاقو، بنسټپالي او سرکشیو یوه لویه فاجعه.

هندوستان هم د افغانستان په اړه کوم د وروروليي احساس نه لري، مګر له پاکستان سره یې د خپلو سیالیو ډګر افغانستان ګرځولی دی، خو زمور خلک د هندوستان واکمنو ته د باور په سترګه ګوري، ځکه چې د هندوستاني فلمونو او ډرامو تر اغېز لاندې دي. د روسانو د یرغل په موده کې هندوستان د افغانستان اشغال و نه غانده، د طالبانو پر ضد یې د شمال ټلواله تقویه کړه او دیپلوماتیک کانالونه یې ورته پرانیستل، چې د خلیلي په نامه یې یو څوک د مرحوم رباني د واکمني سفیر و او د امریکایي غوبل په ترڅ کې یې افغانستان له پاکستان سره د خپلو سیالیو ډګر وګرځاوه او په رسنیو کې یې خپل کلتوري یرغل ته په پراخه پیمانه هلې ځلې وکړې.

۳ - ځبرځواکونه:

چین نن سبا هغه اقتصادي نړیوال ځواک دی، چې هم نظامي او هم بشري پوتنسیال لري. د افغانستان سره ګډه پوله لري، خو د دوی لپاره افغانستان پرته له نظامي اړخه بله ګټه نه لري. چین د قزاقستان، قرغیزېستان او له ډېرو نورو ملکونو سره ګډه پوله لري، چې د افغانستان او ایران یا پاکستان ترانزیتي لارې ته اړتیا نه لري، خو د خپلو موادو د خرڅلاو لپاره تجارتي بازارونو ته اړتیا لري، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترانسپورت د ترافیک کومه ستونزه نه لري. په افغانستان کې د چین ستراتیژي هم نا څرګنده ده، خو د دې پلوي هم نه کوي، چې یا دروس او یا هم امریکا په افغانستان کې مستقره وي.

د انګرېز په اړه د افغانستان په تاریخي کتابونو کې ډېر څه لیکل شوي دي، خو انګرېز پر افغانستان ګڼشمېر یرغلونه وکړل، مګر د افغانستان با غیوره خلک یې ونشوای کولی، چې مات کړي، برعکس د افغانستان له خپلواکي سره سم د انګرېز امپراتوري هم رنګه شوه او افغانستان د یو ناپېیلي هېواد په توګه سر راپورته کړ او د سوسیالیستي روسیې او انګرېزي امپراتوري تر منځ د بوفر سیمه شوه، خو له بدمرغه افغانانو د خپل دغه ځانګړي موقفه او جغرافیوي موقعیته د مملکت په ګټه سم کار وا نشوی اخیستلی.

روسیې د وروستیو ۴ پېړیو په اوږدو کې د هند د بحر د تودو اوبو خووبونه وینې او خپله سیاسي پوله یې لا په شلمه پېړۍ کې د ننني افغانستان تر پولې ورسوله، چې په افغانستان یې هغه مهال څو ځله بریدونه هم وکړل، خو روسان بریالي نشول، چې د افغان ولس اراده ماته کړي، مګر د افغاني واکمنو د شخړو په بهیر کې یې د ۱۹۷۹ میلادي کال په پای کې پر افغانستان بیا تیری وکړ او لس کاله یې د افغانستان ولس په وینو کې ولمباوه، چې پایله یې د افغانستان تلپاتې غمېزه او د اتحاد شوروي رنګېدل شول او په نړۍ کې د سوسیالیستي سیستم د له منځه تلل.

د روسیې ستراتیژیک هدف په افغانستان کې نه یوازې دا چې په تودو اوبو او د افغانستان په طبیعي زېرمو پورې تړلی دی، مګر

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسیه د افغانستان د منځنۍ آسیا په ټبلو شتمنې سیمې د کاسپین د سیند چاپېریال ملکونه خپل انګړ هم ګڼي. کله چې روسان په افغانستان کې له ماتې سره مخامخ شول، نو له افغانستانه د وتلو نه یې مخکې د افغانستان په اړه یوه نوې تګلاره وکارولە. د شلمې پېړۍ د اتیومو کلونو په پای کې یې د افغانستان د لرکیو ډلو ټپلو سره اړیکې ټینګې کړې، چې په دې ترڅ کې یې له پاکستانه برهان الدین رباني مسکو ته وروغوښت او په افغانستان کې یې له احمدشاه مسعود سره اړیکې ټینګې کړې او عبدالرشید دوستم خو هسې هم د دوی خپل سړی و، نو په دې ډول یې د افغانستان په شمال سیمه کې د مرکزي دولت تر څنګ دویمه واکمني یاني دولتي دوبلیکېټ هم په شمالي سیمو کې فعاله کړه او هر اړخیزه هڅې یې وکړې چې د افغانستان لرکي د پښتنو په ضد سره یو ځای کړي او د واک ګډۍ ته یې ورسوي.

د شوروي اتحاد یا ښه ووایو د روسیې اساسي موخه له دغو افغان ضد ستراتیژي دا وه، چې افغانستان به لومړی په دوو برخو ووېشي او بیا به یې په قومي شخړو کې ښکېل کړي، نو د روسیې دغه لوبه هم وروسته د ډاکتر نجیب له واکمني نه پیل شوه. د روسانو پلان دا وه، چې افغانان به لږ تر لږه د ۱۰ کلونو په اوږدو کې په جګړه بوخت وي، په دغه موده کې به روسیه خپل رنګ شوی اقتصادي سیستم بیرته پر پښو ودروي او د افغان ښکېلې ډلې به په وسلو سمبالې کړي، چې د روسیې لپاره به د افغان خپلمنځي جګړه د غیر قانوني کرنسي د راټولو ښه مرجعه هم وګرځي او لږ تر لږه به د لسو کلونو په اوږدو کې به د منځنۍ اسیا سوسیالیستي جمهوریتونه هم د موادو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترانسپورتي ترانیزیت لپاره روسیې ته اړ وي، چې دا به هم روسیې ته د درآمد یوه ښه توګه شي، چې خپل وران اقتصاد پرې جوړ کړي.

د روسیې دغه پلان د څوو کلونو په اوږدو کې ګټور پېښ شو، خو په نویمو کلونو کې د روسیې اقتصادي بحران خپل اوج ته ورسېد، اتحاد شوروي رنګ شو او په ۱۹۹۲ میلادي کال روس پلوه واکمني په افغانستان کې هم نسکوره شوه، مګر د روسیې دویم ستراتیژیک پلان ته شرایط رامنځ ته شول، چې پایله یې له ۱۹۹۲ تر ۱۹۹۲ پورې په افغانستان کې کورنۍ جګړه شوه، خو د روسانو دغه سیاسي خیال پلو ته په ۱۹۹۲ میلادي کال کې د طالبانو خوځښت د پای ټکی کېښود، ځکه روسان د طالبانو سره له پیدایښته تر ننه پورې خپله کرکه وښوده، ځکه چې د روسیې ځواک او واک یې په منځنۍ آسیا کې کاوړی کړ.

کله چې طالبان په کابل کې واک تر لاسه کړ او د شمال سیمې یې له سیپراتیستانو وژغورلې، نو د افغانستان او منځنۍ آسیا د ترانیزیتې لارې او پایپلینونو د غزولو خبرې راتودې شوې، چې طالبانو خپل استازي امریکا او ارجنتاین ته واستول او د طالبانو دغه هڅو په روسانو سور اور بل کړ، خو له بده مرغه په سیمه کې او په نړیواله کچه د یونیکل اغیز او امکانات ډېر ول او د ارجنتیني بریداس کمپني امکانات لږ ول، خو پروژه یې د افغانستان په ګټه وه، ځکه چې د یونیکل په پروګرام کې یوازې پایپلینونه ول، مګر له بریداس سره خبرې شوې وې، چې پرته له پایپلینونو به د ربل ګاډي پټۍ او د موټرو لاره هم د پایپلینونو سره ګډ غزول کېږي. د بریداس او یونیکل لانجه نړیوالې حقوقي مرجعې ته ورسېدله او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان کې د طالبانو تجربه بدل پیل شول، چې وروسته د سیپتمبر له پېښې په افغانستان کې امریکایي غوبل پیل شو.

امریکا هغه مملکت دی، چې ټول عمر یې په نورو ملکونو یرغلونه کړي، چې له نورو ځبرځواکونو کوم توپیر نه لري او نن سبا دنړۍ په ۱۹۳ ملکونو کې یا استخباراتي هستې لري، یا یې نظامي ځواکونه هلته پراته دي او یا هم نېغ په نېغه هلته او دلته جنګېږي. د افغانستان او امریکا ننني جګړه د ۲۰۰۱ میلادي کال د اکتوبر له ۷ نېټې پیل شوې ده، چې دا دي د امریکایي ډیموکراسي او افغاني سیاسي بې وسي لسمه کلیزه هم پوره شوه، خو افغانستان لا هم په وینو کې لمبول کېږي او د دغې جګړې پایله د سلهاو زرو افغانانو مړینه، بې کوره کېدل او دربدري ده.

آیا د افغانستان داخلي مؤضله د افغانستان لپاره ډېره مهمه ده او که د افغانستان جیوپولیتیک موقعیت، دا هغه پوښتنه ده، چې زه یې هم ځواب نه لرم. د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپتمبر میاشتې د ۱۱ نېټې له پېښې امریکایانود غچ اخیستنې غږ پورته کړ او یو شمېر ملکونه یې په نښه کړل، چې د پیل یرغل یې په خوار او غریب افغانستان وکړ، مګر د سپتمبر له پېښې وروسته د تاریخ په بهیر کې د لومړي ځل لپاره د روسیې د ملک انګړ ته هم امریکایان په ډېره اساني ورننوتل، یانې په منځنۍ آسیا کې یې خپل ځواکونه ځای پر ځای کړل، چې پایله یې د سابقه شوروي اتحاد د ګرجستان، آزربایجان، اوکرایین او پریبالتیک جمهوریتونو امریکانیزېشن او په منځنۍ آسیا کې د امریکایي ځواکونو نظامي اډې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن سبا د نړۍ ځواک او واک د اشخاصو او یا وړو ملکونو لخوا نه ټاکل کېږي. د نړۍ لویې کمپنې لکه اپل، مایکروسافټ، آي بي ایم، لوکآیل، بریټش پطرولیم، یونیکول، بریداس، ګازپروم، چینا نشنال پطرولیم او نورې نړیوالې تخنیکي یا د تیلو کمپنۍ دي، چې خلک د واک په ګدۍ کښنوي او یا یې لیرې کوي، چې په عربو کې پسرلني غورځنګونه او د معمر القذافي مړینه یې ښه بېلګه ده، نو طالبان هم که له یو پلوه د خپلې بنسټپالې قرباني شول، نو له بل پلوه د امریکایي یونیکول او ارجنټیني بریداس د لاس لوبې شول، چې پایله یې د طالبانو د واکمنې په ترڅ کې د مملکت تجربه بدل او د امریکایي ډیموکراسي د ښامار خولې ته یې لویدل ول.

پایله

د افغانستان جیوپولیټیک موقعیت کېدلی شي د ګټورې ترانزیټي لارې په توګه وکارول شي. د افغانستان د ترانزیټي لارې په اړه مخکې هم د پاکستان د جوړېدو پر مهال هم یوه غوره پروژه وه، نو نن سبا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امرېکې سیاسي استازی په آسیا کې ریچارد باوچر وایي: په افغانستان کې د ثبات له ټینګولو څخه زمونږ موخه دا ده، چې افغانستان د یو ترانزیتي کانال په توګه له منځنۍ آسیا نه جنوبي آسیا ته د انرژي د لېږدولو لپاره وکارول شي، چې منځنۍ آسیا د روسیې او چین د دوو سترو ځبرځواکونو له اغېزه وژغورل شي او د منځنۍ آسیا ملکونه هرې خوا: شمال، سهیل، ختیځ او لوېدیځ لوري ته د تجارت لپاره ترافیکي لارې ولري.

افغانستان کېدلی شي خپل تاریخي موقف په منځنۍ اسیا کې تر لاسه کړي. د افغانستان خلک په خپلواکي مین دي او په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د شتون زغم نه لري. په خپل هېواد، دین او دودونو مین خلک دي، ځکه نو لویدیزوال باید له افغانستانه په عزت او آبرو ووځي او افغانستان پرېږدي چې خپل تاریخي ټولنیز مراحل تېر کړي، چې یو واحد په افغاني ذهنیت ولاړ مملکت شي او له خپل موقعیت سره سم د خپلو خلکو لپاره یو ګټور هېواد وګرځي.

افغانستان لکه پخوا کېدی شي لکه د بوفر یا ناپېلي سیمه او خپلواکه واکمني شي. د نړیوال امنیت لپاره نن سبا د لوېدیزو ملکونو ځواکونه په پاکستان، ازبکستان، قزاقستان او ګنشمېر نورو ملکونو کې موجود دي او ایران هم له روسیې سره ګډې اقتصادي او ستراتیژیکې غونډتنې لري، نو په افغانستان کې د نویو نظامي اډو جوړول په سیمه کې حساسیتونه پېښوي او د سیمې امنیت ته یو لوی ګواښ رامنځ ته کوي، خو په سیمه کې د ناټو د ځواکونو موجودیت په اوسنیو شرایطو کې د امنیت تأمینونکي دي. اما افغانان باید د خپلې خپلواکي لپاره پر اوسني مقاومت ټینګار وکړي، چې خپل سیمه ییز واک او اختیار تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پورته خبرو ته ځیر شو، نو دا په ګوته کېږي، چې د افغانستان ټول ټبرونه باید د افغانستان د ښېرازي او په هېواد کې د امنیت لپاره په یوه خبره هوکړه وکړي، چې دغه هېواد د ټولو افغانانو دی او ټول باید په سوله او وروروليي کې ژوند وکړي او د سیاسي جادوګرانو د لوبو قرباني نه شي. دغه موخې ته درسېدلو لپاره د پښتنو یووالی د افغانستان د ملي ارزښتونو لپاره اړین دی او د ټولو افغانانو د ساتلو او یووالي مسؤلیت د پښتنو پر غاړه دی، نو دوی باید خپل تاریخي او انساني مسؤلیت او ملي رسالت پر ځای کړي او د افغانستان د آزادي او امنیت لپاره اتحاد وکړي. د افغانستان لږکي ټبرونه باید په دې پوه شي، چې ژوند یې په ښه امنیت او د قانون د پلي کېدو په حالت کې تضمین کېدلی شي، که نه نو ټول به خپلې چرچې کړي او د افغانستان بې وزله خلک به قرباني ورکوي، نو ښه ویل شوي: «یو کېږو به ګڼې ورکېږو به!»

اخځلیکونه:

1. Taleban in Texas for talks on gas pipeline, The 1,300km pipeline will carry gas across Afghanistan's harsh terrain, Thursday, December 4, 1997 Published at 19:27 GMT, news.bbc.co.uk
2. BBC News: Taleban says it's ready to sign Turkmen pipeline deal (1/4/1998).
3. Timeline of Comprtition between Unocol and Bridas for the Afghanistan Pipline. World Press review, December 2001, www.hardfort-hwp.com.
4. Afghanistan's New Pipeline Deal May Be Just Another Pipe Dream.// Sayed Yaqub Ibrahimi and Amanullah Nasrat./ KABUL, Afghanistan, April 17, 2006 (ENS), www.ens-neuwswire.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمنـــان دې دملـــت پریـــکړې ملـــت ته پـــریږدي

ملاعبدالسلام ضعیف

اوس هم دامریکا سره د ستراتیژیکو اړیکو په نامه چې کومه لوبه روانه ده او مطلب یې په دغه مشاع کور کې د امریکا ناروا اډو جوړول اوترډیره پاتې کیدل دي ترڅو په دې ترتیب سره د ځینو کسانو چې لا له وړاندي یې له دغه بدغوني وجود څخه دځان په ګټه شخصي استفاده کړې ده او خپلوحقیقي حقدارانو په حقوقو یې خیټې اچولې غیر مشروع او ظالمانه تصرفات دي چې د غصب، ظلم او زور مانا لري.

افغانستان د ارضي تمامیت له کبله مشاع او وېشلی کور دی، ددغه کور غړي ټول افغانان دي، هر افغان ددغه کور حقیقي مالک بلل کیږي ټوله افغانان په دغه مشاع (ګډ) کور کې بې توپیره حق لري، نو ځکه هیڅوک ددغه حقیقي ملکیت څخه څوک ایستلی نشي او دارنګه په هر وګړي باندې ددغه ملکیت ساتنه او دفاع فرض ده. کله چې دا ثابته شي چې دغه مشاع کور د هر وګړې ملکیت دی، نوددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه حق هیڅوک نشي ورڅخه اخستلای، په دې توګه د هیواد ساتنه او دفاع هم په هر وګړي فرض ده، په داسي مشاع ملکیت کي معلومه خبره ده چې هیڅ یو شریک ملګری د نورو ټولو شریکانو د توافق پرته په دغه کورکي د ملکیت تصرف نشي کولای. ترڅو د نورو شریکانو وجود او حق نادیده ونیسي،په همدي توګه پاچا، وزیر، والي، ولسوال او نور واکمنان ددغه ملکیت د ناظرینو او خادمانو حیثیت لري، ددوی واک هرکله ددوی ترصلاحیت پورې محدود وي او دی او هیڅکله دغه واکمنان په دغه ملکیت کې دحقیقي مالک په توګه د تصرف حق نلري. هغوی باید ددغه کور ځارنه وکړي، ساتنه یې وکړي، خدمت یې وکړي، اباد یې کړي، دغلو او لوټمارو یې وساتي، مګر هیڅکله ددې حق نلري چې په ملکیت کې نامشروع او ناروا تصرف وکړي. ددغو ناروا او نا مشروع تصرفاتو پایله مورډ په خپلو سترګو ولیدله مورډ یې هم دااوس اوس عینې ژوندي شاهدان یو چې د ۱۳۵۷ هـ ش کال او دهغه نه وروسته ځینو نااهلو واکمنانو ددغه نظارت او خدمت څخه ناوړه استفاده وکړه.

اوس هم دامریکا سره د ستراتیژیکو اړیکو په نامه چې کومه لوبه روانه ده او مطلب یې په دغه مشاع کور کې د امریکا ناروا اړو جوړول اوترډیره پاتې کېدل دي ترڅو په دې ترتیب سره د ځینو کسانو چې لا له وړاندي یې له دغه بدغوني وجود څخه دځان په ګټه شخصي استفاده کړی ده او خپلوحقیقي حقدارانو په حقوقو یې خیټې اچولې غیر مشروع او ظالمانه تصرفات دي چې د غصب، ظلم او زور مانا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچې وړاندې مو خبره سپینه کړه چې څوک په دغه مشاع کورکې دناظر، بزګر او مزدور پرته دنورو ملکي تصرفاتو حق نه لري ماناداده چې منتخب خلک دغه صلاحیت لري اما هغه کسان چې دبل پر اوږو او ټانکونو سپاره راغلي اودپردوپه فشار، زور او پردې ارادې سره په خلکو واکمنان اوتپل شوي دي ددغه صلاحیت او حق څخه هم نشي برخمن کیدلای.

امریکایي یرغلګرو ته په دغه هیواد کې اډې ورکول د خلکو په ملکیت کې بې صلاحیته تصرف دی ځکه چې:

اول: امریکاهمداسوس د افغانستان د اکثریت ملت سره په جنګ کې ده کوم چې دامریکا دلنډ مهال حضور او وجود هم نشي زغملای، نود اوږد مهال وجود خو بیخي تصور هم نشي کیدلای، همدغه افغانان ددغه ملکیت حقیقي شریکان او مالکان دي،امریکاته اډې ورکول ښکاره د افغانانو د مشروع او حقیقي ملکیت غصب دی کوم چې هیڅ یو څوک ددغه غصب حق نلري.

دویم: په اسلامي اوشرعي توګه د وسلوالو غیر اسلامي قوتونو وجود په یوه اسلامي هیواد کې په هیڅ دلیل نشي تعریف کیدلای، مورږ دغیر مسلم د وجودلپاره درې نومونه لرو، اول ذمي، دویم مستأمن، دریم موالات دی، ذمي ځکه نشي تعریفېدلای چې هغوی په کامله توګه پردي دي،مستأمن ځکه نشي تعریفېدلای چې برعکس مورږ تر ې د امان اړتیا لرو اودوی په مورږحاکمان دي، امادموالاتوشرطونه خوډېردي یومهم شرط دادی که ددنیاپه هرګوټ کې دمسلمانانوسره هغوی جنګیږي ددنیاپه هغه بل ګوټ کې ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

میثاق او ایتلاف کول ناروا کیږي، اوس خو امریکا ددنیا بل ګوټ لا څه ؟ په خپل کورکي درسره جنګیږي اوداسي نور..... نو کله چې ددوی د وجود لپاره دا تعریف ریښتونی نشي نو ددوی دوجود پرېکړې به په کامله توګه د اسلام داصل سپیڅلي محور ماتول وي. کوم چې د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې هم دغه ماده غیر قابل تعدیل ده، نو که داپریکړه احیاناً په اکثریت سره هم وي باطله ده او هیڅوک، که لږ وي که ډېر وي دداسې پرېکړو او فیصلو حق نلري کوم چې د اسلام محور ماتوي.

دریم: افغانستان عملا تر اشغال لاندې دی، اشغالګر په تمامه مانا خپل کارپه خپله خوښه کوي، خلک بې محکمي اوبې کوم منلي دلیله وژني، بندیان کوي یې هرهغه څوک چې د دوی په وړاندې لږ مخالفت وکړي هغه بیله دې چې دچانه پوښتنه وکړي وژني، دافغانانو په کورونوبیله کومي اجازې دشپې او دورځې ورننوزي، هره لوبه اوتوهین چې یې زړه غواړي هغه کوي،هیڅ داسې دیني اوکلتوري ارزښت نشته چې دهغه توهین یې څوځوځله نوې کړی، ددوی په خوښه رئیس جمهور د ناوسي او بې وسي اوښکې د خلکو او ملت په وړاندې څوځوځله تویې کړې دي، نوپه داسې اشغالي حالت کې طبیعي خبره ده چې هره فیصله او ټرون به داشغال ګرو په خوښه اوګټه کېږي او ددوی د خوښي فیصله او ټرون هیڅکله د افغانانو فیصله او ټرون نه بلل کېږي نو له دې کبله داسي فیصله او ټرون باطل او مردود دي.

څلورم: درئیس جمهور په شمول ټول هغه واکمنان چې یو څه اختیار او واک لري د امریکا په مستقیم کمک ،مشوره اومرسته واک او قدرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته رسېدلي دي. دهغوی په مرستو پایې، دهغوی په پیسو غوښې اخلې دهغوی وجود د ځانونو د بقا یوازنی وسیله بولي نو لدې کبله هغوی هرو مرو غواړې چې امریکا ته د اډو ورکولو زمینه برابره کړي او ددې هدف لپاره په نامه څو معلوم هغه کسان راوغواړي د کلي او ټاټوبي د غېړې وتلي دي او هغوی ته د ولس دنماینده ګانو نوم ورکړي لکه چې په پارلمان اوسنا کې دا ټکې برګې لاله وړاندې ددغه نامشروع هدف لپاره وشوې، نو ددادول شخصي بقا لپاره ددا سې سمبولیکو نمایشي او دټګیو ډکو دسیسو پربکړې هېڅکله د ملت پریکړې ندي.

پنځم: دافغانستان ستونزه د سره د پردیو ګوډاګیو افغانانو او پردیو په لمسون راپیل شوې وه چې لاهم تر اوسه دغه پروسه د معصومو افغانانو په وینو چې په یوه او بل نامه وژل کیږي روانه ده نو ددغه ستونزو ابعاد تر ډېره په سیاسي او اقتصادي بنسټونو ولاړ دي، امریکا ته دایمي او یا لنډمهاله اډې ورکول به زمونږ هیواد د دایمي رقابت دلوبو ډګر وګرځوي چې لوبغاړې به یې قوي او مونږ به بې قوته یو، همیشه به دچا خبره د ګندګیو کټورې زمونږ په سرونو ماتیږي، داچې یو څو اشخاص په قدرت کې پاتې شي اودهیواد ټول وګړي په یوه دایمي لاینحله بحران کې لاهو شي، داسي پربکړه په ګلي توګه ملي صبغه نشي خپلولای.

شپږم: امریکا تراوسه پورې په افغانستان کې یو سل او دېرش زره افغانان په شهادت رسولي دي، تر دې سوه زره ډېرافغانان یې معیوب کړي دي. ترپنځه سوه زره ډېر ماشومان یې یتیمان کړي دي. تر سل زره ډېرې تورسرې یې کونډې کړې دي، تر یو نیم میلیون ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانان یې د کور و پربښودلو ته مجبوره کړي دي، تر یو میلیون زیات ولاړ آباد کورونه یې د خاورو سره خاورې کړي دي. تر دې سوه زره ډبر کسان یې په یوه نامه او بل نامه سره توهین کړي او بندیان کړي دي، نو ددغه ټولو ورانیو او کرکو په نظر کي نیولو سره هیڅوک د دې صلاحیت نلري چې بیا ددغو معصومو قاتلانو ته په خلکو باندې د تل لپاره حاکمیت ورکړي اودتل لپاره دملت غاړې ته دغه دغلامۍ ځنځیرورواچوي، د داسي پریکړو کول دملت سره دخیانت کولو څخه بله هیڅ مانا نلري.

اووم: کله چې دامریکا لپاره افغانستان دنظامي هډوځاله وګرځي معلومه خبره ده چې دوی به له څه وخت وروسته دګاونډیو هیوادونو په ضدزمونږ خاوره استعمالوي چې دابه دتل لپاره زمونږ ،ګاونډیو اودسیمودهیوادونوترمنځ دستونزولامل وګرځي. داچې دکوریا هیواد په څېر به ددوی فحاشي نوره هم په هیواد کې زیاته شي او داسې نور... هغه نوبیخي یوه کتاب ته ضرورت لري نوپه هم دغودلایلوسره ویلای شوچې دپردیووجودهیڅکله زمونږدهیوادپه ګټه نه دی اوهیڅوک ددې کارصلاحیت نلري چې مارته په لستونې کې ځای ورکړي.

دیوه افغان په توګه زما مشوره د کرزي صاحب په شمول هغو کسانو ته چې د دې کار زمینه برابره وي داده چې دداسي هڅوڅخه ځانونه اوملت وژغوري او دملت پربکړې ملت ته پربږدي، خپل ځانونه امریکایانو ته د جواب په ورکولو کې داسې ببواکه وښیې لکه ملت ته چې یې څوڅوځله د بې وسې او ناوسې اوښکې په مخفي توګه اوهم دمیډیا په وړاندې تویې کړې. داحقیقت دی چې هم دومره اوتردې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات بې وسه دی، د خپلو خلکودوینو په دفاع کې عاجز راغلی دی، ادراه یې د ملت په ځای د یو څو زورځواکو په قبضي کې راغلې ده چې کومې لوبې وربانديې کوي هغه وربانديې کولای شي،ترحقیقوتونویې مصلحتونه ډېره ترجیح لري، د ملت سره یې مسافه دومره زیاته شوې ده لکه ځمکه او اسمان چې سره لیرې دي، دملت باور وربانديې د صفر نه هم هغه بلې خواته اوښتی دی، نو ښه به داوې چې دداسې پربکړو څخه ډډه وکړي چې دهیوادراتلونکی ورپورې تړلی وي اود ټول ملت توافق ته اړتیا لري، تردې چې دغه زمینه هم باید مساعده او برابره نکړي چې د لوبې یا مشورتې جرګې په نامه یو څو کسان د بډو او پیسو په زور سره راغونډ کړي اوبیا دغه ناروا ظالمانه او ناځوانه بې انډوله یرغل ته په درغلي او درواغو لږ څه قانوني صبغه ورکړي، امریکایانو ته دې په ځغرده ووایې چې دا فیصله په ټول ملت پورې اړه لري ترڅو چې ملت په کامله توګه ارام او مستقل شوی نه وي دداسي پریکړو کول ناشونی کار دی، اودابه ددوی لپاره یوه تاریخي بهانه هم شي، که باالفرض داکار وشي نوله یوې خواهیڅ ملي اواسلامي مشروعیت نلري اوبل داچې په هیوادکې به ستونزي نوري هم زیاتې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په ستونزو کې اقتصادي څرک

ډاکټر نیرو

درنو لوستونکو ! تاسو ته جوته ده چې په وروستیو دریو لسیزو کې افغانستان د ټولنیزو ناخوالو تر څنګ یو جګړه ییز ډګر هم دی، چې په وروستیو څو لسیزو کې د بېلابېلو ایدیالوژیو او ځبرځواکونو د سیالیو مرکز هم وګرځېد، چې اوسمهال هم د افغانستان په ډېرو سیمو کې جګړه روانه ده او داسې ځایونه شته چې له ورځې مرکزي دولت واک پکې چلوي او وروسته له ماځیګره هلته د طالبانو واکمني وي او شریعت پلی کوي، خو د لویدیزو رسنیو د راپورونو پر بنسټ د افغانستان په ۷۵ سلنه خاوره نن سبا بیا هم طالبان واکمن دي.

په دغه لیکنه کې به د افغانستان شخړو ته د اقتصادي زاویې له اړخه یو ځغلنده کتنه وشي او په افغانستان کې به د دغه دېرش کلنې جګړې اقتصادي شالید وسپړل شي او له امکاناتو سره به سم ځینې اقتصادي او کېدی شي ټولنیز اړین سپارښتونه وشي، چې د افغانستان په راتلونکي کې ورته پام وشي او افغانستان په خپل اقتصادي ابولوشن یا پرمختګ کې پرته له لویو ټولنیزو ناخوالو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل عادي خوځښت او وده وکړي او په افغانستان کې د لږ تر لږه ۲۵ میلیونو خلکو لپاره د ژوند یو سوکاله او هوسا سیمه وګرځي.

د نړیوالو څېړنو پر بنسټ د افغانستان کلني ملي تولیدات له ۲۱ تر ۳۰ میلیاردو ډالرو اټکل کېږي، چې د افغانستان اساسي تولیدات زراعتي لکه: حبوبات (غنم، وربشې، زغر، کونجد، وریژې)، سبزیجات، میوه جات، پومبه، اپین او څاروي دي. پرته له دې د افغانستان طبیعي زېرمې لکه لاجورد، زمرد، مالګه، سکاره، مس، وسپنه، سره زر، نفت، ګاز، یورانیم او همدا ډول ډېر مینرالي او یا فوسیلي د سون د توکیو زېرمې هم د افغانستان په ستراتیژیکو شتمنیو کې شمېرل کېږي او د دې تر څنګ د افغانستان وړې، غالۍ او د قره قل پوست د افغانستان په تولیداتو کې خپله پانګه لري. له افغانستانه دغه ټول مواد یا صادرېږي او یا هم په یوه وړه کچه په افغانستان کې کارول کېږي.

د افغانستان ۲۲ ٪ صادرات له هندوستان سره دي، ۲۱ ٪ له پاکستان سره، له امریکې سره د افغانستان صادرات ۱۴،۲ ٪، له انګلستان سره ۲،۳ ٪، له ډنمارک سره ۵،۵ ٪، له فینلینډ سره ۴،۳ ٪ او پاتې له نورو ملکونو سره دي. باید یاده شي، چې د افغانستان واردات زیاتره خوراکه مواد، تخنیکي توکي، برېښنایي توکي، ټوکر، ساختماني مواد او داسې نور د استفادې وړ شیان دي. له پاکستان سره د افغانستان واردات ۳۷،۵ ٪، له امریکا سره ۱۱،۹ ٪، له آلمانه سره ۷،۱ ٪، له هندوستان سره ۵،۱ ٪ او پاتې له نورو ملکونو سره دي. باید یاده شي، چې د افغانستان واردات په ۲۰۰۵ کال کې ۳،۵ میلیارده او په ۲۰۱۱ کې ۵،۳ میلیارده ول، خو بیا هم د افغانستان ۲۰ میلیونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک د لوږې له ګوابښ سره مخامخ دي، شپېته زره مېرمنې د کابل په ښار کې دروبزه کوي او یونیم لکه ماشومان د کابل په کوڅو کې ګدایي کوي.

د (Michael O`Hanlon of the Brookings Institution) داسې څرګندونې کوي، چې افغانستان خپل عایدات په اوسنیو شرایطو کې تر ۱۰ میلیاردو ډالره د مینرالي موادو له صادراتو تر لاسه کوي او که په مملکت کې امنیت وي، نو دغه صادرات کېدی شي، تر ۲۰ میلیاردو ډالره ورسېږي. د امریکې د جیولوژیکي سروې انستیتوت (United States Geological Survey-USGS) ښودلې ده چې د افغانستان په شمالي سیمو کې ۱،۲ بیلیونه بېلره تېل، ۴۴۰ بیلیونه کوبیک متره طبیعي ګاز او ۵۲۲ میلیونه (بیلیون بېلره) طبیعي مایع ګاز شته دي. په بله څېړنه کې ښودل شوې ده، چې افغانستان د لیتیوم، مس، سرو زرو (طلا)، وسپنه او نورو مینرالونو مخزن دی، چې د امریکا د پنتاګون په یادښتونو کې لیکل شوي دي، چې افغانستان ته کېدی شي «د لیتیوم سعودي عربستان» وویل شي او د افغانستان د مېنرالونو ارزښت له یو تریلیونه تر ۳ تریلیونه ډالره اټکل شوی دی. دلته به یاده کړم، چې د امریکا پور نن سبا ۱۵ تریلیونه ډالره دی، اما د افغانستان یوازې مینرالونه ۳ تریلیونه ارزښت لري، خو د امریکا نفوس د افغانستان په پرتله لس ځله ډېر دی او امریکا ځان نړیوال ځبرځواک او نړیوال پولیس بولي، مګر افغانان د یو او بل وینې څښي.

د افغانستان په بانکي سیستم کې تر ۱۲ خصوصي او دولتي بانکونه لکه د افغانستان بانک، پښتنې تجارتي بانک، کابل بانک، عزیزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بانک او داسې نور فعال دي. افغانستان کې د آریانا تر څنګ کام آیر، پامیر آیر او صافي آیر خپلې هوایې لیکې فعاله کړې دي، چې په افغانستان کې ۵۳ واړه او لوی هوایي ډګرونه د الوتکو د ترانسپورت او ترافیک لپاره کارول کېږي. د افغانستان د یو شمېر سیمو سړکونه، چې د مملکت په اقتصاد کې غوره اغېز لري پاخه شوي دي، خو د افغانستان اداره په فساد کې لاهو ده.

کله چې د اقتصادي ودې دغه بنسټیز واحدونه جوړ شوي دي، نو ستونزه په څه کې ده؟ اوس به راشو د دغو طبیعي نعمتونو، سیاسي کړکېچونو او افغاني ټولنیز ژوند ستونزو ته یو نظر واچوو، چې په دې برخه کې زموږ سره یو شمېر داسې پوښتنې راپورته کېږي، چې ځواب به یې هم ما ته او هم نوروو ته ستونزمن وي، خو یوه خبره جوته ده، چې د افغانستان په اوسني حالت کې خوار نور هم خوارېږي او بډای نور هم بډای کېږي، نو د زورواکانو په اړه به څه ولیکم، هغوی خو اوس هسې هم د مملکت شتمن، بانفوذه او واکمن خلک دي، خو دځینو په اړه یې کېدی شي یوه لنډه سپرنه وشي، چې د لیکنې پایله اسانه شي.

لومړی به دا ووایو، چې په وروستیو دېرشو کلونو کې د افغانستان اینفروسترکچر یانې اداري سیستم، تعمیراتي سیستم، ترانسپورتي سیستم او داسې نور ټول له منځه ولاړل یانې له منځه یوورل شول، په دغه ګډوډي کې د افغانستان څو میلیونه خلک ووژل شول، معیوب شول، بې سترې شول، بې سرپرسته شول او یا مهاجر شول، خو برعکس یو شمېر خلک، چې عادي ژوند یې درلود نن سبا د افغانستان مطرح خلک شول او په ټول مملکت واک چلوي او مملکت

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې په خپلمنځیو ښځړو کې ښکېل کړی دی، نو زه به یو دوه تنه له هغوی نه یاد کړم.

عبدالرشید دوستم د افغانستان د جوزجان ولایت د یوې ولسوالۍ اوسېدونکی و او د سرې غمیزې په پیل کې د تفحصاتو یو کارګر و او تر شپږمه یې لیک لوست کړی و، خو نن سبا د افغانستان د نظامي ځواکونو لوی درستیز دی او د سر قوماندان اعلی مرستیال. په څو ولایتونو کې کورونه لري، په ګڼشمېر شرکتونو کې سهمیې لري او د افغانستان له پیاوړیو زورواکانو څخه شمېرل کېږي. د دغه ښاغلي، یوه مېرمن په تاشکند کې ژوند کوي او بله یې په ترکیه کې، یوه یې اوزبکه ده او بله یې پښتنه، خو دی په شبرپور کې ژوند کوي او په مې او عېش کې لاهو دی، چې وغواړي، نو د اکبر بای پر کور پرته له پوښتنې ورننوځي او د هغه کورنۍ په هر ډول چې غواړي سپکوي یې، خو د افغانستان ولسمشر بیا پټه خوله د یو څو ورځو لپاره دوستم ترکیې ته د ساتیریو لپاره لېږي! مګر د افغانستان عام اوزبک خلک د ننو سبا ډوډۍ پسې ستړي ستومانه ګرځي او د ایتنیکي شخړو نه وېره لري.

ښاغلی حاجي محقق صیب هم خپل تېر ژوند په یوه ویدیو کې داسې څرګندوي، چې خپله دی وایي، چې «سابق خر سواري مېکردیم و حال د کاډیلاک ضد مرمي سوار مېشویم» او وروسته بیا ډېره مجلله ډوډۍ خوري، چې ژورنالیست د پلو د غوښې په اړه ورنه پوښتي چې «محقق صاحب اي چیه؟» نو ښاغلی محقق ورغبرګوي، «نه شناختي اي مایچست مایچست، مایچې ګوسفنده!»، دغه ښاغلی هم نن سبا د افغانستان مطرح سړی دی او آرګاه او بارګاه یې نه شمېرل کېږي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه دا ده، چې زمونږ د هزاره ورونو خو اوس هم هماغه رسۍ په غاړه ده او د خپل همت او منت ډوډۍ ګټي، چې له شپې د پارسیان خبره «شکم ګرسنه اش قروتک مېنه»، خو مشران یې سره له خپلو کورنیو چرچې کوي، مګر خپل هزاره ټبر یې له پښتنو، تاجکو او اوزبکو سره ښکېل کړی دی، چې دغه ټولنیز پرهارونو به په لسهاو کلونو جوړ نه شي او د هزاره او نورو ټبرونو تر منځ به بې اعتمادي تر ډېره مودې موجوده وي یانې د شویه او عمري شعار به وایي.

د شورای نظار غله ښخي ډېر دي، خو زه به د مرحوم جنرال داود داود هغه مرکه چې د ۲۰۰۷ میلادي کال د سیپتامبر په نهمه نېټه یې د طلوع له تلویزیون سره کړې وه او په یوټیوب کې موجوده ده، پر هغې به بسنه وکړم. له دغه جنراله د مقاومت په اړه پوښتنه کېږي، چې تاسو د خپلو نظامیانو او جګړې لګښتونه له کومه کول؟ جنرال صیب داود داود وایي، چې «واقعاً یک نقطعه جالبی است، که مردم افغانستان باید بفهمد. همین مقاومت با همین بزرگی و عزمتش سختترین و مشکلترین دوران خود را میگذراند از نظر مالي و تجهیزات نظامي و این یک رازي بود که تا به آخر محفوظ و مکتوب ماند، که دشمن های افغانستان باید نفهمند و مردم افغانستان که در مقاومت هستند اینها هم باید درک نکنند که افغانستان در چنین مشکلات است. آمر صاحب با کمترین امکانات مالي که از طریق گرفتن یک نوع صلاح های که به جهاد بدرد نمیخورد، اینرا خریداري میکرد و میفروختند، که ازین طریق مقدار پولي بدست مېآمد و در دوسال اول مقاومت ادامه میکرد. بعداً درین قسمت یک نوع تجارت مشروع را آغاز کرده بود!» نو په دې برخه کې پوښتنه کېږي، چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مواد تجارت چی بود؟ او مرحوم جنرال صیب وایي:«انواع مختلف مواد بود، زمرود، یکمقدار زمرود که در پنجشېر بود، تاجرا کار زمرد میکردند و مېخرېدند، از تاجرا جبهه اینرا میگرفت و جبهه اینرا میفروختند. مفادش به جبهه مصرف میشد و پس اصل پول به تاجرا داده میشد. در حال حاضر شاید چند میلیون دالر از همان طریق جبهه از تاجرای پنجشیر، کسانی که زمرود میفروشند، قرضدار باشد»، مرحوم جنرال صیب د ایران، تاجکستان، روسیې، اوزبکستان، لوېدیزې اوروپا او امرېکې بلاناغه مرستې نه یادوي، مګر دومره وایي چې: «کشور های دوست (ایران، تاجکستان و امثال آن) نا امېد بودند»، ځکه نو د امرېکا نېغ تېري ته اړتیا پیدا شوه.

درنو لوستونکو! په دغه خبرو کې د صلاح او د مینرالي موادو د قاچاق خبره ده او په جبهه کې مافیایي سیستم ته ښودنه کوي. د افغانستان د زمرود او لاجوردو د قاچاق په اړه ډېر مستند فلمونه او راپورنه لیکل شوي دي، چې د شمال ټلوالې لخوا د ایران، هند او پاکستان په بازارونو کې یې «مشروع» یانې قاچاقي تجارت تر سره کېده. له طبیعي زېرمو پرته د مقاومت د جبهې په مافیایي سیستم کې د اپینو تجارت هم په زغرده روان و، چې په بدخشان، تالقان او کندوز کې کرل کېدل. په بدخشان کې د اپینو بارون یا مشر نصیر چونټه دی، چې یوې ژورنالیستې یې په اړه ویلي، چې رباني د نصیر چونټه یا مجاهد په متې په کابل کې ورځي او پرځي!، که نصیر چونټه یا بدخشي نه وي، نو رباني ته به په کابل کې څوک نه چې غورې هم و نه نیسي، خو سر به هم ورته ونه ګروي او نصیر چونټه هم د آلمانانو په نظامي روغتون کې تداوي کېږي. پرته له دې د افغانستان د زمرودو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یا نورو قیمتي تیږو زېرمې په غیر مسلکي توګه کېندل کېدلې او یا الوځول کېدلې او دا غله اوس هم په پرېمانه پیمانه روانه ده، چې طبیعي زېرمو ته دغې غلې ډېر تاوان رسولی دی او د افغانستان غله یې نن سبا هم د دایناميټ په چاودنې تر لاسه کوي. په دې اړه یوې څېړنې ښودلې وه، چې که د افغانستان زمرود او یا نورې قیمتي تیږې د ۲۰ میلیونو ډالرو سره تبادله شي، نو باید پوه شو، چې د دغو قیمتي تیږو ارزښت ۱۰۰ میلیونه ډالره دی او هغه زیان چې دایناميټ د زمرودو او لاجوردو زېرمو ته رسولی تر سلهاوو میلیونونو هم ډېر دی. اوسمهال د زېرمو ورانول او د قاچاقو تجارت یې په غیر فني بڼه روان دی.

د افغانستان بزګر د اپینو د مافیا په لاس کې ښکېل دي، په افغانستان کې یو کیلو ګرام اپین په ۲۵۰ ډالره دي، چې د افغانستان مافیا یې تر اخلي او په پاکستان کې یې کیلو ګرام په ۱۵۰۰ ډالره خرڅېږي، په تاجکستان کې بیا ۲۰۰۰ ډالره په یو کیلوګرام اپینو اخلي، چې اساسي پیسې بیا په ترکیه، لوېدیزه اروپا او امریکې کې په ګټل کېږي. د شمال اپین بیا له تاجکستان او اوزبکستانه د مسکو بازار ته رسي او له روسیې نه لوېدیزې اروپا او د نړۍ نورو سیمو ته انتقالېږي، نو د افغانستان بزګر صرف هماغه ۲۵۰ ډالره په نصیب کېږي، اصلې پیسې خو نور ګټي، مګر قرباني یې افغان ولس ورکوي. د افغانستان پښتانه هم پرېښتې نه دي، د افغانستان د جنوب شرق او جنوب غرب ځمکې هم په اپینو لړلې دي چې د پښتني مافیایي ډلو له خوا پاکستان ته او له هغې ځایه د نړۍ نورو سیمو ته لېږدول کېږي. په سلهاوو حتی په زرهاوو کسان د اپینو د ترانسپورت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او قاچاق په ترخ کې قرباني کېږي او په سیمه کې جګړه روانه ده. د ملګرو ملتو د څېړنو سره سم نن صبا په افغانستان کې تر یو نیم میلیون په هیروئینو روږدي خلک موجود دي. چې د افغانستان ټولنې روغتیایي سیستم، امنیت او اقتصاد ته یې ستر ګواښ جوړ کړی دی.

د پورته یادو شویو پېښو په اړه زمونږ ذهنیت مونږ ته څه را په ګوته کوي. لومړی خو دا چې د پنجشېر او یا هم د افغانستان په بله سیمه کې طبیعي زېرمې ملي شتمنۍ دي او د ټولو افغانانو حق دی، داسې نه شي کېدلی، چې د پنجشېر څو تجاران او یا هم د جبهې څو داړه ماران پرې خپټه واچوي او چرچې په وکړي. بل دا چې دغه ستونزه یوازې په پنجشېر کې نه وه بلکې د شمال په بل ولایت یانې جوزجان کې د افغانستان نفت چې توره طلا هم ورته ویل کېږي په غیر فني بڼه له ځمکې را ایستل کېدل او د قاچاق په بڼه پلورل کېدل، د شبرغان په لب جر کې یې په سلهاوو له نفته د تېل ایستلو غیر فني آلې نصب کړې وې او د جنبش د ډلې قاچاق بڼه په درز پکې روان و.

نن سبا په افغانستان کې څه تېرېږي؟ د امریکا له تېري وروسته په افغانستان کې د یو تریلیون ډالرو په شاوخوا کې ښکته او پورته شوي دي. د افغانستان ملي شتمنۍ یا ووېشل شوې او یا هم چور شوې. په لکهاوو هېکتاره ځمکه غصب شوې ده. افغانستان په مافیایي اداري سیستم اوښتی دی. اوسمهال د دغه ټولنیز انارشیزم په ترخ کې په ټولنه کې یوه ځانګړې طبقه جوړېږي، یانې هغه طبقه چې دومره بډایه او پیاوړې وي، چې د افغانستان د امنیتي ځواک او کارګري توان اختیار ولري، چې د افغانستان راتلونکې دوی تعین

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي او له نړیوالو کمپنیو سره ګټور قراردادونه وکړي او د هغوی هدفونه په سیمه کې خوندي کړي.

په امریکا، روسیه او داسې نورو ملکونو کې هم مبارزه د هغو ګوندونو تر منځ روانه ده، چې ډېر ډېرای خلک پکې غړیتوب لري او د ګوندونو په سر کې ناست دي او یا داسې ډله لري، چې د مملکت له شتمنیو د واک ساتلو لپاره تأمینیږي، که اړتیا پېدا شي نو په اوپراتیفي پیسو نازول کېږي، چې د انتخاباتو پر مهال د ټولنې د خلکو د تسکین لپاره یو په زړه پورې کاندید د ولسمشري لپاره د نسبي رقابت پر بنسټ وړاندې کوي.

په امریکا کې د جمهوریت غوښتونکو او ډیموکراتانو ګوندونه دي، چې د امریکا ولسمشري سیالي یوازې د دغو دوو ګوندونو په چوکاټ کې ممکنه ده، نو د دغو دوو ګوندونو تر څنګ د بل ګوند جوړېدل او یا فعالیت کول ناممکن دي، ځکه چې پیسې د دغو دوو ګوندونو د ډډایو غړیو په لاس کې دي او که په انتخاباتو کې یې اوباما وګټي یا کوم بل، مګر پر دواړو حالاتو کې د دغه ډډایو ژوند، واک او تجارت ګرنټي دی. په روسیه کې یو وخت د کمونیست ګوند و، چې نور یې ټول له منځه یووړل او یکه تازي یې کوله او اوسمهال د پوتین ګوند دی، چې په روسیه کې یې غوړنجوي، نو په افغانستان کې هم د داسې یوې ډلې د رامنځ ته کېدلو هڅه کېږي، دا چې ولس وږی پاتې کېږي او یا هم قرباني ورکوي، نو د پیسو ګرداب کې هغوی نه لیدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان باید څه وکړي، چې له دغه ستونزمن حالته ځان خلاص کړي او د سیمې او په نړیواله کچه خپل مملکت یو مطرح مملکت وګرځوي او خپلو خلکو ته یو هوسا او آبرومندانه ژوند ورپه برخه کړي. دغه هدف ته د رسېدلو لپاره د افغانستان فکري پوتنشل په څه ډول چمتو شي او د ښکېلو ډلو نه په څه شکل یوه داسې اداري هسته رامنځ ته شي، چې د ټول افغانستان په ګټه وي او خلک یې وکولی شي، لکه په نورو ملکونو کې د ژوند لومړني اړین شیان لکه: کور، کالي، ډوډۍ، سمه روغتیا پالنه، د تحصیل او کار امکانات، د کورنۍ جوړول، پرته له وېرې د خپلو دیني مقدساتو پر ځای کول او په امنیت کې په یو قانوني مملکت کې ژوند کول، ودرلودلی شي.

د یو مملکت په وده کې ټولنیز اینفروسترکچر او اقتصاد ډېر غوره دي. په ښه اداره کې د ښه اقتصاد امکانات رامنځ ته کېږي. ښه اداره په ځانګړې توګه او صادقو خلکو رامنځ ته کېدلی شي، چې د بډایي حرص و نه لري. د ښه اقتصاد لپاره د تجارت امکانات باید داسې رامنځ ته شي، چې د امنیتي او ترانسپورتي اړخ یې ستونزې ونه لري. د زراعت په برخه کې هم د زراعت د میکانیزېشن او د مملکت د صنعتي کېدلو اړخونه ډېر غوره دي، نو دغو موخو ته د رسېدلو لپاره باید څه وشي، دا هغه پوښتنه ده چې د هر ملتپال افغان زړه پرې درد ږغي.

باید یاده شي، چې یو مهال په افغانستان کې د افسوټر کمپني له روسانو سره ګډه جوړه شوې وه، چې تجارتي توکیو د ترانسپورت په موخه کارول کېدله. تېر مهال افغانانو د غنمو دومره تولید درلود، چې په ۱۹۲۰ کلونو کې یې اتحاد شوروي ته هم صادرول او د نړۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرو هوټلونو کې د افغانستان زیتون خرڅېدل، خو نن سبا افغانستان د نورو ملکونو اوړو او غنم ته اړ دی او د ملګرو ملتونو د غنمو او اوړو مرستې ترلاسه کوي، نو اوس به یو شمېر سپارښتونه دلته یاد شي، چې د افغانستان د اقتصادي سیستم د ودې لپاره به ګټور وي.

۱ – د افغانستان د لویو لارو پخول او د افغانستان هرې سیمې ته د سړک غزول، چې اړین تجارتي مواد (خوراکي مواد، جامې، ټوکر، برېښنایي آلې او داسې نور) په اسانۍ سره ورسول شي او له نورو ملکونو سره د ترانزیتي ترانسپورت او ترافیک پیاوړی کېږي.

۲ – د افغانستان د صنعتي کېدلو لپاره د برېښنا د تولید د بندونو جوړول، په هره سیمه کې چې وي، که نن جنګ پرې کېږي، خو سبا به د بل نسل ژوند پرې هوسا وي.

۳ – د زراعت په برخه کې د کوپراتیفونو رامنځ ته کول، ځکه چې د زراعت د میکانیزېشن پر مهال بزګران باید خپل د ګډ کار کوپراتیف ولري. د افغانستان د زراعتي تولیداتو کیفیت لوړول او نورو ملکونو ته یې د صادراتو امکانات رامنځ ته کول.

۴ – د افغانستان د طبیعي زېرمو نه په مسلکي توګه استفاده کول او د ټول ملت د پرمختګ او د خلکو د هوسایني لپاره د دغو تولیداتو له ګټې سم کار اخیستل او د ټولو سیمو په نظر کې نیولو سره د ګټو کارول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ – د افغانستان د ترانسپورتي او ترافیکي سیستم لپاره د لویو لارو ترڅنګ د ریلګاډیو پټۍ یا لیکې جوړول، چې د ریل دلارو یو سیستم ولري، نه دا چې له پاکستانه به پاکستاني پټۍ غزول کېږي، له ایرانه به ایراني وي او له روسیې (اوزبکستان او تورکمنیستان) نه به روسي پټۍ غزول کېږي، چې دغه دریځ د افغانستان د اقتصاد په تاوان دی.

۶ – د افغانستان د ترانزیتي لارې نه سمه او مناسبه ګټه پورته کول، نن سبا افغانستان د منځنۍ آسیا او د هندو-چین او د هند د بحر د چاپېریال ملکونو یو لویه مهمه او لنډه ترانزیتي لاره ده، د دې لپاره امنیتي ځواکونه پکار دي.

۷ – ښوونه او روزنه، روغتیا، امنیت د پورته یادو شویو موخو د تر سره کولو تضمین دي، چې پرته له پوهې، جسمي روغتیا او ټولنیز امنیته په ټولنه کې هېڅ هم نشي تر سره کېدلی. د کاري ځواک لپاره د کارموندنې اساسي شرایط رامنځ ته کول او په کار کې د خلکو ګومارل پرته له قومي او ژبنې تبعیضه به د افغانستان اقتصاد ته ډېره ګټه ورسوي.

پایله

افغانستان یو وروسته پاتې، جنګ ځپلی هېواد دی، چې له بېلابېلو ټولنیزو، سیاسي، تخنیکي او امنیتي ستونزو سره مخامخ مملکت دی او پوهنیز پوتنشیل یې هم ډېر ټیت دی، نو په دغه ډول ستونزمن حالت کې د افغان ولس څه وکړي، چې هم ځان له غلو او چپاولګرو خلاص کړي او هم خپل مملک خپلواک او پر مختللی کړي. د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره افغانستان یو سیاسي ګوند ته چې د افغانستان ملي ارزښتونه لکه د افغانستان تمامیت ارضي، د اسلام مقدس دین، د افغانستان د اکثریت ملت پښتنو ژبه لکه د افغانستان ملي ژبه ومني. په دغه ګوند کې صرف افغانستان ته صادق او د افغانستان ملت ته ژمن خلک چې څانګپوه وي پکې غړیتوب ترلاسه کړي او د افغانستان په چارو کې صرف قانونیت ته غاړه کښږدي نه مصلحت ته! په فعلي شرایطو کې د افغانستان مقاومت یو اړین خوځښت دی، چې د افغانستان خپلواکي تضمین کړي او د افغانستان په ګټه د افغانستان جیوپولیتیک موقعیت او ترانزیتي لاره د ګاونډیانو او ځبرځواکونو تر منځ تثبیت کړي. کله چې دا ډول یو ګوند رامنځ ته شو او د ملي امنیت سیستم په افغاني ذهنیت جوړ شو، نو بیا افغانان کولی شي له پرمختللو ملکونو سره د افغانستان د اقتصادي سیستم د جوړولو په اړه قردادونه وکړي. د افغانستان طبیعي زېرمې دې د ملت او هېواد د سمسورتیا لپاره وکارول شي او د افغانستان د ملي ګټو په نظر کې نیولو سره دې له پرمختللو هېوادونو سره داسې ترونونه لاسلیک شي، چې د دواړ اړخونو په ګټه وي او په افغانستان کې تلپاتې سوله تضمین کړي. پرته له بهرنیو کمپنیو افغانستان نشي کولی په تش لاس، په نشت پوهنیز پوتنشل او هېڅ تخنیکي امکاناتو د افغانستان ټولنه جوړه کړي، نو افغانان بهرنیو ته اړ دي، خو مري یې نه دي، نو د تفاهم او توافق له لارې کولی شي هېواد خپلواک، خلک نېکمرغه او ملت هوسا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د اپارتاید په لومه کې

حنان حبیبزی

یادونه

دا لیکنه د ټولنیزې (سوشیل) تیورۍ او د شخړې (کنفلکټ) تیورۍ پر بنسټ چمتو شوې ده او پر هغو اخځلیکونو ولاړه ده چې له اکاډیمک سیستم سره سم په انګریزي ښه د لیکنې په پای کې شمیرل شوي دي. هر اخځلیک ځانګړې شمیرې ته په پام سره له هغه ' نمبر سره تړاو ولري چې د متن په منځ منځ کې موندل کیږي. دا اخځونه د ثبوتونو په توګه د یوې برېښنایي څیړنې په نتیجه کې غوره شوي دي.

تاریخي شالید

د پښتنو د واکمنۍ پر وخت هیڅکله افغانستان یو ویشلی او پر قومي ګټو ولاړ هیواد نه وو. د تاجکو اقلیت په ارګ کې پوره پوره واک درلود. ددې سره سره چې دا یو اقلیت وو، په رسمي چارو کې یې ژبه د دومې رسمي هغې په توګه پښتنو وزغمله. د پښتنو واکمن پوهیدل چې ورو ورو له دې زغم څخه ناوړه ګټه اخیستل کیږي او د پښتو ژبې د ګوښه کولو هڅې روانې دي، خو بیایې هم تاجک

(c) ketabton.com: The Digital Library

توکمي ازاد پریښودل، له حقونو څخه یې پورته حقوق ورکړل. په ټولو سیاسي، کولتوري، اقتصادي او ټولنیزو چارو کې دوی برابره ونډه درلوده. ددوی درنښت کیده، ان تردې چې پښتنو هڅه کوله چې د خپلو تاجک ورونو لپاره پارسي زده کړي. د ټولنیزو چارو فیلسوف، پروفیسر سلیوچ ژیژاک په وینا ''افغانستان هغه مهال یو سلطنت درلود او د باچا د واکمنۍ ترپایه دغه هیواد ملي او مرکزي حکومت درلود، ګڼ کولتوریز سیستم وو او د افغانان ټول پوړونه راضي وو''[1].

ان د پښتنو ترمنځ ملتپالي او نیشنلسټ ډلې اوفکرونه د هغو پټو مبارزو په غبرګون کې راپورته شول چې تاجک توکمو د اقلیت ترمنځ یو شمیر کسانو د افغانستان له سیاسي حالاتو څخه په ګټه اخیستو د پښتنو په ضد کولې. د وخت په تیریدو سره چې څومره د پښتنو ضد قومي او ژبنۍ هڅې ډیریدلې، هومره پښتنو خپل ځانته پام کیده او ترمنځ یې فکري یووالی رامنځته کیده.

که تاسو په تیرو شلو کلونو کې د پښتو پر ادبیاتو، کولتور، ټولنیزو او سیاسي هڅو نظر واچوی، د پښتنو ترمنځ په سلګونو حبیبي، په سلګونو خادمان، په سلګونو رښتینان، په سلګونو بینوایان او الفتان زیږیدلي دي. په هره کورنۍ کې چې اینټرنیټ ته لاسرسي لري د پښتو ویبپاڼو یو لیکوال زیږولی دی. په دې توګه د پښتنو اکثریت په حرکت راغلی دی. د مالوماتو د شریکولو وسایلو (ویبپاڼو، ګرځنده ټلیفونو، فیسبوک، ټوایټر، سکایپ، او نورو) دوی ته دا اسانتیاوې ورکړې چې پخپلو کې کمونیکشن ولري او د مالوماتو د شریکولو له لارې پر ستراتیژیکو مسایلو خبرې وکړي. د دې سره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې عامې رسنۍ لکه تلویزونونه هغه حقایق سانسوروي چې د دوی په چاپیریال کې پیښیږي، خو رضاکارو کولتوري منډو ترړو دوی ته وس ورکړی چې مالومات په اسانۍ سره شریک کړي.

خو له بلې خوا، یو شمیر ناپښتانه افراد چې د کابل کنټرول یې په لاس کې دی، له اوسنیو شرایط څخه په ګټه اخیستو د پښتنو د ځپلو هڅې کوي. دغه اشخاص عادي ناپښتنو اقلیتونو ته د دولتي او نادولتي دندو په ورکولو سره دوی د پښتنو په ضد لمسوي. په سیستماتیک ډول لګیا دي چې د پښتنو اکثریت په سیاسي او اقتصادي ډول ګوښه کړي، پښتانه دا هرڅه پخپلو سترګو ګوري او په وړاندې یې غبرګون نښیي.

په دې لیکنه کې هدف دا نه دی چې ټول عام اقلیتونه (ناپښتانه قومونه) غواړي چې د بهرنیانو له شتون یا روانې جګړې څخه ناوړه ګټه واخلي، په سیاسي او اقتصادي توګه د پښتنو د ګوښه کولو په کمپاین کې برخه ولري.

زما لسګونو تاجک توکمي، هزاره او ازبک ملګري دي چې د پښتنو پخلاف د روانې جګړې پخلی کوي، دوی په داسې حال کې چې له دې جګړې سره مخالفت لري غواړي چې داسې شرایط برابر شي چې ټول افغانان پکې ځانونه پیدا کړي. زما دغه ملګري په دې باور دي چې د روسانو یرغل د افغانستان د اقلیتونو هغو فکرونو ته چې د محمد ظاهر شاه پر مهال یې په پټه د پښتنو په ضد حکومتي او نا حکومتي فعالیتونه کول دا چانس ورکړ چې خپله مبارزه په ښکاره د ټوپک په ځوکه پرمخ بوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما دغه دوستان په دې باور دي چې دغه فکرونه د ټولو اقلیتونو استازیتوب نه کوي بلکې د یو څو تنو اشخاصو د نظر استازیتوب کوي چې د قومي او ژبنیو مسایلو په راپورته کولو سره د قدرت او کنټرول په لټه کې دي چې ددوی په وینا د تیرو لسو کلونو راهیسې دولتي ځواک په ناوړه ډول کاروي.

دغه کسان د قدرت د ساتلو لپاره هڅه کوي چې د یو داسې سیاسي او اقتصادي سیستم مخه ونیسي چې ټول افغانان پرې راټولیدی شي. ددې دلیل دادی چې د ټولو افغانانو د راټولیدو په نتیجه کې دغو اشخاصو ته چې د امریکا په متې او ډالرو قدرت ته رسیدلي او هیڅ ډول مسلکي پوټینشیل نلري، څوک د پیاز د سپینولو دنده هم نه ورکوی.

دوی په دې پوهیږي او د خپل قدرت په کارولو سره هڅه کوي چې عام تاجک توکمي، هزاره توکمي یا ازبک توکمي لږکی بیلاري کړي او د خپلو شخصي ګټو لپاره یې استعمال کړي. ددې لپاره خپلو ځانګړو شخصي لومړیتوبونو ته په پام سره د افغانستان د اکثریت (پښتنو) پخلاف ټولنیزې، سیاسي، کولتوري او پوځي دسیسې جوړوي او په توکموژنه لاس پورې کوي.

د هیواد ترګردو لوی قوم پخلاف پر پوځي، کولتوري، اقتصادي او سیاسي محدودیتونو ټینګار او یو لوی قوم ته ددې احساس ورکول چې پخپل هیواد کې ځانونه بې هیواده وګڼي ښکاره تبعیض دی. دلته پر هغه څه بحث کوم چې د پښتنو پخلاف ددې ډلې سیاسي کمپاین بلل کیږي. دا سیاسي کمپاین د سویلي افریقا د اپارتاید د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیستم په څیر شرایط لري چې په لاندې ډول یې تر څیړنې لاندې نیسم.

مذهب د عامو خلکو پر پریکړو اغیز لري

ملا محمد عمر مجاهد چې د طالبانو مشري کوي، د روسانو په ضد جهاد کې یې برخه درلوده. دده فکري لیدلوری د افغانستان د مذهبي پوړ استازولي کوي چې پخپل ډول کې اکثریت فکر دی. ددې فکر سرچینه جومات او د جومات ممبر دی. هر جومات او د هر جومات له ممبر څخه په عقیدوي او فکري ډول کلیوال کنټرولیږي. هر نارینه، بالغ، روغ کلیوال لږ تر لږه د ورځې پنځه وخته دغه جومات ته ورځي او هلته امام پسې د الله حضور ته دریږي.

د جومات امام نه یوازې ددې کلي یو روحاني لارښود دی بلکې د مذهبي عقیدې له کبله د کلیوالو پر پریکړو اغیزلري. ددې اغیز سرچینه سپیڅلی قران او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ویناوې (حدیثونه) دي چې وخت ناوخت یې امام کلیوالو(مقتدیان) ته بیانوي. د قران کریم ختمونه، دم او دعا، د کلیوالو په خوښیو کې ګډون او د نکاح تړل، د نوي زیږیدلي ماشوم په غوږ کې اذان، په غم او بدو حالاتو کې کلیوالو ته د صبر غوښتنه، د جنازې لمونځ، دغه راز نړیوال او کورني عسکر هوایي یا مځکني برید له لارې کلیوال وژني او ملا امام یې جنازه کوي او پاتې شونو ته د خیر او زغم غوښتنه کوي.

په دې توګه ملا امام د سولې او جګړې پر وخت د عامو خلکو ترڅنګ شته دی او دوی ته خدامات عرضه کوي او د خپلو مقتدیانو کنټرول

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاس کې اخلي. ددې ترخنګ ننني ملا لکه د پخواني هغه په څیر، لږ ترلږه په اونۍ کې یوځل (د جمعې په لمانځه کې) زرګونو خلکو ته وینا کوي. دده ډیری اوریدونکي عام خلک دي. دغه ملا خپلو اوریدونکو ته د روانو حالاتو، دولتي فساد، ناوړه سیاسي، اقتصادي، کولتوري او ټولنیزو چارو په اړه د مذهب له لارښونو سره سم خبرې کوي. ان پر نړیوالو مسالو لکه د فلسطین، عراق او کشمیر پر کړکیچونو غږیږي.

د جمعې لمونځ د هیواد په ګوټ ګوټ کې، په هر جامع جومات کې ترسره کیږي او هیڅوک یې مخه نشي نیولی. دولتي اشخاص دغسې غونډې نشي جوړولی. دغه اشخاص له عادي خلکو سره نه یوازې ټولنیز اړیکي نلري بلکې ددوی د لاس لاندې ځواکونه لکه پولیس، پوځ او بهرني سرتیري ددغو کلیوالو ژوند په بیلابیلو ډولونو ګوابنوي.

ملایان له عامو خلکو سره یو ډول جامې، عادتونه او کړه وړه لري، د ژوند کچه یې د یو عادي کلیوال په څیر ده. په کابل، دوبۍ، یا کوم بل بهرني هیواد کې رنګینې مانۍ نلري. د مرمۍ ضد یا د لسګونو زره ډالرو په بیه ګاډیو کې نه ګرځي. د خلکو پر جایدادونو یې خیټه نه ده اچولې. دریشي او نیکټایي نه اغوندي، پخپلو ملي جامو افتخار کوي. عادي خلکو ته په درنده سترګه ګوري. په بله وینا له عامو خلکو سره کولتوري، اقتصادي او ټولنیز واټن نلري.

د بیلګې په توګه، که یو طالب یا ملا یو کلي ته ورشي، د هر چا میلمستون ته چې ورغی، هرڅه چې تیار وو هغه خوري، تشریفات نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړي او پر کلیوالو ځان نه درندوي، خو که د ولسوالۍ یو مامور یا یو پولیس کلي ته ورشي، له کلیوالو د تشریفاتي هرکلي تمه لري. کلیوالو چې کومه افغانۍ د خیر او شر لپاره سپما کړي وي، هغه د پولیس یا مامور په هرکلي او ډوډۍ لګوي او خپله لاس تر زنې کینې. که داسې ونکړي ښایي دغه پولیس یا مامور ورته ستونزې جوړې کړي. نو اوس به فکر وکړو چې د پولیس والو یو وزیر به څه ډول هرکلی غواړي؟

له بلې خوا، په تیرو وختونو کې د ملا او جومات په ضد لفظي کمپاینونه له ادبیاتو نیولې بیا تر ښونځیو او غیري مذهبي، سیاسي، کولتوري او عادي غونډو کې شوي دي. که پر شاعرۍ نظر واچوی، تل ملا او شیخ د پرمختګ او عصریتوب په وړاندې خنډ بلل شوی دی. د تاریخ په اوږدو کې رسمي کړیو ملا او مذهبي فکر هر وخت ګوښه توب ته هڅولی، ملا یوازې پریښودل شوی او ملایانو ته په سیاسي چارو کې بیخي لږه یا هیڅ ونډه نه ده ورکړل شوې.

تل سیکولر ایډیالوژي چې سرچینه یې ښونځي او پوهنتونونه دي واکمني کړې او په مذهبي اکثریت یې خپل فکر او ایډیالوژي تپلې ده. په دې توګه ملایان له دوه اړخونو د اکثریت امتیاز لري، یو د قومي شالید له کبله چې پښتانه دي او بل د مذهبي لیدلوري له پلوه چې د اکثریت د فکر (مذهبي فکر) استازیتوب کوي.

د ملایانو مخالفه ډله (شمال ټلواله) له یو څو اشخاصو جوړه ده، دغه اشخاص دژبتوکمیزو ناپښتنو لږکیو د استازولۍ ادعا کوي، هره ډله یې سیاسي، ژبني او مذهبي شالید ته په پام سره ځانګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجنډاوې لري. د بهرنیو پوځونو د شته والي له کبله دولتي کنټرول لري. همدا راز، د سیکولر سیستم په رواجولو او د امریکا په مشرۍ د یو بهرني یرغل د شوني کولو له لارې د پښتنو د اکثریت په ضد عملیاتو کې ونډه لري چې دغه کار د طالبانو ملاتړ ته خلک هڅوي. دغو اشخاصو په ۱۹۹۰ کلونو کې په ملکي جګړه کې ونډه درلوده، د بهرنیو هیوادونو د ګټو لپاره جنګیدل، له کبله یې د طالبانو غورځنګ رامنځته شو او خونړیو قومي جګړو ته یې د پای ټکی کیښود.

هغه وخت چې د تنظیمي جګړو لړۍ له حد واوښتله، ټولنیزه نهیلي رامنځته شوه، افغانستان د بیرحمه قوماندانانو ترمنځ وویشل شو او د مرکزي قدرت تشه رامنځته شوه. همدغه وخت ملایان راڅرګند شول او د خلکو ملاتړ یې ترلاسه کړ، د یو پوړ(کلاس) په توګه ملایانو ولیدل چې دوی هم یو قوت دی او د ظلم او تیري د یوه ځانګړي وخت په غبرګون کې راپورته شول چې ملکي جګړې زیږولی وو. ددې لپاره ننني ملا هغه د څلویښت کلونو پخوانی ملا نه دی او نه ننني دولتي افراد د څلویښت کلونو پخواني واکمن دي. لکه څرنګه چې سیکولر پوړ (کلاس) ځانونه د واکمنۍ حقداران بولي، ملا او مذهبي فکر لرونکي هم د یو ټولنیز- سیاسي پوړ په توګه د حق غوښتنه لري.

سیکولر پښتانه

د نړیوالې ټولنې په ګډون ګردې خواوې په دې ټکي همغږي دي چې په افغانستان کې د تعلیم کچه ټیټه ده او دټولنې اکثریت د بیسوادۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کبله ځوریږي. له دې په ښکاره ډول څرګندیږي چې تعلیم لرونکی پوړ اقلیت دی. د دې سره سره چې په دولت او له دولت بهر یې قدرت او کنټرول په لاس کې دی، خو بیا هم نشي کولی چې د هیواد ټولې چارې پرمخ بوځي، مسلکي او فکري ستونزې ددوی ترمنځ ددې لامل ګرځیدلي دي چې تعلیم لرونکی پوړ د ثبات په راوستلو کې پاتې راشي.

ددې مهم لامل ځانګړی شالید او پوړ (کلاس) دی، په بله وینا، تعلیم لرونکي په بیلابیلو پوړونو (کلاسونو) ویشل کیږي. کاري شالید، ژبتوکمیز شالید، سیمه ییز شالید، تعلیمي شالید، سیاسي شالید، کولتوري او اقتصادي شالید، مذهبي او عقیدوي شالید. په دغه ډول د بیلابیلو پوړونو مانا داده چې د ګټو او غوښتنو شخړې شته دي، او دغه شخړې د کنټرول بنسټونه بیواکه کوي.

د بیلګې په توګه، د حامد کرزي په ګډون په اوسني دولت کې د ګوتو په شمار پښتانه د هغې تګلارې په وړاندې بې وسه دي چې د پښتنو په سیمو کې پوځي عملیاتو ته قانوني بڼه ورکوي. دوی کرایي مامورینو په ځیر دي په هغو پریکړو کې برخه اخیستلو ته اړ کیږي چې ددوی په پلرنیو یا د زیږیدو په سیمو کې د هوایې او مځکنیو عملیاتو نقشې جوړوي. که په بل ډول یې ووایو، په پوځ او پولیسو کې د پښتنو شمیر د نشت برابر دی. ددې پخلی د برتانیا د بهرنیو چارو پخواني وزیر ډیویډ ملیبنډ په وار وار کړی دی. ورته مسئله په دې وروستیو کې د برتانیا یو بل ډیپلوماټ مارک سډویل په لندن کې راپورته کړه[2].

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دا څو تیرو ورځو کې پر فیسبوک یو ویډیو خپور شو، ویډیو یو مشهور جنګسالار رشید دوستم وښوده چې د کرزي د کابینې د جوړولو لپاره په پټه د ازبک توکمو او هزاره توکمو ترمنځ کمپاین کوي چې کرزی له سیاسي کړکیچ وژغوري. دا ویډیو ظاهرا د ۲۰۱۰ کال د لندن له کنفرانس څخه لږ مخکې د کابینې پر سر د کړکیچ د اواري د هڅو پر وخت جوړ شوی دی. دغه ویډیو ښیي چې د حامد کرزي د رژیم سیاسي، پوځي او اقتصادي تګلارې د جنګسالارانو په ابتکار جوړیږي، داهمدا راز ښیي چې جنګسالاران په څومره لیوالتیا او وارخطایي سره د کرزي حکومت ته سیاسي ملاتړ او سرچینې برابروي. هغه جنګسالاران چې په زرګونو پښتانه یې په ډله ییز ډول وژلي او هډونه یې د لیلې په دښته کې پراته دي، نه یوازې ازاده ګرځي، بلکې د دوی د قدرت او کنټرول له کبله د افغانستان د خلکو لویه برخه د پرله پسې بریدونو لاندې ده[3]. همدا راز، که د تیرې یوې لسیزې بدلونونو ته وګورو څومره چې پښتانه سخت ځپل شوي، هومره نورو ژبتوکمیزو ډلو پرمختګ کړی. په دې ډول پښتانه په هیڅ یو رسنیز راپور کې چې د بیارغاونې او پرمختیا په اړه غږیږي، استازیتوب نلري[4].

حامد کرزی، ډاکټر اشرف غني، رحیم وردګ یا انورالحق احدي له کابله بهر له پرتو عادي پښتنو سره ټولنیز او کولتوري اړیکي نلري او نه یې د پښتنو په اقتصادي پرمختیا کې ونډه اخیستې ده. برعکس ددوی د مشرۍ له کبله نه یوازې پښتانه په ډله ییز ډول وژل شوي بلکې پت او درنښت ته یې سپکاوی شوی دی. دوی خلکو ته خدمات وړاندې کولی نشي، برعکس ددوی تر مشرۍ لاندې عادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتانه په پوځي ، اقتصادي، کولتوري او ټولنیز ډول تر وحشتناکو بریدونو لاندې دي. په سیاسي ډول دوی د داسې ځواکونو ملاتړ کوي چې د پښتنو په ضد جنګیږي. په دې توګه، د پښتنو استازیتوب په هیڅ برابر دی. په ډیرو ولایتونو کې د طالبانو د کورنیو غړي، کلیوال، خپل او خپلوان د کورنیو ځواکونو او هغو عسکرو له خوا چې د شپیګل د راپور له مخې د افغانانو ډیری برخه یې یرغلګر ګڼي، د پلان شوو بریدونو لاندې دي[5].

د کرزي د ملي امنیت ځواکونه د کمونیستانو د مهال له خاد سره هیڅ توپیر نلري. هلته هم د خلکو د نیولو او په ورته زندان (څرخي پله) کې یې د اچولو او ربړولو دنده ترسره کیدله، اوس هم ترسره کیږي. د هغه وخت استخباراتو هم د بهرنیو یرغلګرو تر سیوري لاندې فعالیت کاوو ، اوسنی هم د بهرنیو تر سیوري لاندې فعالیت کوي. د دې اداري تیري د ملګرو ملتونو په وروستي راپور کې کتلی شی. همدا راز، دغه اداره زنداني شوي پښتانه رسنیو ته د پاکستاني وګړو په توګه ورپیژني. [د] دغې تاجک توکمې استړیالوی خبریالې راپور وګورئ[6]. په دې کې یو ځوان چې د لوګر یا د ننګرهار ولایت دی، د پاکستاني په نامه خپلو لیدونکو ته ور پیژني چې په دې توګه داسې پروپاګنډ په لاره واچوي چې پښتانه په پاکستان پورې وترل شي او حقایق پټ کړي.

خو د دې دریځ سره سره داسې ښکاري چې دغه افراد د ستړاتیژیکو تګلارو د جوړولو په برخه کې د پریکړو واک نلري، یا دا ده چې د خپلو سیکولر مفکورو له کبله له هغو تګلارو سره توافق لري چې په افغانستان کې دودیز او مذهبي پوړ تر پوځي فشارلاندې نیسي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تابعداری ته یې چمتو کړي. که د حامد کرزي، رحیم وردګ یا جنرال کریمي دندو او مسولیتونو ته ځیر شو، بیا هم د امریکایانو په مشرۍ بهرنیو یرغلګرو، د تاجک، ازبک او هزاره جنګسالارانو د فشارونو له کبله اړ دي چې د پښتنو ضد دریځ ولري.

د بیلګې په توګه، رحیم وردګ هغه سړی دی چې هره ورځ د ده تر مشرۍ لاندې پوځیان د پښتنو په پت او عزت تیری کوي یا پښتانه مخور وژني. کرزی هغه سړی دی چې د پښتنو قاتلین یې له سزا معاف کړل او پر لویو څوکیو یې وګومارل او دده تر مشرۍ لاندې پښتانه وحشتناک حالت زغمي. ډاکټر اشرف غني په دې هرڅه پوهیږي خو د یو داسې سیستم ملاتړ کوي چې په هغه کې دده قوم وژل کیږي او د فساد او بې عدالتۍ پر ضد یې له عملي ګامونو څخه ډډه کړې. انورالحق احدي کومه سیاسي اجنډا نلري اوداسې ښکاري چې سیاسي وړتیایي هم تر پوښتنې لاندې ده. یوازې څوکۍ ورته هرڅه ده، کنه نو اغیزمن لیډر په کړکیچ کې ځان څرګندوي او د خپل قوم ترڅنګ دریږي. له بلې خوا، دغه ټول نومونه، خبر یا نا خبر د سیکولریزم د عملي کولو په کمپاین کې برخه اخلي. مذهبي او دودپاله خلک د مذهب د ګوښه کولو هڅې نه خوښوي.

دا په داسې حال کې ده چې رحیم وردګ په دفاع وزارت کې ځان خوندي نه احساسوي او کرزی یې په ارګ کې، له خپلو دفترونو څخه بهر د ښکاره ګرځیدلو وړتیا نلري. لسګونو زره کورنۍ او بهرني پوځیان ددوی د دفاع لپاره هم پخپله قرباني ته لیږل کیږي او هم د عامو خلکو [پښتنو] ژوند ته ګواښونه جوړوي. دوی [رحیم وردک، کرزی او نور] د بل تاوتریخوالی غندی، خو خپله د تاوتریخوالي امر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوي، ددوی ترمشرۍ لاندې یا شتون کې پر پښتنو هغه وحشتناکه ظلمونه روان دي چې د شورویانو د یرغل پر مهال چا نه وو اوریدلي. له ګونټنامو نیولې، بیا تر بګرامه، څرخې پله او په نورو پټو زندانونو کې پر پښتنو څه تیریږي؟

ننګونه په لوی لاس پیدا شوه

په داسې حال کې چې د واکمنۍ له ماتې وروسته ډیری طالبان پخپلو کورونو کې ناست وو او چمتو وو چې د کرزي په مشرۍ له نوي حکومت سره مرسته وکړي، په دوه زره دوم کال کې نړیوالو سرتیرو ته ددې رسمي اجازه ورکړل شوه چې دافغانستان په خاوره کې د پښتنو په ضد هرډول هوایي او مځکنۍ عملیات وکړي[7].

له دې مخکې د زرګونو طالب اسیرانو چې ټول پښتانه وو د څرګندو اشخاصو له خوا ډله ییزه وژنه او ورپسې په ډاګه د پښتنو پر سیمو د هوایي بمباریو تشویق، په کندوز او بلخ کې د سیمه ییزو مخورو لکه ارباب هاشم، میرزا ناصري او عبدالولي ابراهیم خیل وژل او هلته د جایدادونو لاندې کول، هغه څه وو چې په وروستۍ لسیزه کې یې د پښتنو د اکثریت په ضد د ښکاره سیاسي تبعیض بنسټ کیښود[8].

د بلخ، فاریاب، سمنګان، کندوز، بغلان او سرپل د پښتنو په ضد سیستماټیک تاوتریخوالي د دې خبرې شاهدي ورکوي چې ټوله دسیسه د یوې ډلې په ضد پلان شوې ده[9]. اوس داسې هڅې کیږي چې د پښتنو دغه قربانیان نه یوازې له پامه وغورځول شي، بلکې ددوی پاتې شوني مجبور کړل شي چې هغو اشخاصو ته تسلیم شي چې دغه وژنې یې پلان او بیایي په ډیره بې رحمۍ ترسره کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو اشخاصو چې دغه تاوتریخوالی یې ترسره کړ، د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې، د کرزي په اداره کې لوړې څوکۍ او دولتي اختیارات ورکړل او قانوني څانګې یې په واک کې ورکړې، په دې ډول یې دوی ته یو پیاوړی سیاسي ملاتړ او اقتصاد هم برابر کړ. له دې لارې یې په ښه توګه وکړی شول چې کورنۍ او نړیوال امکانات د افغانستان د اکثریت وګړو (پښتنو) په ضد د دې هدف لپاره وکاروي چې جګړه ځپلې پښتانه خپلې تابعداری ته مجبور کړي. لکه په سویلي افریقا کې چې د تورپوټکو په ضد کیدل.

د اپرتایډ رنې بیلګې

په افغانستان کې دولتي سیستم هغه وخت د اپارتایډ په توګه څرګند شو چې د طالبانو د حکومت له پرځولو وروسته متحدو ایالاتو اداره او کنټرول د پښتنو ضد ډلې (شمال ټلوالې) ته وسپاره چې په تیرو دیرشو کلونو کې یې د پښتنو د اکثریت د ځپلو هڅې تکرار کړي دي. دوی یوه ځانګړې سیاسي، اقتصادي، پوځي، کولتوري او ټولنیزه اوږدمهالې اجنډا لري چې د امریکا یرغل عملي لار په لاس ورکړه.

د اپارتایډ ټکی لومړی په سویلي افریقا کې د سپین پوټکو اقلیت چې دولتي واک یې درلود، د تور پوټکو د اکثریت په ضد (د دولتي سیستم له لارې یا د قانوني توکمپالنې په لړ کې) ازمایلی دی. له هغې راوروسته چې د نړۍ په یوه بله برخه کې توکمیز چلند کیږي نو سیاسي یا ټولنیز څیړونکي د اپارتایډ نوم ورکوي.

که یوځانګړې فرقه، قوم یا ولس د نړۍ په یو هیواد کې د اقلیت (ونو) له خوا له توکمیز، ژبني، سیاسي، پوځي تاوتریخوالي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخامخ شي او د خپلې ژبې، پوستکي، مذهبي یا دودیزې مفکورې له کبله له سیاسي حق څخه بې برخي شي، دا د ملګرو ملتونو د منشور له مخې سیاسي، ټولنیز، کولتوري او اقتصادي تعصب بلل کیږي. د خلکو یوه لویه ډله له خپلو سیاسي، کولتوري، اقتصادي او ټولنیزو حقونو څخه بې برخې کول په څرګند ډول د ملګرو ملتونو د منشور ماتول او د بشري حقونو تر پښو لاندې کول دي. د دې لپاره چې یوه کوچنۍ ډله قدرت او کنټرول ترلاسه کړي ، دخپلو فرقه ییزو ګټو د تر لاسه کولو لپاره توکمیزې نارې پورته کوي. دا داسې سیستم دی چې کوچنۍ ډله باید کنټرول واخلي چې کارګري ځواک یې پیاوړی شي او معیاري ژوند خپل کړي.

د تیرو شلو کلونو راهیسې په افغانستان کې د پښتنو د اکثریت په ضد د اقلیتونو د دفاع په پلمه سیاسي خوځښتونه او ټلوالې جوړې شوې دي. ددغو ټلوالو سیاست ته که وګورو او په هممهاله توګه په شمالي ولایتونو کې د پښتنو پخلاف تاوتریخوالي وشمیرو نو دې پایلې ته به ورسیږو چې ددغو ټلوالو یوازنی سیاست دا دی چې پښتانه په سیاسي او اقتصادي ډول بیثباته کړي او قدرت ددوی لاسته ولویږي. ددې تیورۍ مخکښ د شورای نظار قومندان احمد شاه مسعود وو چې غوښتل یې افغانستان د لوی تاجکستان یوه برخه وګرځوي[10].

په دې ډول، د وګړو لویه ډله چې د واک کولو حق او قوت لري، له اقلیتونو جوړې یوې ټلوالې سره مخامخ کیږي چې یوازې شخصي او قومي ګټو پسې ګرځي. دغو دسیسو دعادي خلکو پر ژوند اغیز شیندلی او دوی یې پخپل ورځني ژوند کې احساسوي، د همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره خپل چاپیریال ته ګوري چې د مخنیوي لارې چارې ولټوي، خو هلته هغه طالبان دي چې ځانپالو ټلوالو او ژبتوکمیزو سیاستونو پخلاف راپورته شوي دي، خوابدو او غوصه شوو پښتنو ته بدیل وړاندي کوي.

د پښتنو د ځپلو پرله پسې هڅې

په دوه لسیزو کې دا دومه هڅه ده، دا ځل هم د دولت له دریځه د هغو اشخاصو په لاس ترسره کیږي چې پښتانه د ځان په وړاندې خنډ ګڼي[11]. لومړی هڅه د ۱۹۸۰ – ۱۹۹۲ کې هغه مهال وشوه چې له شوروي یرغلګرو سره د اوربند ټرون وشو، او دغه دسیسه د برهان الدین رباني د ولسمشرۍ تر پایه پورې روانه وه[12]. د افغانستان پخوانی پوځ له منځه لاړ، ځانګړو ډلو ته وفادار جنګیالي د پوځ او پولیسو په توګه دولتي ځواکونه ونومول شول او د کابل په سوبل، ختیځ او شمال کې یې د پښتنو په ضد پوځي عملیات پیل کړل.

ددې عملیاتو هدف داوو چې پښتانه وځپل شي چې د برهان الدین رباني په مشرۍ تاجک توکمي په ټول افغانستان خپل کنټرول پراخ کړي. انجینر ګلبدین حکمتیار د یو پښتون په توګه په دغې دسیسې وپوهیده او مقاومت یې وکړ. د مسعود ځواکونو له روسیې، هند او د منځنۍ اسیا له یو شمیر هیوادونو څخه مالي او پوځي ملاتړ اخیسته، خو مقابل لوري نه یوازې د پاکستان ملاتړ له لاسه ورکړی وو، بلکې عربي هیوادونو هم ورسره مرسته نه کوله. هغه وخت چې د جګړې د اوږدیدو له کبله د حکمتیار ځواکونه له مالي او پوځي ستونزو سره مخامخ کیدونکي وو، د طالبانو په څیره کې یو نوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواک د پښتنو له منځه راپورته شو او په خورا لنډ وخت کې یې وکولی شول چې د ربانې حکومت ړنګ کړي.

اوس هم په افغانستان کې یوازې پښتانه دي چې دولت او نړیوال ځواکونه یې په نښه کوي. په دې لړکې د پښتنو د پور غړي وژل کیږي، نیول کیږي، تعقیبیږي، بندیانیږي، ځورول کیږي او سختترینه کړاوونه ورکول کیږي. د پوځي عملیاتو له لارې د پښتنو ښځې، ماشومان، سپین ږیري او ځوانان په انفرادي او ډله ییزه توګه د یو سیاسي او اقتصادي هدف لپاره وژل کیږي او وژونکي یې ستایل کیږي.

ددوی په کلیو او کورونو دغه عملیات د یوې پوځي تګلارې په مټ چمتو کیږي چې هم د سیمه ییز دولت او هم د نړیوالو ځواکونو جیګپوړي پوځي چارواکي پکې ګډون کوي. طبیعي ده چې دوی د پوځي وسایلو د استعمال له لارې غواړي چې پښتانه وویروي، بې زړه یې کړي او د هغو افرادو تابعداري ته یې ورمات کړي چې غواړي قدرت ترلاسه کړي. د همدې لپاره د پښتنو وژونکی له هرډول محاکمې ازادیږي او په پوځي میدانونو نازول کیږي.

دغه حالات هغه مهال پیدا کیږي چې په حکومت کې د قدرت خاوندان شا او خوا وګوري چې ځواکمن هیوادونه یې ترشا ولاړ دي او ددوی له پروژو سره سیاسي، پوځي او اقتصادي مرسته کوي. د دې تاوتریخوالي په نتیجه کې دغه اشخاص هڅه کوي چې د پریکړو ځای ته ځان ورسوي او خپلې منګولې ټینګې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهمه بیلګه یې د پوهنتون د پنځه زده کونکو او یو استاد نیول دي. دا پیښه په داسې حال کې وشوه چې کرزی له هیواده بهر وو او هغه هیواد ته یې سفر کړی وو چې له پاکستان سره دودیزه دښمني لري. له دې پیښې وړاندې په پاکستان باندې فشارونه ډیر شوي وو او ددې لپاره چې هند ته د حامد کرزي د سفر په اړه د پاکستان خوله پټه کړي، دغو دولتي اشخاصو ته پکار وو چې څو نور پښتانه، د یوې، تش په نامه دسیسې د جوړولو په پلمه ونیسي چې په اصطلاح د پاکستان په ضد په خلاصه خوله د خبرو جوګه شي. داسې پلانونه د امنیتي سلاکار، نورو امنیتي او دفاعي چارواکو په مټ جوړیږي.

که لږ نور یې هم ښکاره ووایو، د امریکا پر سفارت برید او د ربانې د وژلو تورونه کافي نه وو، په دې چې، دا وار له مخه پاکستان رد کړي وو. ددې لپاره چې هند ته د حامد کرزي د ناڅاپي سفر او کابل-ډیلي ترمنځ د ستراتیژیک ټرون په اړه کابل د اسلام اباد د فشارونو مخه ونیسي او پر پاکستان د امریکا فشارونو ته نوي دلایل پیدا کړي، یو څو بیګناه محصلین ونیول شول. څرګنده ده چې په زندانونو کې بیا د ناپښتنو امنیتي مامورینو له خوا دغو نیول شوو خلکو ته سختترین کړاوونه ورکول کیږي.

په داسې حال کې چې پښتانه شکایت لري چې په سیمو کې یې ښوونځي او پوهنتونونه د جګړو له کبله ټرلي دي، ډیری ماشومانو او ځوانان یې زده کړو ته لاس رسی نلري، دپوهنتون د زده کونکو د نیولو تر ټولو مهم اړخ دادی چې دوی لاپسې بې جرته کړي چې لوړو زده کړو ته زړه ښه نکړي یا لویو ښارونو ته د لوړو زده کړو د ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو لپاره سفر ونکړي او داسې فکر ور واچول شي چې په پوهنتونو کې هر پښتون تر تعقیب لاندې دی.

په هیڅ قانون کې، پرته له محاکمې امنیتي ځواکونه حق نلري چې یو څوک د مجرم په توګه زندان ته واچوي او هلته یې وځوروي، یا پر هغه د دسیسه جوړونکي، ترهګر یا بل ورانکاري نوم کیږدي، خو مور ولیدل چې نیول شوي خلک نه د کومې محاکمې له لارې تورن شول او نه داسې اسناد وښودل شول چې دوی رښتیا په یوه دسیسه کې لاس درلود او پرته له دې چې نیول شویو خلکو ته د دفاع حق ورکړل شي، وربانديې دا ډول بد تور ولګید. کله چې دغه تورن خلک د تلویزون پر پرده ښودل کیږي یا د خبریالانو د کیمرو په وړاندې څرګندیږي، نو مجبور دي چې هغه څه ووایي چې پولیس یا امنیتي کسان یې غواړي، ځکه چې هغوی ته د فزیکي او روحي ځوروني ګواښونه کیږي، ان د مرګ د سزا ګواښ ورته کیږي، دېته مجبوریږي چې د چارواکو په خوښه اقرار وکړي. دا ټوله کیسه دا مانا لري چې یوه دسیسه جوړه شوې ده او ددې دسیسې ترشا ډول ډول سیاسي موخې پرتې دي[13].

تاوتریخوالی او سپکاوی

د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په میاشت کې د ملګرو ملتونو راپور وښودله چې په زندانونو کې پښتانه په څومره بې رحمۍ سره شکنجه کیږي چې د هغو اشخاصو تابعداري ته یې ورمات کړي چې حاضر نه دي قدرت له بل چا سره شریک کړي. د دې سره سره چې ملګرو ملتونو په دې راپور کې حقایق رابرسیره کړل، خو ددې راپور له لارې پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکثریت ته په غیر مستقیمه توګه ګوابنه وشوه چې د هغو اشخاصو تابعداري وکړي چې په کابل کې کنټرول لري، که داسې ونکړي نو له دغې سختې سزا سره به مخامخ شي. په دې دلیل چې ملګري ملتونه دغسې پټ دولتي جنایتونه په لفظي توګه افشا کوي، په داسې حال کې چې خپله ملګري ملتونه ددغو حقایقو شاهدان دي، خو هیڅ یو دولتي مامور د محاکمې غوښتنه یې نه ده کړې.

په بله وینا، د حامد کرزي ټوله اداره د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې په مرستو چلیږي، امنیتي کسانو او پولیسو ته روزنه او مالي ملاتړ هم ملګري ملتونه، متحد ایالات او ناټو ورکوي او د ملګرو ملتونو سیاسي، پوځي او مالي ملاتړ لري. د بن کنفرانس او د ټولو هغو په اصطلاح ټول ټاکنو لګښت ملګرو ملتونو ورکړی چې کرزی یې بیا بیا د ولسمشر په توګه وګومارء.

ددې راپور د سیاسي ارڅ انتقاد کونکي ښایي ووایي چې ملګرو ملتونو په لوی لاس هڅه کړې چې په زندانونو کې د بندیانو د شکنجو د بهیر په افشا کولو سره هغه خلک وویروي چې د کرزي د حکومت په ضد جنګیږي یا هغه خلک وویروي چې د طالبانو او حزب اسلامي ملاتړ کوي، خو له بلې خوا، دغه راپور ښیي چې د پښتنو په ضد یو سیستماټیک دولتي تاوتریخوالی روان دی، یانې د پښتنو زامن په دې او هغه نامه نیول کیږي او تورو تمبو شاته په فزیکي او روحي ډول ځوروول کیږي. ددې سیاسي او ټولنیز ارڅ دا دی چې له دې لارې، پښتانه څنډې ته کړي، د سیاسي، کولتوري او اقتصادي تشې په رامنځته کولو سره قدرت په اصطلاح هغې ټلوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته انتقال کړي چې په تیرو وختونو کې په شمال کې جوړې شوي دي[14].

بهرنی یرغل او د پښتنو ځپنه

د اقلیت واکمن ژر راضي کیږي چې د بهرنیو ځواکونو(یرغلګرو) شرایط ومني او په بدل کې بهرني یرغلګر د اقلیت د واکمنۍ دفاع کوي. بهرني ځواکونه تل هڅه کوي چې د یو هیواد اکثریت له قدرت لیرې کړي او د اقلیتونو اوږدمهالې واکمني ممکنه کړي چې خپلې ځانګړې ګټې خوندي کړي. په بدل کې یې اقلیتونه په ټول زیار سره د بهرنیو ځواکونو ګټې خوندي کوي چې ددوی له ملاتړه لاس وانخلي. دا کار د اکثریت لپاره د منلو نه وي او په وړاندې یې غبرګون ښیي.

په افغانستان کې بهرني عسکر لګیا دي، د همداسې شرایطو په جوړولو کې مرسته کوي، ناڅاپه په یو کور ورننوزي او دا کار خلکو ته هغه روسیي عسکر ورپه زړه کوي چې په ۱۹۸۰ کلونو کې یې پر افغانستان ورته یرغل کړی وو او په همدې کلیو کې یې د عامو خلکو پخلاف ورته چلند کاوو. عام خلک ویني چې د هماغو سرو روسانو په ډول ځیرې ظلم او تیری کوي.

د خلکو ښځې تلاشي کوي، نارینه او ښځینه وګړي له ځان سره بیایي، یایي ځای په ځای وژني. یو چا له پیړیو پیړیو راهیسې زیار ویستلی وي، یوه کورنۍ یې جوړه کړي وي، یو بهرنی عسکر ورشي، ټول په ډزو وولي او کورنۍ یې ځای په ځای ختمه کړي. ددې ظلم پخلاف خلک اواز نشي پورته کولی، رسنۍ داسې پیښې نه راپورته کوي، داسې مرجع نشته چې کلیوال ورته شکایت وکړي. خلک مجبوریږي چې خپله لاس په کار شي، ځکه چې خلک باور له لاسه ورکوي او پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څه یې عقیده پیدا کېږي او لیا ډیریږي چې هیواد له بهرني یرغل سره مخامخ دی.

د ناټو عسکر په رښا ورځ پښتانه په ډله ییزه او انفرادي توګه وژني او د کرزي حکومت ددوی دغه عمل نه یوازې ستایي بلکې دېته د ترهګرۍ په ضد جګړه وایي. ددې جګړې مانا دا ده چې د پښتون وژنه یو روا او قانوني کار دی، ځکه خو قاتل محاکمه کیږي نه او برعکس پښتون د ترهګر په نامه پرته له کومې محاکمې د استخباراتو او پولیسو په لاس زندان ته اچول کیږي او هلته شکنجه کیږي[15]. د بمباریو ستاینه، د وژنو او وژنکو ستاینه، د وژونکو نه محاکمه، پرته له محاکمې پر ازادو وګړو تور لګول او ددوی د ځورولو لړۍ، داسې سیاست دی چې تبیعض یې رامنځته کړی او خلک یې په بشپړ ډول خوابدي کړي دي.

په هوایی بمباریو کې د پښتنو ماشومان، ښځې او سپین ږیري وژل کیږي او یایي په کورونو د ناټو عسکر په ځانګړي ډول امریکایي عسکر ورننوزي او هر سپکاوی چې غواړي هغه غریبو او بې دفاع خلکوته ور اړوي. د دغسې ظلمونو بیلګې دومره ډیرې دي چې ان د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د نورو هیوادونو اوسیدونکي پرې بحث کوي. له هوایي او مځکنیو بریدونو پرته د نورو سنجول شوو پوځي یرغلونو له لارې د پښتنو غړي ویرول کیږي، نه یوازې بې د ژوند حق له خطر سره مخامخ دی بلکې ددوی سیاسي، اقتصادي او ټولنیز حقوق تر پښو لاندې دي[16].

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځ او پولیسو ته د خارجي یرغل پر ځای د پښتنو د تعقیب روزنه ورکول کیږي. پخوا وختونو کې به پوځي ته د یو خارجي یرغل په ضد د وطن د دفاع روزنه ورکول کیده، اوسني پوځ ته د یو ځانګړي قوم د غړو د تعقیب او وژنې روزنه ورکول کیږي. دغه پوځ او اردو د چا په ضد او په کومو سیمو کې عملیات کوي؟ د چا کورونه تلاشي کوي؟ څوک لاس ترلي، سترګې ترلي له خپلو کورونو بیایي؟

دغه پوځیان په ډیرې بې رحمۍ سره د پښتنو بانفوذه ملا امامان او قومي مشران وژني چې د اوسني دولتي فساد په ضد راپورته شوي غږونه یې غلي کړي. له نورو بیلګو به تیر شم او دلته به ستاسې پام د غزني د اندړو ولسوالۍ د اوسیدونکي شیخ الحدیث مولوي عبدالبصیر وژنې ته ستاسې پام واړوم. د هغه ګناه څه وه؟ او کومې محاکمې په کوم تور د هغه د مرګ پریکړه کړې وه؟ دلته دغه پوښتنه یو دولت ته راجع کیږي؟ که دا سیستماتیک او هدفي وژنې نه وي، نو دغه مولوي صاحب ولې په دومره بیرحمانه ډول وژل کیږي؟

اقتصادي اړخونه

حکومت، پولیس او نور دولتي ځواکونه د یو پلان له مخې پښتانه پانګوال او تجاران تر فشارلاندې راولي چې ویره ور واچوي او د هیواد له یوه ځایه بل ځای ته له کاري سفرونو ډډه وکړي چې پانګونه یا تجارتی کاروبار ونشي کړی یا د دایمي پوستونو لپاره سیالي ونشي کړی. د تصادف له مخې که کوم پښتون په پنجشیر یا بدخشان یا بامیان کې دنده ولري نشي کولی خپله کورنۍ له ځانه سره دغه ولایت ته بوځي، ځکه چې هلته د اوسیدو شرایط ورته نه دي برابر. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې مانا دا ده چې هلته دایمي کار نشي کولی او د تګ راتګ په حال کې به خپل وخت تیروي. دا تګ راتګ امنیتي ستونزې لري او دغه سړی مجبوریږي چې دنده پریږدي. د داسې شرایطو مانا داده چې یوځانګړی قوم، شخص یا ډله په یوه ځانګړې سیمه کې لنډمهالې دنده ولري.

که یو پښتون سوداګر وغواړي چې په کابل کې پانګونه وکړي، هغه ته ډول ډول امنیتي خنډونه جوړیږي چې ونشي کړی خپله پروژه عملي کړي. که ددې ستونزو سره سره هغه پانګونې ته زړه ښه کړي، بیا هغه وخت د کار اجازه ورکول کیږي چې یو تاجک، هزاره یا ازبک توکمی وګړی پرته له کومې پانګې شریک کړي. که دا کار ونکړي باید یو لوړپوړی امنیتي چارواکی مفت پخپله پروژه کې شریک کړي چې د کاروبار امنیت یې شونی شي. په کپیټال ټولنو کې چې یوازې شتمن کولی شي د خپلو پیسو په مټ قانون بدل یایې جوړ کړي، حکومت جوړ او حکومت رنګ کړي، د پښتنو سوداګرو او پانګوالود پرمختګ مخه نیول کیږي چې تشه رامنځته کړي او کاري ظرفیتونه یې له منځه لاړ شي[17].

په لویو ښارونو کې پښتنو ته نمرې نه ورکول کیږي او حکومتي ملاتړ نلري، ځکه چې په ښکاره ډول تر تعقیب لاندې دي. په کابل کې پښتانه شکایت لري چې په دولتي ادارو کې له دوی سره بد چلند کیږي. په ښار کې هستوګنه ژوند معیاري کوي او د ماشومانو راتلونکی جوړوي، په کلیوالو سیمو کې هغه اسانتیاوې نشته چې ژوند معیاري کړي. دغه دولتي اشخاص هڅه کوي چې ښارونو ته د پښتنو د ورلیږدبدو مخه ونیسي چې د ژوند سطحه یې معیاري نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او عصري (له اسانتیاوو ډک) ژوند خپل نکړي. ددې فشارونو بل دلیل دادی چې دوی له سیاسي، کولتوري او اقتصادي غربت سره مخامخ شي، خو برعکس په قدرت کې شته اشخاص (لږکیو پورې اړوند کسان) شتمن شي. په کپیټلیستي سیستم کې یوازې شتمن د واکمنې حقداران ځانونه بولي، که بیوزلي (عادي خلک) شتمنو ته له خدمت کولو څخه انکار وکړي پوځ او پولیس ورلیږي او په زوره یې تابعداري ته اړ کوي.

کارګري ځواک، مسلکونه او کنټرول

یوه داسې هڅه روانه ده چې پر پښتنو دومره بندیزونه ولګول شي چې دوی ونشي کړی له یوه ځایه بل ځای ته سفر وکړي او د دوی چاپیریال محدود کړي. د سفر پر مهال د لارې په اوږدو کې د پښتنو پخلاف له ناوړه چلند څخه کار اخیستل کیږي. دوی تالاشي کیږي او رټل کیږي. په دولتي ادارو کې په یوه نوم او بل نوم په ذهني توګه ځورول کیږي چې دندې پریږدي او ځای یې ناپښتانه ډک کړي.

دغه سیستماټیک بندیزونه او زور زیاتی د پښتنو هغه مسلکي وړتیا له منځه وړي چې له مخې یې دوی کولی شي د ازاد بازار په اقتصاد کې ځانونه پیدا کړي، هلته بشپړ استازیتوب ولري او له هغو کسانو سره چې کنټرول یې په لاس کې دی سمه سیالي وکړی شي. دغه سیستماټیک پوځي یرغلونه د وخت په تیریدو سره نشي کولی چې پښتانه پر یو اقلیت بدل کړي، خو ددوی کارګري وړتیا له منځه وړي، د وګړو شمیر به یې لا هم ډیر وي، خو مسلکي پوټنشل به نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوسنیو سیاسي پوځي، کولتوري او ټولنیزو فشارونو موخه دا ده چې پښتانه د معاصرو مسلکونو د ترلاسه کولو له چانسونو څخه بې برخې کړي چې په راتلونکي کې ونشي کړی د اقلیتونو غړي د کارګرۍ په ډګر کې وننګوي. که داسې وشي نو، د دې سره سره چې پښتانه کارګر به مسلکي وړتیا نلري، د شتمنۍ کنټرول به د کیپیټالستو اقلیتونو لاسته ورغلی وي، خو دوی به بیا هم د پښتنو په ضد سیالۍ ته دوام ورکوي ځکه چې د اکثریت مسئله به ورته لا نور چلنجونه جوړوي. کله چې د اکثریت په ضد جګړه دوام وکړي، ورو ورو کارګري مسلکونه اقلیتونو ته انتقالیږي، د نړیوالو خیریه ټولنو په پلمه بهرني کارګر له هغوی سره یوځای کیږي او هغه تشه چې د اکثریت وګړو د کارګري ځواک د لیرې کولو په نتیجه کې رامنځته شوې ده، ډکوي.

دا حالت بیا د اقلیتونو شتمنو ته پوره صلاحیت ورکوي چې مخامخ پریکړې وکړي او له بهرنیو[ځواکونو] او پانګوالو سره مخامخ معاملې وکړي. دوی بیا زیاتره د هغو هیوادونو سره پټ او ښکاره نژدې اړیکي ساتي چې شریکه ژبه لري یا هغه چې دوی سره شریک کاري مسلکونه لري. دغه کارګري ځواک بیا ژر د خوش ګذارنې پوړ ته رسیږي او هغوی چې مسلکونه نلري او کارګري ځواک یې د جګړې له کبله زیانمن شوی، خبر یا نا خبر د اقلیتونو خدمت ته وربلل کیږي.

د کیپیټالیزم په نړۍ کې چې پرمختګ یې ټیکنالوجۍ له ودې سره تړلی دی د کارګرو د ټولنې کنټرول که د هر چا په لاس کې وو، پریکړه به هم کوي او لوی قراردادونه به هم اخلي. دغه کنټرول هغه وخت د یو چا لاسته لویږي چې د طبیعي زیرمو او اقتصادي سرچینو کنټرول په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس کې واخلي. د دې لپاره د اسې هڅې روانې دي چې د افغانستان د طبیعي زیرمو قراردادونه ناپښتنو پانګوالو ته ورکړل شي چې پر شتمنۍ کنټرول ترلاسه کړي. که د بغلان د طلا معدن ته ځیر شی، نو تاسو ته به څرګنده شي چې ددغه معدن کنټرول پرته له کومې داوطلبۍ یو سیمه ییز جنګسالار ته ورکړل شوی دی. ددغه جنګسالار جنایتونه دومره ډیر دي چې نشي شمیرل کیدای[18].

کولتوري فشارونه

پر پښتنو د القاعده او ترهګر نوم ایښودل کیږي چې په روحي یا فزیکي توګه یې د ځورولو شرایط برابر کړي. د خبریالانو د ټولنې د یو فعال ضیا بومیا په وینا ان د اطلاعاتو او کولتور وزیر مخدوم رهین په دې وروستیو کې وویل چې قومي جامې د ترهګرو جامې دي او په دې باید بندیز ولګول شي. ښاغلي بومیا د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر میاشتې پر پنځمه نیټه د خپل فیسبوک پر پاڼه داسې ولیکل:

"د اطلاعاتو اوکولتور وزیر مخدوم رهین خپلو پلویانو ته ویلي چې په ملي راډیو تلویزیون کې څوک پرښږدي چې په ملي جاموکې دندې (وظیفې) ته ورشي، ځکه چې د ده په وینا ملي جامې د تروریستانو لباس دی- د رهین له همدې دستور سره سم نن یو تن چې په ملي راډیو کې نوکري وو د عزیزیار له خوا چې رهین ته نږدې سړی او دنطاقانو دشعبې آمر دی، توهین شو او داسې ورته وویل شول (چرا پتلون نه پوشیدی؟ شما اوغان های غول تروریستها، القاعده ها و طالبان). په همدې ترڅ نن یو یو بل تن چې پښتون دی، په ملي جامو کې تلویزیون ته راځي، ورغوښتل شوی و او د تلویزیون

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرستیال له خوا اخطارونه ورکړل شوي دي چې منفک به شي. دغو دوه تنو د خبریالانو ټولنو ته له همدې امله شکایت کړی او د مرستې غوښتنه یې هم کړې ده. موږ خبریالان دوزیر دغه عمل غندو هیله ده راسره یو شی".

د پښتنو پر ژبه په ښکاره توګه ملنډې وهل او سپکاوی د دې پخلی کوي چې د دوی په ضد جګړه تراقتصادي، پوځي او سیاسي ډګره ور هاخوا روانه ده. په رسنیو او مزاحیه پروګرامونو کې پرې ملنډې وهل د ساعت تیری موضوع جوړه شوې ده [19]. د کورنیو چارو وزارت په تذکرو کې پښتنو ته مورنۍ ژبه دري لیکي. په دې توګه هڅه کوي چې د پښتنو ژبنۍ پیژندګلوي بدله کړي. دا [دوی ته] دوه ګټې لري، یو د کاغذ پر مخ د پښتنو شمیر کمیږي او بل د تاجک توکمو شمیر ډیریږي. دا درغلي یوازې له پښتنو سره نه کیږي بلکې له هزاره وو، ازبکو او نورو توکمونو سره هم کیږي.

د جایدادونو قبضه

په شمالي ولایتونو کې ډیری ځایي پښتانه مجبور شوي دي چې خپل اصلي ټاټوبی پریږدي. په جوزجان، بلخ، بامیان، فاریاب، بغلان، سمنګان او سرپل کې د پښتنو جایدادونه ځایي زوراکو قبضه کړي دي، رمې یې چور شوې او دوی کډې کولو ته مجبور شوي دي [20]. په بامیانو کې د کوچیانو د جایدادونو مسئله، په تخار کې د یوسفزیو د جایدادونو مسئله، په سرپل کې د ساکزیو د جایدادونو مسئله او همداسې ډیرې نورې بیلګې شته چې موږ ته ښیي چې دا تاوتریخوالی څومره پراخ دی [21].

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه مهال چې جمعه خان همدرد د بغلان والي وو، د احمد ضیا مسعود د شکایت له امله حامد کرزي کابل ته وروغوښت او د کرزي، مسعود او همدرد ترمنځ په ارګ کې د دې شکایت په اړه غونډه وشوه. جمعه خان همدرد ماته وویل چې احمد ضیا مسعود زما په مخکې کرزي ته وویل چې (اقای همدرد از جنوب نفر میاره و در منطقه ما(پلخمري) مقرر میکند و ما این کار را قبول نداریم). ښاغلي مسعود هڅه وکړه چې په دې توګه کرزی تر فشار لاندې ونیسي او خپلې غوښتنې پرې عملي کړي. په بله وینا په بربنډ ډول خپل مخالفت ښکاره کړي او په دولت کې د پښتنو د ګومارنې مخه ونییسي چې کنټرول له لاسه ورنکړي.

همدا راز په ۲۰۰۴ کال کې د محمد اکرم خاکریزوال په ضد د جمعیت د قومندان عطا محمد نور مخالفت چې له بلخ څخه د ښاغلي خاکریزوال د لیرې کولو لامل وګرځید، ځکه چې د خاکریزوال په راتګ سره بلخ ته یو شمیر سیمه ییزو پښتنو جرئت وکړ چې د خپلو جایدادونو د ترلاسه کولو لپاره له دولت مرسته وغواړي. پښتانه بیا عادي ژوند ته وګرځیدل او په پرتله ییزه توګه له ګوانښونو وژغورل شول. دې کار د خاکریزوال ملاتړ د عادي خلکو ترمنځ ورځ تربلې ډیراوو. عطا محمد دغه حالت نشو زغملی او هڅه یې وکړه چې د زور له لارې ښاغلی خاکریزوال مجبور کړي چې مزارشریف پریږدي.

په داسې حال کې چې د شمال ټلوالې مشران هیڅ ډول مسلکي زده کړې نلري، نن له ولسمشر راښکته پر ګردو لویو څوکیو ګومارل شوي دي. ټولې پریکړې دوی کوي او کرزی یې لاسلیکوي. تر اوسه به چا د دوی له خولې نه وي اوریدلي چې بیګناه خلک د بهرنیو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بمباریو کې ولې وژل کیږي؟ خو دا به مو ارو مرو اوریدلي وي چې دغو کسانو پر بهرنیو ځواکونو غږونه کول چې "دا کوچني بمونه دي، لوی لوی بمونه وغورځوی".

د خلکو دا هرڅه په یاد دي او دعامو وګړو تیرویستل ډیر سخت شوي دي، یوازې په پروپاګنډ او درواغو د افغانستان په څیر جګړه ځپلی هیواد نه اداره کیږي. د مدني ټولنو په نامه یو څو تنه چې په هره غونډه کې ناست وي، یا د بنځو د حقونو د دفاع کونکو په نامه یو څو تنه چې هر وخت د تلویزون پر پردو راڅرګندیږي، نشي کولی چې د یوې پراخې مدني ټولنې استازیتوب وکړي. خلک وینې چې د بهرنیو او کورنیو ځواکونو له خوا له کابله بهر له بنځو او ماشومانو سره څه ډول بد چلند کیږي. دغه د ګوتو شمار اشخاص فکر کوي چې عادي خلک ډیر احمق دي او موږ یې په ژوند او په وینو لوبې کوو او خپلې خیټې غټوو د خپل کنټرول سیمه پراخوو، او دوی زموږ (د کنټرول، قدرت او شتمنۍ) لپاره قرباني ورکوي پای.

اخځلیکونه

1: Zizak, S & Elthatawy, M. (2011) Answer Question session (Online), available, http://www.youtube.com/watch?v=TxyMRfOMhR4&feature=related (Accessed: 10.10.2011).
2: Taylor, N, R. (2011), Afghanistan envoy highlights errors of British strategy (online), Availablehttp://www.guardian.co.uk/world/2011/oct/11/envoy-critique-afghanistan-campaign (Accessed: 20.10.2010).

(c) ketabton.com: The Digital Library

3: Criminals of Afghanistan War . (2011), Warlord campaigns (online), available (Facebook),https://www.facebook.com/#!/photo.php?v=153802051383460 (Accessed: 16.10.2011).
4: RFERL. (2011) Afghanistan 10 years on: 'By Working, we Have Managed to Change Our Lives for the Better' (online), available http://www.rferl.org/content/afghanistan_10_years_later_family_hope/24352571.html (Accessed: 20.10.2011).
5: Spiegel. de. (2011), More than Half of Afghans See NATO as Occupiers (online), available
http://www.spiegel.de/international/world/0,1518,792436,00.html (Accessed: 20.10.2011).
6: Journeyman. TV. (2011), Afghanistan's Turning Point - Afganistan (online), Available, http://www.youtube.com/watch?v=uBWCD4mbtj4 (Accessed: 19.10.2011).
7: Zaheer, A & Samimi, M. (2011), MPs: Current crisis linked to 2002 agreement (online), availablehttp://www.pajhwok.com/en/2011/07/28/mps-current-crisis-linked-2002-agreement (Accessed: 10.10.2011).
8: Doran, J. (2002), Afghan Massacre, The Convoy of Death(online),available, http://www.acftv.com/archive/article.asp?archive_id=1 (accessed:13.10.2011).
9: Human Rights watch (2002), Anti-Pashtun Violence Widespread In Afghanistan (online), available,http://www.hrw.org/en/news/2002/03/02/anti-pashtun-violence-widespread-afghanistan (Accessed: 15.10.2011).
10: Richardson, B. (2001) Ex-Soviet commander unveil Masoud's secret pact (online), available,http://www.militaryphotos.net/forums/showthrea

(c) ketabton.com: The Digital Library

d.php?13290-Ex-Soviet-commander-unveil-Masoud-s-secret-pact-updated(accessed: 21.10.2011).
11: Khudaid, G. (1995), Ahmad Shah Masood the great traitor of Afghanistan (online), available http://www.youtube.com/watch?v=CmH_G6IMI7o (Accessed: 18.10.2011).
12: Kabul Press
(2009), احمد شاه مسعود و عقد معاهده آتش بس با اردوی سرخ(online), available, http://kabulpress.org/my/spip.php?article4079(accessed: 11.10.2011).
13: Khetab, M, H. (2011), Plot to kill president foiled; 6 detained (online), available,http://www.pajhwok.com/en/2011/10/05/plot-kill-president-foiled-6-detained (accessed: 23.10.2011).
14: Kelly, J. (2011), Afghanistan officials 'systematically tortured' detainees, says UN report (online), available,http://www.guardian.co.uk/world/2011/oct/10/afghanistan-torture (accessed: 21.10.2011).
15: Rolling Stone. (2011), The Kill Team (online), available http://www.rollingstone.com/kill-team (accessed: 24.10.2011).
16: Cavendish, J. (2011), Revealed: Afghan chief accused of campaign of terror is on US payroll (online), availablehttp://www.independent.co.uk/news/world/asia/revealed-afghan-chief-accused-of-campaign-of-terror-is-on-us-payroll-2245369.html (accessed: 25.10.2011).
17: Shah, A. (2010), Afghanistan challenge is not to create “western-style” democracy (online), availablehttp://blogs.reuters.com/great-debate-uk/2010/03/12/afghanistan-challenge-is-not-to-create-western-style-democracy/(accessed: 22.10.2011).

(c) ketabton.com: The Digital Library

18: Bandler, J. (2011), A team of bankers starts to tap the country's vast mineral riches, with help from the Pentagon (online),
available http://management.fortune.cnn.com/2011/05/11/jp-morgan-hunt-afghan-gold/ (accessed: 25.10.2011).
19: TV1 (2011), Shabkhand ba Jawad(online),available http://www.youtube.com/watch?v=DuRHQGzSjc8 (accessed: 24.10.2011).
20: Moahid, A, K. (2008), Protest against Kochis influx held in Kabul (online),
availablehttp://www.pajhwok.com/en/2008/03/30/protest-against-kochis-influx-held-kabul (Accessed: 19.10.2011).
21: Niyazman, G & Ibrahimi, S, Y. (2008), Afghan land dispute sparks ethnic tension (online),
availablehttp://www.isn.ethz.ch/isn/Current-Affairs/Security-Watch-Archive/Detail/?lng=en&id=92684 (Accessed: 25.10.2011).

(c) ketabton.com: The Digital Library

Geweldspiraal in Afghanistan

10 jaar na 11 september 2001

Fig. 1: WTC voor en na 11september 2001

Dr. Sayed Nasir Ahmad, Nederland.

Afghanistan is al meer dan 30 jaar door de oorlog verscheurd waarbij verschillende factoren een belangrijke rol hebben gespeeld. Afghanistan is eerst door communistisch Rusland, vervolgens door een burgeroorlog en daarna door allerlei extremisten vernield. Momenteel is Afghanistan door het optreden van de Westerse en plaatselijke machthebbers een arena van geopolitieke, religieus ideologische en economische strijd geworden. In de laatste 200 jaar heeft Afghanistan een strijd gevoerd ter bescherming van eigen land, cultuur, identiteit en menselijke waarden tegen allerlei indringers. Wij kunnen de verschillende oorlogssituaties zoals hieronder verdelen.

(c) ketabton.com: The Digital Library

I Het Grote spel (strijd tussen Groot Brittannië en Rusland).

- 1838-1842: Eerste Engels-Afghaanse oorlog;
- 1878-1880: Tweede Engels-Afghaanse oorlog;
- 1919: Derde Engels-Afghaanse oorlog; Afghanistan onafhankelijk.

II Koude Oorlog (strijd tussen USSR en USA).

- 1948-1950: Eerste Pakistaanse-Afghaanse crisis over Pashtunistan;
- 1955: Tweede Pakistaanse-Afghaanse crisis over Pashtunistan;
- 1958-1963: Derde Pakistaanse-Afghaanse crisis over Pashtunistan;
- 1973: Staatsgreep van Sardar Mohammad Dawud Khan ten voordeel van USSR;
- 1978: Staatsgreep van Communisten pro USSR;
- 1979-1989: Russische interventie en 10 jarige oorlog tussen Afghanen en Russen;
- 1989-1992: communistische regering met burgeroorlog.

III Het Nieuwe Grote Spel (strijd tussen USA, Islamlanden, EU en Shanghai-Groep).

- 1992-1996: Rebellen-regering met algehele burgeroorlog;
- 1996-2001: Taliban-regering met stabiele situatie in meer dan 95% territoria, maar wel met schending van mensenrechten en isolement van het land;
- 2001-2011: Decennium van Amerikaanse aanvallen op Afghanistan en escalatie van bedreiging van de wereldvrede en politiek.

